# د بشــــــــــري
# غبرگون پلان

جنوری ۲۰۱۸ - دسمبر ۲۰۲۱

۲۰۱۸-۲۰۲۱

دسمبر ۲۰۱۷



# افغانستان

تصویر: جم هایلیبروک

| ټولیز وګړي | اړ وګړي | په پلان کې شامل وګړي | اړتیاوې (دالر) | مرستندویه بشري اداري |
|---|---|---|---|---|
| ۳٤,۵ میلیون | ۳,۳ میلیون | ۲,۸ میلیون | ٤۳۰ میلیون | ۱۵۳ |



# د مطالبو لړلیک


د بشري چارو د ناظم له لوري پيلامه ........ ٠٤


## لومړې برخه: د هيواد ستراتيژي


د بشري غبرگون پلان ته لنډه کتنه ........ ٠٦
د ناورين ارزونه ........ ٠٩
ستراتيژيکې موخې ........ ١٠
د ځواب وينې ستراتيژي ........ ١٢
اړوند ځوب ........ ١٥
کاري وړتيا ........ ٢١
د غبرگون څارنه ........ ٢٣
د اړتياو لنډيز، موخې او غوښتنې ........ ٢٤


## دويمه برخه: د غبرگون کاري پلانونه


په بيړني حالت کې زدکړه (پوهنه) ........ ٢٦
بيړني سرپناه او غيري خوراکي توکي ........ ٢٨
د کرهنې او خوراکي توکو کلستر ........ ٣٠
روغتيا ........ ٣٢
تغذي ........ ٣٤
خونديتوب ........ ٣٦
اوبه او حفظ الصحه ........ ٣٨
د گڼو موخو لپاره د نغدو پيسو مرسته ........ ٤٠
د کډوالو څپرکی ........ ٤١


## دريمه برخه- ضميمې


يادښت ........ ٤٤
د سکتور له مخې گډونکونکې اداري ........ ٥٣
د پلان شميرې: د اړتيا وړ تخمين شوې مرستې ........ ٥٤
د پلان شميرې: هغه وگړي چې مرستې تر لاسه کوي ........ ٥٥
مخففونه ........ ٥٦
حوالې ........ ٥٧
که چيرې..... په سکتور کې ځواب وينه ونشو کړلې، نو؟ ........ ٥٨
د مرستو د ورکړې لارښود ........ ٥٩

دبشرۍ چارو

# د ناظم پیغام

کابل، ۱ دیسامبر ۲۰۱۷

کله چې زه په مارچ ۲۰۱۷ کال کې کابل ته راغلم، یو داسې هیواد سره اشنا شوم چې پېژندنه یې د مختلفو روایاتو پر بنسټ شوې وه. له یوه پلوه افغانستان د خپل تاریخ تر ټولو لوړ شمیر کور نې پېځایه شویو له کړاو سره مخ وو او په لوړ شمیر ملکی مرګه ژوبله پکې را منځته شوې وه. او له بلې خوا مې داسې هیواد وموند چې له یو میلیون څخه ډیر وګړي یې تازه هیواد ته راستانه شوي و، دا په داسې حال کې وه چې اقتصاد یې دکلونو وروسته د لومړي ځل لپاره د پرمختګ پر لور روان وه، د فن سالارۍ (یو ډول حکومت چې واګې یې د تخنیک پوهانو په لاس کې وې) حکومتدارۍ چې تمرکز یې د هیواد د پرمختګ لپاره په پرمختیایی اجنډاوو ولاړ وو.

په ۲۰۱۷ کال کې جګړې ۳٦۰،۰۰۰ افغان وګړي له خپلو استوګنځایونو څخه وتلو ته اړ کړل. یو اتیا سلنه وګړي د خوراکی توکو له شدید کمښت سره مخ و، ۲٦ سلنه وګړی د څښاک د ناکافی اوبو څخه سرټکاوو، او ۲۴ سلنه وګړي د ګڼې ګوڼې به استوګن ځایونو کې میشت وو. د ۲۰۱۷ کال په څلورمه ربع کې، وسلوالې نښتې زیاتې شوې او هوایي بریدونه د تیر کال په پرتله ٥٦ سلنه زباتوالی وموند. پداسی حال کی چه تقربیا ټول جنګیالی نارینه وو خو ښځو او ماشومانو د قربانیانو په درېو کې دو یمه برخه جوړوله . ډیرځلې په جګړه کې ښکیلو خواوو د جنګیالویو او ملکي وګړو تر منځ دتوپیر ورټیا نه در لوده. په حقیقت کی جګړې ملکي وګړو ته لوی تاوان رسولی: هره ورځ شاوخوا ۱۰۰ ملکي وګړي وژل شوي پداسې حال کې چې د ترضیضاتو پیښې په میاشت کې ٦۷۰۰ ته رسیدلې، او ډیرې یې د ژوندانه له بدلیدونکي معلولیت سره مخ کړي دي

۲۰۱۷ کال افغانستان ته د بیرته را ستنیدونکو خلکو دشمیر د چټک کمښت شاهد وو، چې په نتیجه کی یې ۵۰۰،۰۰۰ تنه بیرته راستیدونکو د خپل ژوندانه او معیشت بیرته جوړول پیل کړل. د بیرته راستنیدونکیو شمیر په لوړه کچه د افغانانو د تود هرکلي سره چې دوی ته په ایران او پاکستان کې برابریده، تړوا درلود، او د ملګرو ملتونو( UN ) او غیر دولتی موسساتو(NGO) ) همکاران په کابل، اسلام آباد او تهران کی په چټکه توګه ددی مشکل لپاره سره په اړیکه کی و . خپل هیواد ته د خلکو راستنیدل او یا نه راستنیدل په کاري فرصتو او امنیت پورې تړاو لاره. د راستنیدونکو په زرهاوو کورنیوسره یواځینی لاره دا وه تر څو دو ی د افغانستان د ښارونو په لرې پرتو سیمو کی غیر رسمی اوله معیاریه ټیټه استوګنه خپله کړی. په دغو غیر رسمی استوګنځایو نو کې د دوی د ژوند شرایط دغیر معیاري او آن بدتر وو ، او حکومت او پرمختیایي همکارانو باید په شریکه ډیر څه کړي وای.

تل پاتې سوله لاهم د ټولو هغو افغانانو سره هیله ده چې ما ورسره لیده کاته کړي، چه ممکن په ۲۰۱۸ کال کې لا هم ناخرګنده پاتې شي. د جنګ په ښکیلو خواوو فشارونه ممکن دوی دخبرو کولو په موخه په قطعي توګه یو بل ته نژدې نه شي کړلای. په ورته وخت کې تمه کیږي چې د پارلماني او د ۲۰۱۹ کال د ولسمشري ټاکنو له امله سیاسي سیالي زیاتې شي

د ۲۰۱۷ کال د بشري غبرګون په پلان کې ۹،۳ ملیونه اړخلک په نظر کې نیولې وو . دحیرانتیا خبره داوه چې دا ډیروالی له دې کبله نه وو چې په کلې کې دې د یوې میاشت په اوږدوکې جګړه و ي او یا دې کومه نا څاپه طبیعي پیښه رامنځته شوې وي د دغو خلکو په درېو کې دوه برخې هغه څوک و و چه د کلونو راهیسې د نا امني او نیستۍ ( فقر) ښکار وو. د ۲۰۱۸ کال لپاره ، ملګرملتونو او غیر دولتی موسساتو د اړتیاوو په تعریف کې اصلاحي بدلون راوست، او پر دې سره سلا شول چې د بشري همغږۍ تر چتر لاندې له هغو خلکو سره مرسته وکړي چې له ورستیو جګړو څخه ژغورل شو ي او دا مهال هم په خوځښت کې دي او یا د طبیعي پیښو له امله زیامن شوي دي. پدې توګه داسې اټکل کیږی چې په ۲۰۱۸ کال کې به د جګړو له امله د اغیزمنو ۲.۲ میلیونو وګړو په ګډون، ۳.۳ میلیونه خلک بشري مرستو ته اړتیا ولري، له دې سره سره به ۸.۷ میلیونه وګړي د مزمنو ستونزو لکه دوامداره نا امني، نیستي (فقر) او یا هم د اقلیمي بدلونونو له کبله بشري مرستو ته اړتیا ولري. دا اړتیاوې باید د پراختیا، یعنې د افغانستان د سولې او پراختیا کاري چوکاټ له خوا تمویل شي، له کوم سره چې د بسپنه ورکونکو لخواتر ۲۰۲۱ کال پورې د ۳.۸ میلیارده ډالرو کلنۍ ژمنې شوي دي اوهمدا رنګه یې د ملګرو ملتونو د ون یو این- ون پرورګرام (One UN – One Programme: ۲۰۱۸ – ۲۰۲۱) لخوا هم ملاتړ وشی.

د افغانستان لپاره د څو کلن بشری غبرګون پلان جوړیدل، چې دافغانستان لپاره د خپل ډول لومړنی پلان دی، ددی ښکارندویی کوي چې د پام وړ پرمختیایي همکارۍ او پرمختګ سره په ځنګ کې به د بشري پروګرام جوړونه دلته تر یو څه وخته پورې اړینه وي . په ورته وخت کې د افغانستان په دننه او بهر کې د بشري مرستو او پرمختیا دیو بل سره د نښلولو په موخه خبري اترې تر سره شوي دي؛ او حل یې دا دی چې باید سر ته ورسول شي. په دې اړه، زه د موسساتو او ملګرو ملتونو بشري فورم ته د کلیدي بسپنه ورکونکو او نړیوال بانک را ګډیدو

ته ښه راغلاست وایم. له افغان چارواکو ، په ځانګړي ډول د کرنې ، پوهنې او روغتیا په برخه له بوختو چارواکو سره نږدې اړیکه به زمونږ د نوي کاري کړنلارې ځانګړتیا وي . سربیره پر دې هر ځای چې مرستندویه موسسات خلکو ته نغدي پیسې ورکوي موخه یې داوې تر څودوی وکولای شي ددې پیسو پر مټ د ناڅاپه بې ځای کیدنه او یا هم کور ته د بیرته ستنیدو په مهال خپلې اړتیاوې پوره کړي ، دغه کار به د حکومت د ټولنیز خوندیتوب هڅو ته زمینه برابره کړي .

دغه پلان د مختلفو موسساتو نسبي ګټې بیانوي او د موسساتو د ریښتینې ارزونې د وړتیاښکارندویي کوي؛ او د نړیوالې بشردوتسانه سرمشرزې او ګرانډ بارګین په رڼا کې، مونږ ژمن یو چې خپلې غوښتنې د شواهدو او مرستې رسولو د وړتیا پر پنسټ وي. برسېره پر دې، د ۲۰۱۸ په اوږدو کې موږ اراده نه لرو چې د ټولو ۳.۳ میلیونو خلکو د بشري مرستو ته اړتیاوې پوره کړو. دلته مسولیت شوتن لري چې حکومت تیار دی دغه مسولیت په افغانستان کې ومني. لکه څرنګه چې، موسسات او د ملګرو ملتونو اداري په نظر کې لري چې په هغو سیمو کې چې رسیدل ورته ګران دي او په ځانګړي ډول چیرې چې حکومت ممکن شتون و نه لري یا هم نه شي کولای چې کار اوکړي ، هلته د بشریت ،بې پریتوب او بې تعصبي د اصولو پر بنسټ له ۲.۸ میلونه وګړو سره مرسته اوکړي. بیړنیو مرستو پر ویش سربیره، چې د کړاونو یا ستونزو د د کمولو په موخه ترسر کیږي، مرستندویه موسسات یا ادارات به د بشري حقونو لپاره د عالي کمیشنر دفتر او د ملکي وګړو د ساتنې لپاره د هغې بشپړ کار ، سره په شریکه هر هغه څه چې کولای شي ترسره کړي، چې د ضرر یا زیان د رامنځته کیدو مخه دب کړي، تر دڅو خلکو یا وګړو حقونه څخه لا زیات ملاتړ اوکړي.

په مجموع کې، نادولتی موسسې او د ملګرو ملتونو اداري چې کوم هدف په لومړیو دولسو میاشتو کې د ترلاسه کول کوښښ کوي رښتینې بڼه لري. مسؤلانه ده او د تر لاسه کولو وړ دی. د ۲۰۱۸ جریان کې به مونږ پلان منظم او څارو او د اړتیاپر بنسټ به پکې بدلون راوړو. د بیلګې په ډول، که چیرې د راستنیدونکو په شمیر کې ناڅاپي زیاتوالی راشي، مونږ به په مالي غوښتنو باندې له سره غور وکو. د دې ددې برعکس هم کیدای شي : که چیرې د کوم دلیل په اساس هغه څه چې مونږ یې وړادوینه کړې ،وګړي لږې مرستي ته اړتیا پیدا کړي، مونږ به بسپنه ورکونکي ټولنې ته خبر ورکړو چې د بشري مرستو لپاره لږو سرچینو ته اړتیا ده. زه باور لرم د اقتصاد له پلوه پیاوړي هیوادونه به زمونږ سره مرسته وکړي ترڅو د اړو افغانانو اړتیاوې به خپل وخت پوره کړای شو. په دغه اړه، زه په نړیوالې بسپنه ورکونکې ټولنې باندې غږ کوم چې موسساتو او ملګرو ملتونو ته ۴۳۰ ملیونه ډالر چمتو کړي ترڅو غوره بشري مرستې او د ساتنې هڅې چې دوی ورته په ۲۰۱۸ کال کې اړتیا لري ،په خپل وخت برابرې کړو،.

په پای کې، لکه څنګه چې موږ په ډلیزه توګه د دې په لټه کې یو چې د جګړې ناوړه اغیزې افغانستان په ډیرو زیامنې ټولنې باندې را کمې کړو. زه غواړم د ټولو سره کار وکړم چې دا ډاډ ترلاسه کړم چې اړو وګړو ته بشري مرستې ی ورسیږي او اوږد مهاله فعالیتونه بشپړشي چې له خلکو سره د پرمختګ او سوکالۍپه وړتیا کې مرسته کوي.



امضا مو پریږدئ

توبې لینزر

شخړو ته

# بیا کتنه

لکه څرنګه چي جګړې  د هیواد ډیرې برخې تر اغیز لاندې راوستي،دا مهال  ۳.۳ میلیونه وګړي بشري مرستو  ته اړتیا لري. راتلونکی کال کیدای شي د کنترول لپاره دوامداره یا زیاتي سیالۍ وګورۍ ، ځکه چي د پارلماني او د ۲۰۱۹ کال  د ولسمشري ټاکنو له امله به  سیاسي سیالي زیاتي شي.

**وسلواله جګړه**

افغانستان اوس هم له ستر بشري، ټولنیز او سیاسي ننګونو سره مخ دی.  په ۲۰۱۷ کال کې، ۳٦۰۰۰۰ وګړي د جګړې  له کبله له کورونو څخه بې ځایه  شوي او ۸۰۱۹ ملکي وګړته مرګ ژوبله اوښتې، چې دوه په دریمه برخه یي ښځې او ماشومان جوړوې. دتوکمیز تاوتریخوالي په ګډون په شخړو کې د شدت له امله د جګړو په دواړو اړخونو کې خورا زیات جنګیالي ژوبل شوي . د ۲۰۱۷ کال جنورۍ او د سپټمبر میاشتو تر منځ  دروغتیایي فعالانو لخوا  دترضیضاتو له  ٦۹۰۰۰ څخه د زیاتو  پېښو راپور ورکړی چې د ۲۰۱٦ کال  د ورته وخت پرپرتله ۲۱ سلنه زیاتوالی  ښيي. نړیوال بشري  قوانین تر پښو لاندې شوي ، په مرستندویه کارکونکو ، روغتیایي اسانتیاوو اود ښونځیو په ګدون په ملکي وګړو او ملکي  تاسیساتو د قصدي بریدونو راپور ورکړل شوی ، همدارنګه دوامداره بې توپیره او ډیر نا متناسب تکتیکونو ، لکه ځانمرګي بریدونه  او د ځای پرځای شویو  فشاري چاودیدونکو توکو ( PPIEDs ) د کارولو راپورونه په واروار ر ورکول شو ي دي .  د ځمکنیو جګړو او هوایي بریدونو په نتیجه کې د ملکي مرګ ژوبلې زیاتوالی په ملکي سیمو کې د چاودیدونکو وسلو د غیر مستقیم او بې توپیره کارولو په اړه اندیښنې را پورته کوي او په نظامي عملیاتو کې



### د جګړې له امله بې ځایه کیدنې

| | جنورۍ - اکتوبر ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ کال وړاندوینه |
|---|---|---|
| | ۳٦۰۰۰۰ | ٤٥۰۰۰۰* |

### د طبیعي پېښو له امله اغیزمن وګړي

| | در اکتوبر ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ کال وړاندوینه |
|---|---|---|
| | ٥۱۰۰۰ | ۲۳۰۰۰۰ |

### د ناورین بیلابیل مهالونه




### اغیزمن راستنیدونکي

| | جنورۍ - اکتوبر ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ کال وړاندوینه |
|---|---|---|
| | ٤۸۹۰۰۰** | ٥۰۰۰۰۰*** |

### کډوال راستنیدونکي

| | جنورۍ - اکتوبر ۲۰۱۷ | د ۲۰۱۸ کال وړاندوینه |
|---|---|---|
| | ٥۷۰۰۰ | ۲۰۰۰۰۰ |

**اکتوبر ۲۰۱۷**

د سره صلیب پر کارکونکو د درېو امنیتي بریدونو په ترس کې دغې اداري خپل شتون په شمالي سیمه کې را کم کړی دی.

**اګست ۲۰۱۷**

ملګري ملتونه داسې انګیري چې افغانستان له جګړې نه تیر شوي حالت کې نور نه دی، بلکې یو داسې هیواد دی چې اوسمهال هم په جګړه کې دی.

**جولای ۲۰۱۷**

په لغمان ولایت کې د نا مسوله وسلوالو ډلو (NSAGs) له لوري ۴۰ روغتیایي مرکزونه تړل شوي دي. چې په پایله کې یې ۵۰۰،۰۰۰ وګړي له اړینو چوپړتیاوو څخه محرومه شوي دي.

*نوې بې ځایه کیدنه او کوم وګړي چې د ٦ څخه تر ۲۴ میشاتو پورې بې ځایه شوي دي شامل دي.
**۹٥،۰۰۰ وګړي له پاکستان څخه او ۳۹۴،۰۰۰ له ایران څخه
***۱۰۰،۰۰۰ له پاکستان څخه دي او ۴۰۰،۰۰۰ له ایران څخه  چې ۲۰ سلنه (۸۰،۰۰۰) وګړي یې اغیزمنونکي ګڼل شوي دي.

د ملکي خلکو د خوندیتوب په خاطر د ښکیلو غاړو د احتیاطی تدابیرو ناکامي څرګنده وي . پر افغانانو د جګړو اغیزې خورا زیاتې دي، ځکه چې دوی د شخړو، مصؤنیت او معیشت د خطر سره د مقابلې کولو په موخه خپل خوځښت ته دوام ورکوي . د خوندیتوب د یوې پلټنې په پایله کې دا ښکاره شوې چې ۹۳ سلنه افغان وګړي په ۲۰۱۷ کال کې له خپلو کورونو څخه تیښتې ته اړ شوي دي چې د ۲۰۱۲ کال په پرتله یې ۱۷ سلنه زیاتوالی موندلی.

### په کور د ننه او د پولې له بلې غاړې څخه د وګړو خوځښتونه

په دوامداره توګه بې ځای کیدنې د هیواد د لویو برخو پر نفوسي جوړښت اغیزه کړې. په ځینو ځایونو کې په ځانګړي ډول چیري چې د خراسان اسلامی دولت (ISK ) شتون لري خلکو پر خپل ځان دا منلې چې مخکې له دې چې ځای پریښودلو ته اړ شي په خپله ځای پریږدي. ددې برعکس، نورو سیمو په تیره بیا ولایتي مرکزونو لکه دجلال اباد شاوخوا چټک وده کړې ده. نن ورځ یومیلیون بېځایه شوي خلک په ننګرهار کی په غیر رسمی سیمو یا استوګنځایونوکې ژوندکوي چی ۷ میاشتې د مخه دا شمیره ۴۲۹۰۰۰ وه له دې جملې څخه ٦٤سلنه وګړي د ۱۸ کلونوڅخه کم عمرلري اوپه راتلونکوکلونوکې به دکاراومعیشت فرصتونوته اړتیاولري. په ټول افغانستان کې ولایتي مرکزونه اوس مهال دبېځایه شویو۵۴ سلنه کوربه توبک وي ، چې پرخدماتواوزیربناوو، چې لا له وړاندې تر فشار لاندې دي نور فشار هم راوړي او د کوربه او میلمه ټولنو تر مینځ د سرچینو پر سر سیالي زیاته وي.

په۲۰۱۷کې دپاکستان څخه دراستنیدونکوپه شمیره کې دپام وړکمښت لیدل شوی چې۱۵۱۰۰۰یې د کال په لومړی لسو میاشتو کې را ستانه شوي چې د ۲۰۱٦ کال د ۵۲۵۰۰۰ راستندونکو په پرتله ۷۱ سلنه کموالی ښیي. دغه جریان په دوه اړخیزو اړیکو او کورني سیاسي خوځښتونو پورې تړلی دی. سربیره پردې ، د ټولنې د دواړو ګروپونو محدود ظرفیت ، چې بیرته خپل کور ته یا اصلي ټاټوبو ته ورستانه شي ، په زرګونو داخلي بې ځایه شویو او بیرته راستنیدونکي کورنیو بې له دې چې په لوړه شمیر زیاتیدونکو غیر رسمي استوګنځایو نو کې ژوند غوره کړي بله لاره نه درلوده، د کوم له امله چې اوس د






## رواني جګړې هیواد نور هم د تیکاو له نشتون سره مخ کړی

**می ۲۰۱۷**

یوې موټر بمب چاودنې د کابل ډیپلوماټیک سیمه چې هیڅکله هم یو داسې پیښه په کې نه وه ترسره شوي موخه وګرځوله چې په پایله کې یې ۱۵۰ تنه مړه او ۴۰۰ تنه ټپیان شول.

**فیبروری ۲۰۱۷**

داسلام قلعه پوله د سیلابونه دراتګ له کبله تړل شوي ده، چې له امله یې ډیری ستنیدنې د (میلک-Milak ) له لارې له ایران څخه ترسره کیږي. دپنځور میاشتو په ترس کې ۱۹۵،۰۰۰ وګړي را ستانه شوي چې له امله یې په نیمروز ولایت کې دغبرګون ظرفیت پیاوړی شوی دی.

**اکتوبر ۲۰۱۷**

په کندز باندې برید ۱۱۸،۰۰۰ تنه بېځایه کړل او ځینې دولتي جوړښتونه د غیرې دولتي وسلوالو ډلو په واک کې پریوتل، چې دغه برید یو کال وروسته د لومړې برید څخه چې کندز د غیرې دولتي وسلوالو په لاس کې پریوتې وه، را منځ ته شو.

**جولای ۲۰۱۷**

په پاکستان کې د خوندیتوب د وضعیت د خرابیدو وروسته د افغان کډوالو په راستنیدنو کې جدي ډیروالې چې د کال په څلورمه ربع کې هره ورځ نږدې ٦،۰۰۰ تنه هیواد ته راستنیدل.

افغانستان د ښارنو لرې پرتې لمنې گڼ میشته شوې دي. د دغو غیر رسمي استوگنو شرایطوته باید په چټکه توگه پاملرنه وشي. په دغواستوگنځایونوکې۸۱ سلنه نفوس د خوړوله شدید کمښت سره مخ دي ،۲٦سلنه یې دڅښاک کافي اوبه نلري ، او۲۴سلنه یې د کورنۍ گڼ غړي لري.

په ۲۰۱۷ کال کې له ایران څخه ۳۹۴۰۰۰بې اسناده
راستنیدونکي د ځانگړې اندیښنې وړ دی . دپاکستان څخه
دبې اسنادو بیرته راستنیدونکي په نسبت، له ایران څخه
راستنیدنوکې د اړتیاوو په زرونو ځانگړې قضیې لري، لکه –بې

محرمه ښځې، بی سرپرست مهاجرماشومان، بیړنۍ روغتایي قضیې اوپه لوړه شیمره راشړل شوي . د راستنیدنکو له ۲۰ څخه تر ۳۰ سلنه بشري مرستو ته اړتیا لري خو یوازې له ۵ څخه تر۷ سلنه یې بشري مرستې ترلاسه کړې دي.

بشري غبرګون پلان

# ځغلنده کتنه

## کاري یا عملیاتي شتون: د همکارانو د شمیر کتنه

۱۵۳




## لومړۍ اوږدمهاله موخه

په لوړه ارتیا لرونکو سیمو کې ژوند ژغورل

## دیمه اوږدمهاله موخه

د تاوتریخوالي خوندیتوب را کموي او نړیوال بشري قوانینوته درناوی ډیره وي.

## دریمه اوږدمهاله موخه

کوم وګړي چې د ناورینونو له کبله اغیزمن شي پر خپل وخت به مرستې تر لاسه کړي.



## هغه وګړي چې بشري مرستې به تر لاسه کړي

۲,۸ میلیون




## دجګړې له کبله بې ځایه شوي وګړي

۰,٤ میلیون



## په جګړه اغیزمن شوي وګړي

۱,۵ میلیون



## په طبیعي پیښو کې اغیزمن شوي وګړي

۰,۲ میلیون



## راستنیدونکي

۰,٤ میلیون



## اړ وګړي

۳,۳ میلیون

## مرستو ته اړ وګړي

۲,۸ میلیون

## پوره اړتیاوې/غوښتنې (په امریکایي ډالرو)

٤۳۰ میلیون

کوم ارقام چې په دغه HRP کې ویل شوي دي یوازې د (۲۰۱۸) لپاره دي، چې دغه ارقام به دکال پر بنسټ د پراخو اړتیاوو پیژندلو پروسې ځخه په تیریدنه نوي شي.

ستراتيژيکي

# موخې

دشخړې دسياسي حل د نشتوالي په صورت کې ممکن جګړه په ۲۰۱۸ کې دواموومي . دا لاروښانه نده چې د خلکو په تګ راتګ په څه ډول اغيزه وکړي ، که څه هم د نويو نظامی قواوو راتګ ( دواړه سرتيري اووسايل) چې د متحده ايالاتو د سويلي آسيا له پاليسي سره تړاو لري او راتګ يې لا ترمخه پيل شوی دی او د ۲۰۱۸کال پارلمانی ټاکنې د شخړو د زياتوالي ممکنه لاملونه کيدای سي . پداسې حالت کې به دافغانستان خلک بيادجګړې قرباني ورکړي.

## ۱ په هغوسيمو کې چې دا ړتياوو کچه يکې لوړه وي هلته به دژوند ژغورنې هڅې وکړي

د شخړو زياتوالی په افغانستان کې د زياتو خلکو د تېڼې کيدو لامل کيږي. د راتلونکو څلورو کلونو په جريان کې به د مرستندويه ادارو لومړنۍ موخه دا وي چې ژوند ژغورنې په برخه کې اغيزناکه او ګټورې مرستې په بيړه ترسره کړي.

## ۲ د مصؤنيت اړوند پيښوڅخه سرغړونه کم کړي او د نړيوال بشر دوستانه قانون درناوي ته وده ورکړي .

ټولې هڅې به د مصؤنيت د خطرونو مخنيوی او کمولو لپاره تر سره شي ، او د خوندي چاپيريال د رامينځ ته کولو له لارې به د خونديتوب اړتياوو ته ځواب وويل شي، په کوم کې چې به نړيوال بشردوستانه قانون او د نړيوالو بشري حقونو قوانين او مرستې وده وکړي او ټولو اړو وګړو ته په سمه او وقار سره مرستې چمتو شوي .

## ۳ هغه وګړي چې په ناڅاپي ډول کړکيچونو سره مخ کيږي د اړتيا سره سم په خپل وخت به مرستې تر لاسه کړي

بشري فعالان په بيړنيو حالتونو کې د ډلئيز چمتوالي د پانګونې له لارې د غبرګون د ښه والي لپاره ژمن دي . په دې کې د تشو په ګوته کول او ورسته له هغه يې ډکول يا له منځه وړل، د نفوسو د خوځښت د لاملونو په اړه د معلوماتو راټولو دکچې لوړول اود شواهدو اساساتو ته وده ورکول چې د کوم بر بنسټ بشری اړتياوې تحليل شوي.

دا ستراتيژيکې موخې په مستقيم ډول د ناورينونو څخه اغيزمنو خلکو ته د ژوند ژغورنې مرستو پرچمتو کولواو هغو بدلنونو باندې تمر کز کوي چې چې دي مرستوله امله دډوي په ژوندکې راځي . دا مرستې به ډوی ته په بيړه د بې پريتوب او بې طرفي د اصولو سره سم وسپارل شي، بې له دې چې د دوی حيثيت يا سياسي کنټرول په نظر کې ونيول شي . د ې پلان له مخې به يوازي هغه وګړي د مرستو لپاره په نظر کې نيول کيږی چې د ځانګړو ناورينونو له کبله ډيرې سختې اړتياوې لري. دا يو حقيقت د چې خلک له اوږدې مودې راهيسې په غربت کې ژوند کوي، اړينو خدماتو ته محدود لاسرسی لري ، ولې دوی به دا ځل د تير کال په شان د بشري ادراو لخوا د مرستو لپاره په نظر کې نه نيول کيږي. د پرمختيايي فعالينو، د افغانستان دولت او بسپنه ورکوونکو څخه د زياتو پانګونې لپاره اقدامات شوي دي ترڅو د زيان منې د اصلي لاملونو په نښه کولو لپاره دوامداره کړنې او پايښت حل لارې وړاندې کړي. د ټولنو د مقاومت د وړتيا لوړلو، د پيښو د اثر او خطر کمولو او د دولت په مشرۍ د چمتوالي او غبرګون د پلانونو بډاينې له لارې به په بشري مرستو د خلکو د اوږمهاله تيکه کولو مخه ونيول شي.

غبرګون

# ستراتیژي

د ۲۰۱۸ - ۲۰۲۱ بشري غبرګون پلان په هغو سیمو کې د ژوند ژغورنې کړنو ته لومړیتوب ورکوي چرته چې اړتیاوې زیاتې دي او شخړې ډیرې شدیدې دي. دا هڅې د حادو بشري اړتیاوو چې د ناڅاپه پېښو او اړد مهاله بشري اړتیاوو، چې د کلونو پسماندګي او بې وزلۍ له امله منځته راځي، تر منځ ښه توپیر کوي د د پرمختیا لپاره د ون یو این ون پلان ، افغان حکومت او پرمختیایي همکارانو ته اجازه ورکوي ترڅو هغه خلک په ښه توګه په نښه کړي د چا د پاره چې د دوامدار حل لارې ډیرې وړ دي.

**د افغنستنان لپارولې د غبرګون څو کلن پلان ؟**

په افغانستان کې نړیواله ټولنه د جګړې او طبیعي پیښو له اغیز من وګړو ته کلونو را هیسې بشري مرستې د رسوي،او ملیونونو وګړو ته ژوند اړینه وسیله چمتو کوي. کورني بیځایه شویو د اقلیم د ناورین څخه اغیزمنو وګړو او له ۲۰۱۴ کال راپدیخوا له پاکستان څخه راستنیدونکو ته د خوراکي، غیر خوراکي او بیړني سرپناه د توکو، نغدو پیسو او مصؤنیت مرستې رسول شوي دي توکي . چې پدې سره د ناورغی او مړینې په برخه کې کموالی راغلی، د مخنوی وړ مرګ ژوبله محدوده شوې، او همدارنګه یې بهر ته نوره بې ځایه کیدنې کمه کړې ده. . په ورته وخت کې بشري مرستې هغو وګړو ته غځول شوې د دوامداره پرمختیایي چلنجونو او بشري خدماتو ته د محدود لاسرسي له امله اغیزمن شوي،. په داسې حال کې دې مرستو د پرمختیایي شاخصونو د لازیاتو خرابیدو مخه نیولې، کوم چې لا له وړاندې د نړۍ په کچه تر خرابو د کټګورۍ په مینځ کې راځي، ولې په دې نه دی توانیدلی چې اصلي لاملونه کوم چې له دغه سره تړلي دي، له منځه یوسي، لکه پس پاته روغتیایي نظام ، چې په نتیجه کې یې پر بشري مرستو له حده زیات تکیه کول یې رامنځته کړي دي.

د بسپنه ورکونوکو د هغې ژمنې په رڼا کې چې افغانستان ته به تر ۲۰۲۱ کاله پورې به هر کال ۳،۸ میلیارده ډالر چمتو کوي، د One UN – One Programme د ځرګندونو په تعقیب چې ملګرو ملتونو د مرستو پرمختیایي کار چوکاټ (UNDAF) ځای به ونیسي، ، پر ځای راځي، موخه دا ده چې پرمختیایي همکاران به د افغانانو د یوې لویې برخې د اوږدې مودې اړتیاوې حل کړي، داسې، پداسې حال کې چې بشري فعالین به د جګړې او طبیعی پیښو څخه په اغیزمنو سیمو کې دژوند ژغورنې ته لومړیتوب ته ورکړي چیرې چې دولت او دولتي تمویل شوې اداري نشي کولای یا نه غواړي چې غبرګون وښیي

.

**لید لوری او لومړیتوبونه**

۲۰۲۱-۲۰۱۸ څو کلنیز پلان ته د تګ پریکړه د دې ملاتړ کوي چې په افغانستان کې حادې او اوږدمهاله اړتیاوې په یوځای کې شتون لري، او د تاوترخوالي د بد تریدو په شرایطو کې ، چیري چې د دولت د تمویل لپاره د پام وړ پرمختیایي مرستې ژمنه شوې ده ، بشري مرستې باید د ژوند ژغورنې او د جګړې له کبله د را منځته کیدونکو اغیزو په کمولو ، متمرکزه پاتې شي. د ۲۰۰۷ کال را په دیخوا کله چې راپور ورکونه پیل شوه ؤ ، کال په کال په مسلحه شخړو کې زیاتوالی د امنیتي پیښو سبب شوی کوم چې به ۲۰۱۷ کال کې تر ټولو لوړې وې ،. دولت اوسمهال پر ۵۷ سلنه ساحه بشپړ کنټرول لري چیرې چې ملکي وګړې ژوند کوي ې، په داسې حال کې چې په مشرقي زون کې د افغان امنیتي او دفاعي او ایتلافي ځواکونو دخراسان اسلامي نومې ډلې ته د ماتې ورکولو په موخه ګړندی کمپاین د دې لامل شوي چې د تیر کال پرپرتله د کورني بیځایه شویو په شمیر کې ۲۰۰ سلنه زیاتوالی راشي . د نویو فعالانو په راتګ سره چې د حکومت تر مشرۍ لاندې د لومړني بنسټیزو خدمتونو د وړاندېکونکو ادارو ملاتړ کوي ، ، او لکه څنګه چې شریکان دا مني چې د خدمتونو وړاندې کولو لپاره روان بودیجوي مالتړ د دوی د ظرفیت اومسؤلیته څخه بهر دی لکه ، نو دداسې یوې ستراتیژي جوړول هم ممکن دي او هم اړین چې په هغه کې ژوند ژغورنې ته چې د تاوتریخوالي له امله منځته راځي لومړیتوب ورکړي.

د غبرګون دغه څو کلن پلان د هغو پلان شویو انګیرنو دلړۍ پر بنسټ دی چې موږ باور لرو په راتلونکونور څلور کلونه به دوام ومومي. په هرصورت،د پلان جامد ندی او د اړتیا په صورت کې پرې بیاکتنه کیدای شي .د دغه بیاکتنې لاملونه په لاندې ډول دي :

- که امنیتي شرایط نور خرابیږي چې د نویو بیځایه شویو شمیره دلومړنۍ اټکل شوي ۳۰۰۰۰ شمیرې څخه زیاته واوړي. .
- د پاکستان په اوسني سیاسي وضعیت کې داسې بدلون راشي چې په لومړ شمیر افغانان وتلو ته اړ ایستل شي.
- د سترو طبیعي پیښو د رامنځته کیدل لکه د پام وړ زلزله او یا هم وچکالي؛
- د پرمختیایی همکارانو لخوا په هغو ژمنو کې پاته راتلل چې یا یې د

د بروکسل په کنفرانس کې کړې وې او یا یې هم د نوي One UN – One Programme پروګرام له لارې کړې وې

- د شخړو په نتیجه کې د عامه تا سیساتو د فعالیت کمیدل او یا په ټپه ودریدل چې افغانانو د اړینو خدماتو د وړاندې کولو جوګه نه وي. .

په دغه اړوند، دا به اړینه وي چې وګورو پاکستان د سرحدونو وزار ت او د ملي ډیټا بیس اداره د ثبت د نوي پروسې له لارې د افغانانو پاتې کیدل به دغه هیواد کې څنګه معیاري کوي ، نظر د پاته کیدو اوسني موقتي انتخاب ته چې دوی ته د ؛افغان وګړي کارد؛ له طریقه ورکړل شوی . د نومبر تر نمایۍ ۲۰۱۷ کال، د اټکل په توګه ۴۱۲۰۰۰ (افغان وګړي کارد) تر لاسه کولو لپاره غوښتنه کړې ده، بر عکس د PoR (د ثبت د ثبوت کارت) چې اخیستونکې ته یې په رسمي توګه په پاکستان کې د پاتې کیدلو او یا هم د اړتیا اړوند خدمات ته د لاسرسي حق نه ورکوي،. د ۲۰۱۸ کال د بشري غبرګون په پلان کې ، له پاکستان څخه د راستنیدنکو شامل شوې اتکلیزه شمیره ، د تاریخي اوسطونه پر بنسټ ده. . که چیرې د ثبت پروسه بې اسناده افغان وګړو ته د فزیکي هویت د تصدیق کارتونه IDsچمتنو کړي، دا به منطقي وي چې ووایو چې په ۲۰۱۸ کال کې افغانستان ته له پاکستان څخه د راستنیدونکو لړۍ ممکن با ثبات شي، د رسیدو ورسته مرستو د تر لاسه کولو په به د افغان راستنیدونکو اړتیاوې ب د ملګرو یا همکارانو د ګن سکټورې د ستراتیژۍ د همغږۍ څخه په کار اخیستنه، په غوره توګه پوره کړل شي پر ځآی ددې چې د مرستو د بیا ځلې کڅوړو په ورکولو سره د لنډ وخت ملاتړ وشي.

پداسې حال کې چې دا ستراتیژي په راتلونکو څلورو کلونو کې د بشر دوستانه عمل لپاره پراخه چوکاټ چمتو کوي ،د بشر دوستانه اړتیاو کلنۍ کتنه به د غبرګون لپاره شواهدو چمتو کولو ته دوام ورکړي، ترڅو د هیواد په کچه د کلیدي بشري مسایل او د اړتیاوو شدت منعکس کړي. داسې اټکل کیږي چې د دغو اړتیاوو اندازه به د سیاسي او امنیتي وضعیت د ثبات پورې تړلې وي خو شخړې، طبیعي پیښې ، د پولې له بلې غاړې د راستنیدنکو څپې او د اړتیا وو ځرنګوالی چې خلکو په منځ کې شتون لري ، به اساسي لاملونه وي ، په دې معنی چې د بشري غبرګون پلان دا مني چې په افغانستان کې بشردوستانه عملیات نوي نه دي، په کوم کې چې ګواښونه نامعلوم یا د اټکل وړ نه وي ، بلکه اوس هلته ناورین په پراخه وضعیت کې ده چې د بشري او پرمختیایي موخو د تعقیب په موخه ډیر فعالان لکه د ګاډي د پټلې په څیر کې په موازي توګه سره یو ځای کیږي تر څو هیواد پر مخ بوزي ی چې ګڼ شمیر فعالان په لکه .

خو کلن پلان جوړول

خو کلن پلان به هر کال یا پر کلني اساس نوی شي تر څو نوي مالي اړتیاوې، موخې او فعالیتونه څرګند کړي. د پلان جوړونې کلنۍ مرحله به داهم یقیني کړي چې ستراتیژي د بدلون وړ ده تر څو د پام وړ بدلونو په نظر کې ونیسي . څارنه او شننه به د دورې پر بنسټ د هغو پایلو پر وړاندې چې په دغه ستراتژۍ کې پژندل شوې دوام پیدا کړي. پرمختیایي لاګ فریم - د افغانستان د بشري غبرګون به پلان کې به لومړي ځل کاره ول شوی دی- دا به وکړی شي چې د بشر دوستانه فعالیت چې د خلکو پر ژوند کې چې کوم توپیر راولي هغه به په ښه توګه څرګند کړي. دا په اوږده موده کې د فعالیت د اندازه کولو ډیر سیستماتیکه لاره هم ده ، ‘rolling designs داګلې په توګه، دا logframe کولی شي چې د فعالیتونو د اړیکې په توګه بدلون ومومي او اصلاح شي، پایلې او په لوړه کچه موخې د ځواب ویني په موده کې تر ازموني لاندې نیول کیږي. تمه کیدی شي چې د ټول افغاستنان پلان شوې ارزونه دې بشري فعالیتونو، چې په د ۲۰۱۹ کال پیلږي، ښه لومړیتوب ورکونې لپاره د یو بینسټ حیثت ولري.

په یو داسې هیواد کې چې څلور لسیزه یې تاوتریخوالی زغملی، او پر دې پوهیدل چې څومره وګړي هلته اوسیږي، د دوی پیژند څیره او د دوی ځای یا موقعیت یو ځانګړي اندازه اټکل ته اړتیا لري، او د ارزونې او پلان جوړونې یا هم پروګرام لپاره غوره بنسټ نه شي چمتو کولی. د ۲۰۱۷ کال تر دویمې نیمایي، حکومت خپله پاملرنه بشري نفوس شمیرنې او د هر اوسیدونکې پیژندې ته اړولې ده. د احصایې مرکزي دفتر(CSO) او د اقتصاد وزارت (MoE) لهNGOFlowminder، د سوت امپټن پوهنتون،UNFPAسره ګډ کار کړی تر څو دا سې یو انځور برابر کړي چې هلته څومره افغانان دي او چیرته اوسیږي. په ورته وخت د افغان ملکې د ثبت مرکزي اداري دا سې یو پلان سره پر مخ روان دی چې په ترڅ کې یې هر یو اوسیدونکې ته پیژند پاڼه ورکړل شي. هیله کیږي چې د ۲۰۱۸ کل تر نیمایي پورې ۱۰ ملیونه هغه افغان وګړي چې پیژند پاڼه نه لري هغ تر لاسه یې کړي. د نفوسو بشپړ معلومات او د خلکو د پیژندنو پوره وړتیا د یو ښه پلان جوړونې او د پرمختګ ارزونې لپاره شرط ګڼل کیږي. د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې، مرستندویه موسسات به داسې یو کار تر سره کړي چې د هغه له لارې هغه وګړي چې مرستې ته اړتیا لري او هغه بسپنه ورکونکې چې غواړي په دې پوه شي چې د دوی سرچینې په سمه توګه کارول کیږي، ګټه ورسوي، د پرمختللې تصیدقولو او د ثبت تخنیکونو نه به ګټه اخیستنه، په شمول که چیرې اړتیا او منلو وړ وي نو له بیومتریک سیستم څخه به هم کار واخیستل شي.

**د غبرګون شاخصونه**

په دې پلان کې د شدیو اړتیاوو د شاخصونه د تعریف په اړه چې یو ډول ځانګړو کړنو ته لري ، دا په ګوته شوې چې دهغه ملاتړ په چمتو کولو کې به تشه رامنځته کیږي چې پخوا د اړمهاله اړتیا لرونکو وګړو ته ورکول کیده دغه غبرګون پلان د شاخصونو د شرحې په ترڅ کې چې د شدیدو اړتیاوو سره یې د پلې کولو لپاره د مختلفوکړنو ترتیب ته اړتیا ده، داسې معلومیږي چې کیدای شي دمرستې ملاتړ چې پخوا له اوږد مهاله اړتیاوو لرونکو وګړو سره غزیدلی وه ، په اړوند تشه رامنځته شي. د ملګرو ملتونو د (یو یو این یو پروګرام) وروستي پرمختګ، چې دا په ډاګه کوي چې څنګه به دا اداري د دولتي ادارو مالتړ وکړي څو د لومړیتوبونو پراختیایي پایلې د کار په شپږو موضوعاتي ساحو کې پوره کړي، بشری تولنې ته فرصت برابر کړي ترڅو په هیواد کې موجود اړتیاوو بیا کتنه بیا کتنه وکړي.. د غبرګون لپاره اړینې مالي اړتیاوې چمتو کړي، او ملاتړ یا مرستې لپاره مناسب کاري چوکاټ جوړ کړي. په دې اړه د ملګرو ملتونو یو یو این یو پروګرام One UN – One Programme دې لپاره ډیزاین شوی دی چې دا دلې د پاتې کیدو خطر سره مخ نشي ، ترڅو همکاران د ښه اوږدمهالي اړتیا ملاتړ لپاره په غوره توګه سمبال او چمتو شي. سره له

دي، که چیرې د کړنو اوسني معیارونه د HRP په بهیر کې وساتل شي، حکومت او پراختیایي همکاران د افغانستان د سولې او پراختیا کاري چوکاټ( ANPDF ) له لارې د عادي افغانانو په ژوند کې د معقول بدلون راوستلو ظرفیت لري،خود ملي لومړیتوبونو پروگرام (NPPs) او د ملگرو ملتونو ( یو این یو پروگرام) لخوایې ملاتړ اړین دی ح- د بې ځایه شویو او راستنیدونکو خلکو لپاره د اوږدې مودې پروگرام لپاره د اضافي سرچینو وروستی تاید په ځانگړې توگه د معیشت اړوند مالتړ ، چې د عامه خدماتو تشه به نوره هم ډگه کړي د (۱۴ مخو وگورئ)، ،ته ډیر ښه راغلاست ویل کیږي.

د حکومت،تمویلونکو، پراختیایی او د سولې جوړونې شریکانو په گډون د گنو فعالانو د ښکیلتیا او ژمنې غبرگون د د غه ځو کلن پلان د بریالیتوب لپار خورا مهمه ده. اټکل شوي پایلې او لاسته راوړنې په لاندو برخو باندی تمرکز ولری:

۱. په هغو سیمو کې چې لاسرسی ورته ستونزمن ده او د اړتیاوو شدت پکې زیات ده ، هلته له نویو بېځایه شویو، د شخړو ، طبیعي پېښو او د پولې له بلې غاړې د راستنیدونکو له امله د اغیزمنو ، د ترضیضاتو د پېښو د درملنې ، په حاده خوارځواکۍ د اخته ماشومانو د درملنې ، دخوړو د خوندیتوب ډاډمنولو او بیړنۍ سرپناه او حفظ الصحه مرستو له لارې ، ژوند ژغورنه پر ملکې وگړو او پر ځانگړې توگه په ښځو او ماشومانوباندېد شخړو د اغیزو دکمولو ملاترزیاتول . او

۲. د ښه غبرگون له لارې پېښو اغیزې کمول، د خلکو د ښې څارنې او اړتیاوو دښې ارزونې څخه مننه.

۳. په حقیقت کې،ژوند ژغورنه د غبرگون ددې پلان لومړیتوب لري چېرته چې ژوند ژغورل کیږي ، لومړیتوبونه جوړوي. په حقیقت کې لکه څنگه چې د One UN – One Programme پروگرام کې ورته اشاره شوي، همدا راز ؛ پدسې حال کې چې افغانستان په شان په ضعیت لرونکې هیواد کې داسې لیوالتیا شتون لري چې تولې یا هم ډیری ستونزې چې هیواد ورسره مخ دی حل کړی شي..... ستونزمنې پریکړې باید تر سره شي؛ لکه څنگه چې نا امنې په هر ځآی کې شتون لري او تاوتریخوالی مخ پر ډیریدو دی، د دې پلان لومړیتوب دا دی چې باید ژوند وژغورل شي. له شخړو سره تړاو نه درلودونکې اړتیاوې په گوته کول، د راتلونکو پر مختگونو پایلې د بنسټیز او د معیار اړوند بدلون راوستلو په موخه بدیل میکانیزم ته اړتیا لیدل کیږي.

د کار کولو نوې لاره

په داسې حال کې چې د افغانستان څو کلن HRP د جگړې، طبیعی پیښو او د پولې ها خوا راستنیدونکو خلکو ته د ژوند ژغورنې مرستې چمتو کولو باندې ټینگار کوي، ، تر ټولو ډیره پاملرنه به دې ته ورکړل شي چې بشري او پرمختیایي فعالان څنگه کولی شي خپل فعالیتونه په ښه توگه سره یو ځای او همغږی کړي. د غبرگون په د ي څو کلنې پلان کې د پاکستان د شمالي وزیرستان د کډوالو دوامداره شمولیت ، د بیلگې په توگه دا ژمنه شوې چې د وخت په تیریدو سره به د بشري مرستو په ویش کې کمښت راځي چې په ورته وخت کې به دمعیشت او برمختیا نونښتونه زیات شي، کوم به چې به ټولنه کې د دوی د بیا یوځای کیدو اړدمهاله فرصتونه چمتو کړي .

۱ جدول: DiREC د راستنیدونکو او بیځایه شویو د ۲۰۱۷ کال د پلان عملي کاري چوکاټ

| شمیره | عمل | مسئولیت | د پای تاریخ | نظریې |
|---|---|---|---|---|
| ۱ | د DiRECواکونه پیاړی کول | IOM, UNHCR | مارچ ۲۰۱۸ | |
| ۲ | د DiRECد پلان پلي کولو ملاتړ | FAO, ILO, IOM, OCHA, UNAMA, UNICEF, UNDP, UNESCO, UNFPA, UNHABITAT, UNHCR, UNODC, WFP, WHO | دسمبر ۲۰۲۱ | د راستنیدونکو او بیځایه شویو د مقاومت په خپل ځان د تکیې او مصؤنیت دظرفیت پیاړی کول،او د دوامدار حل لپاره بشري او پرمختیایي اړیکو ته وده ورکړې |
| ۳ | . په خپله خوښه او خوندي راستنیدنې ، منظم اوبامسؤلیته مهاجرتونو او خوځښتونو د اسانتاوو په برابرول کې د افغان دولت د ورتیاوو ملاتړ کول | ILO, IOM, UNDP, UNHCR | دسمبر ۲۰۱۹ | د DiREC، ANPDF عملی پلان، د فساد ضد ستراتیژي، د نړیوالي مزدوري کډوالي ستراتیژی، د ملي مسودي بهرنۍ سرتراتیژي، سیمیزاو نړیوال فورا لکه د سیمیز<br><br>فورا د حل لارې ستراتیژي د افغان کډوالو لپاره (SSAR), ، د ۲۰۱٦ کال د نیو یارک اعلامیه، د وکولمبو پروسه او د ایو دابي دیالوگ چې افغانستان یې فعال غړی دی. |
| ٤ | د قانوني او پالیسي چوکاټ اصلاح کول چې د PD ١٤ په گډون بیځایه کیدل په بر کې نیسې | IOM, UNAMA, UNDP UNHABITAT, UNHCR | جون ۲۰۱۹ | |
| ٥ | د ښه موقعیت او کار وړ ځمکو د تخصیص له لارې د راستنیدونکو او اوږد مهاله داخلي بې ځایۀ شویو د پایښت حل لارو ملاتړ کول. | FAO, IOM, UNAMA, UNDP, UNESCO, UNHABITAT, UNHCR, UNICEF, WFP, WHO | دسمبر ۲۰۱۸ | |

په ښاري غیر رسمي اقتصاد کې، د ټیټ عاید او ټیټو مهارتو نو د لوړو غوښتنو ته په پام سره ، او هغه فکترونه چې په ښاري سیمو کې بېځایه شوی او راستیدونکي نسبتاخوندي دي،دا احتمال لري چې ښاري ګڼ میشته سیمې د راتلونکو کلونو لپاره د افغانستان د خاورې تر ټولو ستري ځانګړتیا وي . د راستیدونکو او داخلي بې ځایه شویو لپاره د ۲۰۱۷ پالیسي چوکاټ سره اړوند کاري پلان تطبیق(جدول ته مراجعه وکړئ)، چې د بې ځایه کېدو او راستنیدو د اجرائیوي کمیټې( DIREC )لخوا څارل کیږي، د نه ختمیدونکي بشري وضعیت په مخنیوي کې به مهم وي. اساسي خدماتو ته لاسرسي، ځمکې، مدني او حقوقي آزادۍ، او همداراز د خلاص، منصفانه او ګټور کاري بازار ته د ننو له لارې به افغانان په خپل ځان باوري شی. اوس مهال، د اوږد مهاله حل کاري ګروپ چې مشري د کډوالو او راستیدونکو چارو وزارت د IOM, UNDP, or UNHCR سره په ګډه کوي د DIREC په ګډون د نادولتی مؤسسو، د ملګرو ملتونو د ادارو او حکومت لخوا ترسره شوی بشری او پرمختیایی نوښتونه سره نښلوي. د عملیاتي غبرګون په لړۍ کې ډیری فعالین اوس مهال، بشري او پرمختیایي فعالیتونو موازي توګه پلي کوي. د ملګرو ملتونو اداري او نادولتی مؤسسې د راستنیدونکو ته (د راجستر شویو او بې اسنادو دواړو) ته په سرحدونو او د لیږدېه مرکزونو کې د راستنېدو وروسته فوري مرستې کوي او کله چې دارزوني له مخې ، په استوګنځایو نو کې شدیده اغیز منتیا په ګوته شي نو هلته هم ورسره بشري مرستې ترسره کیږي . په ورته وخت کې، پرمختیایي همکاران، څوک چې د ملګرو ملتونو سازمانونه او نادولتي موسسې هغه اداري دي چې د بشري مرستو کړنې هم ترسره کوي، په اوږدمهاله حل لارې هم کار کوي لکه د ټولنې بیا یو ځای کیدنې لپاره د محل انتخاب. د DIREC کاري پلان د ملګرو ملتونو د ادارو بیرته راستنیدو او بیا یو ځای کیدلو هڅوي او ګډ رول نور هم بیانوي ( په۱۳پاڼه ۱ جدول کې وګورئ ) د راتلونکو کلونو ځانګړتیا وي. د ۲۰۱۷ کال د عمل پلان پلي کول به (۱ چوکاټ ته مراجع وکړئ)، د بې ځای کیدنې او راستنیدونکو د کمیټې له خوا څارنه کیږي.

## د نړیوال بانک ښکیلتیا په نا امنه ملکونو کې

په ۲۰۱۶ کال کې، نړیوال بانک ۱۷۲ ملیونه امریکایي ډالر په اضافي تمویل کې ډیر کړل تر څو ؛ د اوسیدونکو د ملي لومړیتوب پروګرام ؛ پوښښ ۱۴ ولسوالیو ته په نهو ولایتونو کې کوم چې د راستنیدونکو لوړې شمیرې سره د کډوالې به پایله کې مخ دي پراخوالی راولي. بسپنه ورکونه کومه چې د ډیر زیان منونکو IDPs ، راستنیدونکي او کوربه ټولنې چې د اضافي عاید تولید فرصتونه د ؛ نغدو پیسو د کار لپاره ؛ پروګرام چې د ۳۰ ورځو لپاره د شپږو میاشتو په موده کې دنده برابروي، په ۲۰۱۸ کال کې له ۲۰۰ نه ۳۰۰ میلیونه امریکایي ډالر په تمویلیدو سره بشپړ شي، تر څو پرمختللو معیشتي نوښتونو څخه ملاتړ وشي. په تیر وخت کې بشري بسپنې څخه د تشو ډکولو په موخه په افغانستان کې د پرمختیایي کمښت په شته جوړښتونو کې لکه د عامې روغتیا سیستم، نوي کاري لاره مونږ ته دا ژمنه راکوي چې په ښه توګه له سرچینو او ظرفیتونو څخه د نسبتي ګټو په رڼا کې چې ډګر او ماحول کې شتون لري کار واخیستل شي. دا د توپیر پیژندلو په معنا دی چې څنګه له پرمختیایي فعالانو سره په همکارۍ او ګټور سرو کار ولرو- د معمول په څیر، د پلي کولو په لومړنۍ برخه کې- او داسې کار کول چې بشري عمل نه ډیزاین شوی او نه تمویل شوی دی. لکه څنګه چې جګړه په افغانستان کې په ورستیو کلونو کې زیاته شوي او په ملکي وګړو اغیز نور هم زیات شوی، ملګري په دې مجبور وی چې پر خپل ظرفیت له سره غور وکړي تر څو بنسټیز حالت چمتو کونکې خدماتو او بودیجوي خدماتو چمتو کولو ته دوام ورکړي، البته کله چې د وګړو ژوند د جګړې له کبله په چټکه توګه له خطر سره مخ شي.

د نړیوال بانک له خوااضافي بسپنه چمتو شوي چېد بشري فعالانو د اوږو بار کم کړي، د لومړنیو مرستندویه کوښښونو بشپړول، او د انتقال ملاتړ له لنډ مهاله حل لارو نه تر اوږد مهاله دوامداره حل لارو پورې.د نړیوال بانک تازه اعلامیه چې دوی به ۳۰۰ میلونه ډالر د افغانستان د پوهنې د کیفیت ریفورم پروګرام (EQRA) له لارې په ۲۰۱۸ کال کې چینل یا چمتو کړي، تر هغو د IDP او راستنیدونکې له ښونځیو څخه بهر ماشومانو لاسرسی پوهنې څخه ملا تړ اوکړي، چې دا ډیرې احتیاط نه ډکه همغږی له (EiEWG) (پوهه په بیړنیزو حالاتو کې کاري ډله) سره، تر هغو ډاډ تر لاسه کړو چې فعالیتونه او پوښښونه بشپړید ونکي دي. لکه څرنګه چې دغه بسپنه د ۲۰۱۸ کال په نیمایي کې آنلاین یا چمتو وې، داسې وړاندوینه شوي هغه ماشوما چې به بیړنیو حالاتو کې پوهنې ته اړتیا لري او چې دHRPs له لورې ملاتړ کیږي د رتلونکو څلورو کلونو په ترس کمښت و مومي.

جامع

# غبرگون

### خوندیتوب مرکزي حیثت لري

خوندیتوب، چې مونږ یې داسې تعریفوو، هغه تولې کړنې چې د اشخاصو حقونو ته د بشپړ درناوي د لاسته راوړلو په موخه د قانون اړوندو ارگانونو د لیک او روح سره سم منسجم شوي وي ، د غبرگون ددغه ځو کلن پلان مرکزي برخه به وي. تولې بشري کړنې د شخړو دحساسیت او زیان مه رسوی د تگلارې سره سم ډیزاین او پلې شوي دي کوم چې د اغیزمنو خلکو خوندیتوب، وقار او حق ته وده ورکوي، او همدارنگه د اضافي خطرونو سره په مخ کیدنې کې کموالی راولي. په ۲۰۱۷ کال کې،د هیواد بشرملې ټیم د محافظت مرکزیت پیاوړي کولوپه موخه، د دویم عامه بشري مرستو وجهي صندوق تخصیص لاندې په شاملو پروژوکې د معیاري د مصؤنیت جامع کړنې داجباري برخې په توگه ، په گرځولو سره او د منازعې اړوند اړو زیانمنو اوپه ځانگړې توگه د جنسیت او جنډر پر بنسټ تاوتریخوالی سره مخ شوي نفوس ته د لاس رسی لپاره نوی نوښت هڅولو له لارې ، سخت گامونه پورته کړي. که چیرې دغبرگون په ځو کلن پلان کې د ساتنې د سرغړونې د دوامدار پیښو برو ړاندې غبگون ترسره شي، دا په ساحه کې د نورو فعالانو شتون په گوته کوي او د یو سرپوښ په توگه کارول کیږی چې ترلاندې یې گډ فعالیتونه پلي کیدی شي کوم به چې اړین هم وي.

، د هیواد په ډیرو برخو کې فعالې جگړې ته او د ملکي وگړو د مرگ ژوبلې لوړه کچه چې په دوامداره توگه یې راپور ورکول کیږي، په اصل کې د ځمکنیو نښتو پایلې کې رامنځته کیږي ولې په ۲۰۱۷ کال کې د هوایی بریدونو له امله مخ پر زیاتیدو دې، نو ځکه به ساتنې د ملاتړ ستراتیژۍ به ۲۰۱۸ کال کې د هیواد د بشري ملکي ټیم په لومړیتوب کې وي. د تاوتریخوالی مختلف ډولونه، په بیلابیلو ښارونو کې د چاودیدونکو خطرونو اغیزو ، د ملکي خلکو په قصدي توگه په نښه کولو - په ځانگړې ډول، هغه ملکي کسان چې د دولت پلوه وي یا د دې سره تړاو لري ، افغان امنیتي ځواکونو، دیني مشرانو او شیع مسلمانو ډلې په گډون د افغانانو د پام وړ تناسب لپاره د ورځنې ژوند یوه مستقله برخه گرځیدلې،

په دې کې د ملکي تلفاتو د مخنیوی او کمولو په اړه د ملي پالیسۍ بشپړ پلي کولو کې د ملاتړ لپاره د سخت کاري پلان د جوړولو لپاره وکالت کول شامل دي؛ د ځینو روایتی وسلو په اړه د کنوانسیون د تطبیق منظم نظارت د دې معلوملو لپاره چې آیا د اتې شویو چاودیدونکو توکو ځخه را پورته شوي تلفات مخنیوی کیږي یا کم شوي؛ او د تولو هغو سپارښتنو عملي کول چې د حکومت په کاري پلان کې تشریح شوي چې د ماشوم استخدام او د افغان ملي دفاعي او امنیتي ځواکونو لخوا د ماشومانو کارولو مخه نیسي

. د لوړ کچې ملاتړ به د حقونو څخه د سرغړونو منظم نظارت څخه خبر شي – دا په خپله د ساتنې د پیښو د څارنې سیستم لخوا مالتړ کیږي کوم چې به د ساتنې سرغړونو راټولو شویو ارقامو لپاره د مرکزي ذخیرې په توگه کار کوي، او د جغرافیائی موقعیتونو او اندیښنې وړ نفوس په اړه د قوي تحلیل اجازه ورکوي. دا به دپلانونو جوړلو ته وده ورکړي کوم چې به په مختلفو ډلو کې ځانگړي زیانمنې او اندیښنې په پام کې نیسي - په ځانگړې توگه هغه کسان چې د بیا ځلي بېځایه کیدنې سره مخ شوي ، ماشومان، میرمنې ، نجونې، زاړه، معیوبین او کډوالو سره تړاو ولري . د یوناما د بشري حقونو د ځانگې ، د هیواد کاري ځواک

څارنې او راپور ورکولو میکانیزم او د افغانستان د ساتنې کلستر تر منځ به زیاتې اړیکې ټینگې شي ترڅو د ژوندی شننې ته وده ورکړي اوزیات تولیز غبرگون ته اسانتیا برابره کړي کوم به چې د هرې عملیاتي ډلې په تخنیکي پوهې او مهارتونو باندې رامینځته شی. د موجوده معلوماتو تشو ډکولو او همدارنگه د نفوس له خوا د دمقاومت د میکانیزمونو په اړه ژوره پوهه رامنځته کول د هم په گوته کړي چې ځنگه شخړې د ثانوي سرغړونو سره مخ کیږي، لکه کورنی تاوتریخوالی، د ماشوم کار او د ماشوم واده. دا به بشري فعالان ددې جوگه کړي چې د جگړې له امله اصلي خطرونه وو پیژني او لومړیتوب ورکړي، او پراختیایي همکارانو ته به اجازه ورکړي چې داوږدې مودې ساختاري اصولي بدلون راوړي کوم چې ناوړه دودیزې او ټولنیزې- کلتوری کړنې کموي

### اغیزمنوته حساب ورکونه

اغیزمنووگړو ته د حساب ورکونې په برخه کې- دواړه په منظمه توگه ټولنو سره خبري کول او په پروگرام کې د دوی نظریات او لومړیتوبونه شاملول- د ۲۰۲۱-۲۰۱۸ د غبرگون مرکزي برخه جوړوي. په ۲۰۱۷ کال کې له وختـه، ملگرو ډیر کلک گامونه چې وگړي د بشري عمل په مرکز د راوړلو په بر کې اخیستي. چې د امکان په صورت کې ، د جگړې لومړي کرښې ته نژدې، او په ځانگړې توگه په هغو سیمو کې چه لاسرسی ورته گران ده، مرسته رسول هم شامله ده، ، دغه کار به اغیزمنووگړو ته د مرستي رسولو په موخه وخت را کم کړي، له نغدو پیسو ځخه کار اخیستنه؛ او د کړکیچ له امله اغیزمنو خلکو د لگښت لپاره د ځو موخو نا بې قیده نغدو پیسود لیږد کارونې پراخول تر ځو ددوی په ژوند کې وقار، اختیار او کنترول ته وده ورکړي.

په ۲۰۱۸ کال کې به ملگري ملتونه د بین الاداري معلوماتو مرکز رامنځته کړي تر څو له ټولنو ځخه نیغ په نیغه د دوی د بیرنیزو او راولاړیدونکو اړتیاوو پر بنسټ فیډبک تر لاسه کړي، لومړیتوبونه او هیله مندی، ترڅو ډاډ تر لاسه شي چې مرستي هغه وگړو ته چې ډیراړ وي او اغیز منونکي وي ورسیږي، د گڼو کلستر ارزونې اړتیاوې (MCNA) چې د REACH Initiative له خوا په ۲۰۱۷ کال ترسره شوي، داسې وموندل شول چه ۱۵ سلنه کورنۍ چې مرستو ته اړ وی ډیر لږ ځه تر لاسه کړي، په داسې حال کې چې ۲۳ سلنه کورنۍ چې پخپله پیژندل شوي چې مرستو ته اړتیا نه لري په تیر کال یې یو ډول مرستي تر لاسه کړي دي. تقریبا د ختیځو سیمو دریمې برخې په گډون. دا په ډاگه کوي چې ډیری وختونه غلط وگړي د مرستي لپاره موخه کرځول شوي او/یا هم چمتو شوي مرسته په کافې اندازه نه وه چې د وگړو سره له کړکیچ نه مخکې حالت ته په ور گرځیدلو مرسته اوکړي. یو بله اضافي پلټنه د هیواد په کچه په ۲۰۱۷ کال کې تر سره شوه، په پایله کې دا ځرگنده شوه چې ۳۰ سلنه د پلټل شویو کورنیو پر دې نه پوهیدلې چې ولې یې مرسته نه ده تر لاسه کړي، ځینو ځواب ویونکو په فوکس گروپونه کې ویل چې دوی اصلا نه پوهیدل چې مرسته ځنگه تر لاسه کړي، او د خبرو اترو چینلونو له اړخه چې د پیغام لیږلو په موخه مرستندویه موسساتو ته اړین ول مخ شوي وای. IAIC به بشري ټولنې سره مرسته وکړي چې دا ډول خندونو باندې غالب شي او په مرسته کې تشې د یو رسمي او منظمې غوښتنې او دگډه پورته کونکیو فیډبک په گوته کړي.

په پایله کې تر لاسه شوي معلومات به له بشري ټولنې سره پهاصلاحې قدم اخیستلو کې د پر وخت او اړوند ځواب تر لاسه کولو په برخه کې مرسته اوکړي،

کوم چې به د اغیزمنې شوې ټولنې ریښتینو اړتیاوو سره سمون وخوري نه یوازې د هغه اړتیاووو چې وړاندوینه یې شوې ده. د IAICمعلوماتو مرکز به د ګټه اخیستونکو سره د دوه اړخیزو اړیکو اغیزمنتیا کې مرسته هم وکړي چې څنګه دوی له بشري موسساتو او حکومت څخه خدمات یا چوپړتیا تر لاسه کړي. دا به نه یوازې حساب ورکونې او روڼتیا ته وده ورکړي بلکې ونډه اخیستونکو ته به اجازه ورکړي چې د موضوعاتو او جغرافیایي سیمو ساحوی ملاتړ همغږي کړي، تمرکز وربانديې وکړي او لومړیتوب ورکړي، په تیره بیا په هغه سیمو کې چې لړ کار ورته شوی او له لوړې کچې جګړې سره مخ دی، او همدا رنګه بې ځایه شوې او بیرته ستنیدونکې هم پکی شامل دي.

په ورته وخت کې به IAIC د پرمختیایي همکارانو او ملګرو سره همغږي او د اړیکو آسانتیاوې برابري کړي. پهرښتیا سره هم ۴۸ سلنه کورنۍ په سویل شرقي سیمه کې او ۳۵ سلنه کورنۍ په شرقي سیمه کې شغل یا دنده خپله اصلي اړتیا ګڼي، دا په ډاګه شوې ده چې کومې سیمې چې په لوړه کچه د بیرتهراستنیدونکو او کډوالو کوربه دي بشري مرسته پر هغوې ډېره محدوده اغیز لري. کوم څه چې په پای کې ورته اړتیا لري (او غوښتنه یې کوي) د عاید رامنځته کولو او معیشت فرصتونه دي کوم چې داوږدمهاله ثبات او پرمختګ سبب ګرځي.

## جنډر،عمر او دحساس معلولیت پروګرامونه

له ښځو او ماشومانو سره بشري مرستې ته اړ وګړي په ۲۰۱۸ کال کې درېو کې دوه برخې جوړولې، دهغوی غوښتنو باندې ښه پوهیدنه چې د دوی مختلفو اړتیاوو ته ځواب وویلی شي، د ځو کلن غبرګون/ځواب پلان څخه یوه برخه ده. د ماشومانو او سړیو له اړتیاوو څخه ملاتړ،هغه معلومات چې په ۲۰۱۷ کال کې را ټول شوي څرګندوي چې جګړه، او بې ځای کیدنه په وګړو په مختلف ډول اغیزی لري. په افغانستان کې میرمنې او انجونې په سیستماتیک ډول د کرکیچ په ټولو برخو کې بې برخې شوې. تر اوسه په ۲۰۱۷ کال کې، ۱۰۰۷ میرمنې د جګړې له امله یا هم مړې شوي او یا ټپي شوې دي، په داسې حال کې چې ښځینه بې ځایه شوې کورنۍ د خپلو نارینه و همکارانو په پرتله ٦١ سلنه لړی یعنې (٥٦٨٧ افغانۍ) په پرتله د (۹۲۹۸ افغانۍ) عاید لري، او ۱۵ سلنه پیژند پاڼو ته احتمالي لاسرسی لري. لکه څنګه چې دملکي اسنادو لاسرسی د بشري مرستو د تر لاسه کولو په موخه یو بنسټیز شرط ګڼل کیږي، د ځانګړې او بشپړ اسناد و کموالی د ځانګړي خدماتو تر لاسه کولو او اړینو حقوقي خوندیتوبونو تر لاسه کولو وړتیا په اړه خنډ رامنځته کوي.

د کلونو را هیسې جګړو او کړکیچونو د ماشومانو دظرفیت اړوند یو خوندي او بشپړ ژوند لپاره ترون کړی. چې پا پایله کې یې د هلکانو او انجونو لپاره د هغوی عمر او ټولنیز موقف اړوند بې ځاری زیانونه را منځته کړي دي. په افغانستان کې بې ځایه شوېو انجونو په ښونځي کې د شاملیدو ۷ سلنه د بې ځایه شویو هلکانوپه پرتلهلږ احتمال لري، او له بله خوا په لویدیځه سیمه کې ۱۲ سلنه ماشومان په مسلحه ډلو کې د جبري ګمارنې څخه ویره لري، او ۱۳ سلنه انجونې د ١٦ کلنې څخه مخکې واده کیږي. د ماشومانو خوندي ساتل له تاوتریخوالې، زورونې او،

ګټه اخیستنې څخه، او د ژوندانه د بقا د مکانیزمونو د عملي کولو په مقابل کې کموالي راوستل له همدی امله یو لومړیتوب ګڼل کیږی.

د ۳ میلیونو شاوخوا افغان وګړي چې اوسمهال له فزیکي معلولیت یا کمزورتیا سره ژوند کوي او همدا رنګه یو ناپیژندل شوې شمیر عصبي کمزورتیا لرونکي وګړي (چې د هغوی اکثره د پام وړ بنسټیزو خدماتو او مرستو ته لاس رسی نه لري)، دمعلولیت یا کمزورتیا اړوند پاملرونو باندې به غور اوشي او د ګڼ کلنیز غبرګون له پړاونه څخه تیر شي. هغه بنسټیزو برخو ته چې لومړیتوب ورکول کیږي په لاندې ډول دي: جګړې ځپلو وګړو ته پر خپل وخت او اړوند مرستې ویشل (چې په بیړنۍ توګه د فزیکي او عصبي کمزورتیا پیژندل په کې شامل دي، ځانګړي سازمانونو ته او خدمات چمتو کونکو ته راجع کول، د مرستندویه

وسایلو ویش، د بیا رغونې خدمات او رواني ټولنیز ملاتړ)؛ د خدمتونو ښه شمولیت د پرمختللي معلولیت-دوستانه سر پناه له لارې، د WASH جوړښتونه او روغتونونه/ښونځي او داسې نور.؛ د ماین پاکۍ د خطراتو پوهاوی پلې کول (MRE)؛ په ټولنیزه کچه د حساسیت نور فعالیتونه لکه د بشر دوستانه کارمندانو روزنه او ظرفیت لوړول، ځایي خدمتونو چمتو کونکي، د ملې مدني ټولنې ډلې او اړوند حکومتي اداري ظرفیت لوړول.

په داسې شرایطو کې چې نارینه دواړه اړتیاوې او مرستې د ولکې لاندې راوستلو ته دوام ورکوي، بشري همکاران به له میرمنو او نورو زیانمنونکو ډلو سره چې د کړکیچونو له کبله اغیزمن شوي دي خپله ښکیلتیا نوره هم ډېره کړي، تر څو ډاډ تر لاسه کړي چې د دوی اړتیاوې په مناسبه توګه د پروګرام په ډیزاین کې پلې کولو په موده د څو کلن غبرګون پلان په اوږدو کې په ګوته او منعکس شي. د دې بې باورۍ په حلولو کې به لاندې اماد ګۍشاملې وي:

د ښځینه و په شمیر کې زیاتوالی راوستل (د زوجینو د ګمارنې) له لارې، له ښځینه ګټه اخیستونکو سره د پروګرام پلې کولو په اړه مشورې، ( لکه څنګه د ویشلو ټکي تاسیس شي او کوم وخت باید ویش تر سره شي) تر څو له اوږدمهاله او نا امن سفر څخه مخنیوی وشي. د مستقیموګټه اخیستونکو په توګه له میرمنو او انجونو سره د ښکیلتیا سر بیره، کوښښونه به دوی ته د مرستو دبدیل موډلونو ته دلاسرسي په موخه، لکه نغدي پیسې چمتو کیدنه، دوی به د بدلون استازو د خپل بیرته راتګ ساتونکو په توګه ځواکمن شي.

په ۲۰۱۷ کال کې HCT د جنډر مساویتوبونو ته د بشر دوستانه عمل ستراتیژۍ (۲۰۱۹-۲۰۱۷) کې پرمختګ ورکړ تر څو د جنډر نظریات د بشري پروګرام دورې ټولو برخو کې شامل کړي او ډاډ ترلاسه شي کومه مرسته چې چمتو شوې د میرمنو، انجونو، هلکانو او سړیانو بې ځارې اړتیاوو ته ځواب ووایې. ستراتیژي د اتو جنډر شاخصونو پر بنسټ جوړېږي چې د HCT له لورې په ۲۰۱٦ کال کې تاید شوي او موخه یې د جنډر حساسیت پیاوړې کول په تحلیل او ارزونه کې ځارل دي؛ د بین الاداري موقتي کمیټې د جنډر پر بنسټ کړنالارې سره او له ملې اونړیوال جنډرې ژمنو حساب ورکونې سره سمون ولري. د معلوماتو تر لاسه کولو لپاره د جنډر برابري په برخه کې وقف شوي سرچینو او دوامداری دفاع ته اړتیا ده، که چیرې دا بریا تر لاسه شي، په ځانګړې ډول د اوسنیو ننګونو په شتون کې د ښځو ګمارنې او تعیناتو په برخه کې. په ورته وخت کې به کوښښونه د جنسیت او د عمر دبیلا بیلو شمیرو معلوماتو (SADD)ارزونې ودې په برخه کې ترسره شي، تر څو یوازې د باینري ارقامو د ښودلو څخه یو ګام وړاندې لاړ شو. په رښتیا سره هم SADD په افغانستان کې په دې ورستیو کلونو کې د پام وړ پرمختګ کړی دی، دهغه معلوماتو د پوهیدو وړ ارزونې ته ژباړل چې د هرجنډر او عمر لرونکو وګړي چې په کړکیچونو کې ښکیل دې معنا لرونکې حقیقتونو په اړه خبري کوي، محدود پاتې شوې. د بیلګې په توګه، په داسې حال کې چې میرمنې کولای شي هغه دندې یا رول چې په افغانستان کې په عنعنوي یا سنتې ډول نارینوو ته راجع کیږي په دې دوره کې خپله تر لاس لاندې ونیسي، لکه د کورنۍ مشرۍ، د ډوډۍ پیدا کول، دا به سمه نه وې چې له دې اضافي مسئولیت ته د واک په سترګه وکتل شي. ښه پوهاوی په دې برخه کې چې کړکیچونه د هر وګړي وړتیا د اغیز لاندې راولي، تر څو پر دې وپوهیږي چې د دوی بشپړ پوهاوی څنګه دبشري غبرګون له لارې د وګړو په ژوند کې بنسټیز بدلون رامنځته کیدو اړوند اړینه ده.

## د نغدو پیسو پر بنسټ پروګرام جوړونه

د شواهدو زیاتوالی څرګندوي چې د نغدو پیسو پر بنسټ پروګرامونه د مرستو په اغیز کې پرمختګ رامنځته کوي، د اغیزمنو ټولنو پیاوړتیا او وقار (ټولنیز ځای) ته وده ورکوي، او د ممرستې توکو د رسولو پر وړاندې خنډونو څخه مخنیوی کوي، په ۲۰۱۸ کال کې به همکاران په دې په لټه کې وي چې د نغدو پیسو کارونه نوره هم په ټول افغانستان وغځوي. له پخوا څخه په ۲۰۱۷ کال کې، د اټکل په توګه ۹۰۰۰۰۰ وګړو په ټولو ولایتونو کې ۳.۴۳ میلیونه امریکایې ډالر د

نغدو پیسو په بڼه تر لاسه کړي دي- د ګڼو موخو او دسکټور داړوند ځانګړو مرستوپه ګډون، لکه د خوراکي توکو سر پناه، معیشت، د ژمي ټرانسپورټ او خوندیتوب لباره نغدي پیسې . په داسې حال کې چې دا ارقام د ۲۰۱٦ کال د همدی دوری د نغدو پیسو د ویش په پرتله ٦٨ سلنه کموالی ښکاره کوی. دا هر څه د ثبت شویو کډوالو افغانستان ته د بیرته ستنیدو په شمیر کې د پام وړ کموالې راتلو له امله او هم د ملګرو ملتونو د بیرته ستنیدونکېو لپاره د مرستو دکڅوړی د ارزښت د کموالي (له ۴۰۰ امریکایې ډالرو نه تر ۲۰۰ امریکایې ډالرو پورې) له وجی را منځته شوي. نغدې مرستې چې د جګړې له امله پهکوردننه بې ځآیه شوي وګړو ته رسیدلي، بیرته ستنیدونکې یا هم هغه چې ژمې مرسته یا ملاتړ په خاطر یې تر لاسه کوي ، دبیړني بریښنایي لیږد له لارې یې د پام وړ زیاتوالي موندلی ، او په ورته وخت کې د پایښت د زیاتوالي سبب شوي دي. په هغو نغدو مرستو کې د چې د تیرو څو میاشتو په ترڅ کې د ګڼ شمیر لیږد له لارې چمتو شوي ده- لکه د سرپناه ، یا هم د خواړو خوندیتوب لپاره، کې هم زیاتوالی رغلی.

په ۲۰۱۷ کې د بشردوستانه نغدو پروګرامونو کې ترټولو مهم بدلون د ډیری موخې نغدو پیسو( MPC )مرستې زیاتوالی دی، کوم چې دیو لړ کورني اړتیاو پوښښ لپاره پې قیده نغدې پیسې دي . د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ څخه تر اکټوبر میاشتی پورې، ۱۱،۲ میلیون امریکایي ډالر په ۲۷۱۲۴۰ وګړو باندې ویشل شوي. کومې نغدې پیسې چې د بیړنیز غبرګون میکانیزم له(ERM) له لورې ویشل شوي د MPCدټولوچمتوشویو مرستو ۸۰ سلنه جوړوې. - په اصل کې د می په ۲۰۱۷ کې د ژوند د لږ ترلږه لګښتونو بسته د معرفي شوه (SMEB) - په اساسي توکو، خدماتو یا توکو نغدي ارزښت چې د کورنۍ د بقا ډاډ ترلاسه کولو په خاطر د دوو میاشتو لپاره اړین. د ۲۰۱۷ کال د مې څخه د اکټوبر تر میاشتی پورې، یوازې په کندوز کې ERMدوو همکارانو ACTED او NRC۲۵۰۰۰ خلکو سره نغده مرسته پورې وکړه چې مقدار یې یو میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي. د یو شمیر ERM نا غړیو موسسو (Care, Cordaid and Afghanaid ،) هم د MPC پروګرامونه په ۲۰۱۷ کال کې پلې کړي دي چې ۲،۲ میلیونه ډالر یې له ٦٥۰۰۰ زیاتو وګړو ته لیږدولي. د دې ډیری پلانونه دMPCپروګرامونو کې نور هم زیاتوالی رامنځته کوي، او همدا رنګه د هالنډ مرستندویه ټرون پروګرام هم اغیز لرلی شي.د افغانستان ګډ غبرګون پلان چې نږدې ۳۵۰۰۰ کورنې بې ځایه شوي، راستنیدونکی او زیانمنوشویو کوربه ټولنو ته د MPC مرستې چمتو کوي. په ټول هیواد کې د MPC مرستې تعقیبولو لپاره MPC پروګرامونو لپاره د همغږۍ یو جلا میکانیزم د راپور ورکونې په مرکز کې رامنځته شوی، او ۱۸ ملګرې اوسمهال د ګټې اخیستنې مرستې او د نغدو پیسو لیږد هره میاشت سیسټم ته پورته کوی.

د ۲۰۱۷ کال په اوږدو کې،د افغانستان عمومي بشر دوستانه وجهې صندق (CHF) د نغدو پیسو پروګرامونو لپاره د دویم معیاري تخصیص FSAC لاندې (۲ میلیونه امریکایي ډالر) پیسې و کارولي.

CHFد غبرګون پلان دستراتیژیکو موخوو کې د مرستو لپاره د نغدو پیسو کار ولو ته ادامه ورکړي، چیري چې مارکیټ، د شریکانو ظرفیت او د خوندیتوب ارزونې ته په کتو سره مناسبه وې. - نغدو پیسو ورکړې د کاري ډله (CVWG) سږ کال د نغدو پیسو ویش وروسته څارنې در لودلو سره به په ۲۰۱۸ کال کې د ګرځنده پیسو کارول چیرته چې مناسبه وي، همدارنګه د معیشت لپاره نغدي پیسې او د کرایې پروګرامونو لپاره نغدو پیسو په ګډون ، د پیسو د لیږد میکانیزمونو او پروګرامونو په مالتړ کولو تمرکز وکړي. د بیړني غبرګون په موخه به د د نغدو پیسو د کارولو لپاره د بشري ټولنې د چمتوالې پیاوړتیا چاري ساتلو اړوند هڅې به دوام پیدا کړي. د ۲۰۱٦ کال د ډیسمبر میاشت د همکارانو د ظرفیت د پیژندنې په توګه ۱۰ موجوده بشري سازمانونه په ګوته شول چې د نغدو پیسو پروګرامونه پر مخ بیایي، چې کولی شي د نا څاپې بیړنې حالت په وخت خپل غبرګون وښایی. د ځواب ورکونکو اداراتو شاوخوا نیمایي برخه (۴۳) سلنه دا په ډاګه کوي چې دوی د مالي خدمتونو چمتو کونکیو سره له پخوا

ټرونونه لري، کو م چې دوی ته دا توان ور کوي چې دچټګ غبرګون ملاتړ هم وکړي.

نه اټکل کیدنک وضعیت په ټول هیواد کې د غبرګون په موخه چمتوالي ته . د د ظرفیت پیاوړتیا ته، دزیرمو ځای پر ځای کولو ته او پر وخت د مالي مرستو ملاتر ته اړتیا لري.

د طبیعي پیښو او نازکه امنیتي وضیعت په اړه د افغانستان زیامنتوب دا په ډاګه کوي بشري ټولنه باید ځایي او پراخه خطرونه او شخړو ته په هر وخت کې ځواب ویلو لپاره د چمتوالې دوامداره حالت وساتي. له همدې کبله به د همغږۍ د غبرګون د څو کلن پلان د چمتوالی مرکزي برخې وې تر څو د اغیزمنو خلکو سره د مرستې لپاره کافې اندازه ظرفیت تضمین شي . په واقعیت کې، په داسې حال کې چې افغانستان په تیرو کلونو کې د لویو طبیعي پیښو تجربه نه ده کړې، دا په ۲۰۱۸ کې د آسیا په کچه د خطر خطرناکه هیواد په توګه پیژندل شوی ده – او د زیربنا زیانمننې اومقاومت د محدود ظرفیت له امله په نړیواله کچه څلورمه هیواد دی.

د پېښو په اړه د وار دمخه خبرتیاو دسیستم د پیاوړتیا د هڅو د یوې برخې په توګه، د احتمالي پلان جوړونې وده او د غیر فعاله کړنلارې پر ځای فعال عمل ته وده ورکړي او ډلییز غبرګون لپاره د فعال غبرګون په پرتله فعاله وده ورکول، افغانستان د ۲۰۱٦ کال راهیسې په کال کې دوه ځله د بیړني غبرګون د چمتوالی ظرفیت بین لاداري بیاکتنې ترسره کړي دي. دا پروسه، چې په هر شپږو میاشتو کې د ادارو تر منځ د ملي خطر راجستر کول شامل دي ، او په ګډه سره د په نظر کې نیولې دورې لپاره د بشري خطرونو پیژندنه کوي ددې لامل شو ې چې د لومړیتوب خطرونه او د اټکل شوېو خطرنوته دغبرګو ن د لوړ کچې ظرفیت په ښه توګه وارزوي . په سیمه کې د چمتووالي اقداماتو ته لومړیتوب ورکړل شوی او د تشو د ارزونې او د تیار ي پر مختللي پلان په موخه په پملي کچه مهم موضوعات ارزول شوي

د ERP پر لپسې کتنو اوس مهال و ښودله چې په داسې حال چې بشري زیرمې په ټول هیواد کې په کافي اندازه وړاندیز شوي، دوی ډیری وختونه مرکزي او له هغو خلکو څخه ډیر دي چې د کړکیچونو په وخت کې ورته اړتیا لري. د ډیری تجربه شوي په مهمو ولایتي مرکزو کې لاسته راغلو تجربو ته په کتو سره ښارونو په کتو سره، لکه د کندز ښار، په موقتي ډول کله چې په ۲۰۱۵ او بیا ۲۰۱٦ کال کې کلا بند شو ، هلته د ۲۰۱۷ د CHF له بودیچې څخه د تخمونو مرسته دلاس رسي وړ وګرځیده، تر څو د موجوده ذخیرو غیر مرکزي کولو او دشریکانولپاره د ترینکوټ، لښکر ګاه، تخار او کندوز ښارونه په ګډون په ډیرو نا امنه سیمو د ګډ ګدام د جوړولو ملاتړ زیات کړي،. په راتلونکې به ، شري ټولنه به د هغو سپارښتنو پلې کولو ته دوام ورکړي چې له چې په ساحه کې د چمتوالې د ودې سبب ګرځي او بشر دوستانه ټولنې وړتیا ته وده ورکري تر د نابېره اړتیاوو د رامنځته کیدو په صورت کې په غوره توګه غبرګون ښکاره کړي.

### د ګڼو مخو لپاره د نغدو پیسو مرسته

په ۲۰۱۸ میلادي کال کې به، د مرستندویه ادارو له لوري د ګڼو موخو لپاره د نغدو پیسو مرسته (MCP) کارول دوام ووموميي تر څو اغیزمن وګړي وتوانیږي چې خپلې بنسټیزې اړتیاوې په داسې توګه پوره کړي چې خپل درناوی یې پکې خوندي شي. ،

پداسې حال کې چې د شریکانو په منځ کې د نغدو پیسو MPC)) اندازه او د ګټه اخیستونکو کټګوري نده معلومه ، ډیری شریکان به د CVWG او کلستر معیارونو سره په همغږۍ کې، ډیری ملګري به د SMEB د تګالرې څخه کار واخلي ترڅو د دوی پروګرامونه ته لارښونه وکړي.

د پاکستان او ایران څخه بې سنده راستنیدونکی به په سرحد کې د راسیدو

ورسته د بشري مرستې تر لاسه کړي چې هره کورنۍ به ۱۰۰ امریکایی ډالره د غیر خوراکي توکو لپاره او له ۱۷۵ څخه تر ۳۵۰ ډالره پورې به د لیږې له مرکز څخه د دوي تر ځایه پورې د ترانسپورتي لګښتونو په موخه تر لاسه کړي. په ځانګړې توګه به هغه زیانمنونکي وګړي چې مصؤنیت د ځانګړو اندیښنې لري لکه بې سرپرسته کډوال ماشومان، هغه ښځینه چې محرم ونلري او هغه څوک چې روغتیایي بیړنۍ حالت لري، هغوی هریو ته به ۴۵۰ ډالرو اضافي مرستې هم ورکړل شي ترڅو نور اړرتیاوو سره سره د بیړني سرپناه، طبي رواني تولیزی اړیتاوې هم پرې پوره کړي. او ګټه اخیستونکی کټګوري

په ۲۰۱۷ کې د بشر دوستانه نغدو پروګرامونو کې ترټولو مهم بدلون د ډیری موخې نغدو پیسو(MPC )مرستې زیاتوالی دی، کوم چې دیو لړ کورني اړتیاو پوښښ لپاره پې قیده نغدې پیسې دي . د ۲۰۱۷ کال د جنورۍ څخه تر اکتوبر میاشتی پورې، ۱۱،۲ میلیون امریکایي ډالر په ۲۷۱۲۴۰ وګړو باندې ویشل شوي. کومې نغدې پیسې چې د بیړنیز غبرګون میکانیزم له(ERM) له لورې ویشل شوي د MPC دټولوچمتوشویو مرستو ۸۰ سلنه جوړوې. - په اصل کې د می په ۲۰۱۷ کې د ژوند د لږترلږه لګښتونو بسته د معرفي شوه (SMEB) - په اساسي توکو، خدماتو یا توکو نغدي ارزښت چې د کورنۍ د بقا ډاډ تر لاسه کولو په خاطر د دوو میاشتو لپاره اړین. د ۲۰۱۷ کال د مې څخه د اکتوبر تر میاشتی پورې، یوازې په کندوز کې ERM دوو همکارانو ACTED او NRC۲۵۰۰۰ خلکو سره نغده مرسته پوری وکړه چې مقدار یې یو میلیون امریکایي ډالرو ته رسیږي. د یو شمیر ERM نا غړیو موسسو (Care, Cordaid and Afghanaid ،) هم د MPC پروګرامونه په ۲۰۱۷ کال کې پلې کړي دي چې ۲،۲ میلیونه ډالر یې له ۶۵۰۰۰ زیاتو وګړو ته لیږدولي. د دې ډیری پلانونه دMPCپروګرامونو کې نور هم زیاتوالی رامنځته کوي، او همدا رنګه د هالنډ مرستندویه تړون پروګرام هم اغیز لرلی شي. د افغانستان ګډ غبرګون پلان

چې نږدې ۳۵۰۰۰ کورنې بې ځایه شوي، راستنیدونکی او زیانمنوشویو کوربه ټولنو ته د MPC مرستې چمتو کوي. په ټول هیواد کې د MPC مرستې تعقیبولو لپاره MPC پروګرامونو لپاره د همغږۍ یو جلا میکانیزم د راپور ورکونې په مرکز کې رامنځته شوی، او ۱۸ ملګرې اوسمهال د ګټې اخیستنې مرستې او د نغدو پیسو لیږد هره میاشت سیستم ته پورته کوی.

د ۲۰۱۷ کال په اوږدو کې، د افغانستان عمومي بشر دوستانه وجهې صندق (CHF) د نغدو پیسو پروګرامونو لپاره د دویم معیاري تخصیص FSAC لاندې (۲ میلیونه امریکایي ډالر) پیسې و کارولي.

CHF د غبرګون پلان دستراتیژیکو موخوو کې د مرستو لپاره د نغدو پیسو کار ولو ته ادامه ورکړي، چیري چې مارکیټ، د شریکانو ظرفیت او د خوندیتوب ارزونې ته په کتو سره مناسبه وې. - نغدو پیسو ورکړې د کاري ډله (CVWG) سږ کال د نغدو پیسو ویش وروسته څارنې در لودلو سره به په ۲۰۱۸ کال کې د ګرځنده پیسو کارول چیرته چې مناسبه وي، همدارنګه د معیشت لپاره نغدي پیسې او د کرایې پروګرامونو لپاره نغدو پیسو په ګډون، د پیسو د لیږد میکانیزمونو او پروګرامونو په مالتړ کولو تمرکز وکړي. د بیړني غبرګون په موخه به د د نغدو پیسو د کارولو لپاره د بشري ټولنې د چمتوالې پیاوړتیا چاري ساتلو اړوند هڅې به دوام پیدا کړي. د ۲۰۱۶ کال د ډیسمبر میاشت د همکارانو د ظرفیت د پیژندنې په توګه ۱۰ موجوده بشري سازمانونه په ګوته شول چې د نغدو پیسو پروګرامونه پر مخ بیایي، چې کولی شي د نا څاپې بیړنې حالت په وخت خپل غبرګون وښایی. د ځواب ورکونکو اداراتو شاوخوا نیمایي برخه (۴۳) سلنه دا په ډاګه کوي چې دوی د مالي خدمتونو چمتو کونکیو سره له پخوا تړونونه لري، کوم چې دوی ته دا توان ور کوي چې دچټګ غبرګون ملاتړ هم وکړي.



نه اټکل کیدنک وضعیت په ټول هیواد کې د غبرګون په موخه چمتوالي ته . د د ظرفیت پیاوړتیا ته، دزیرمو ځای پر ځای کولو ته او پر وخت د مالي مرستو ملاتړ ته اړتیا لري.

د طبیعي پیښو او نازکه امنیتي وضعیت په اړه د افغانستان زیامنتوب دا په ډاګه کوي بشري ټولنه باید ځایي او پراخه خطرونه او شخړو ته په هر وخت کې ځواب ویلو لپاره د چمتوالې دوامداره حالت وساتي. له همدې کبله به د همغږۍ د غبرګون د څو کلن پلان د چمتوالی مرکزي برخې وې تر څو د اغیزمنو خلکو سره د مرستې لپاره کافې اندازه ظرفیت تضمین شي . په واقعیت کې، په داسې حال کې چې افغانستان په تیرو کلونو کې د لویو طبیعي پیښو تجربه نه ده کړې، دا په ۲۰۱۸ کې د آسیا په کچه د خطر خطرناکه هیواد په توګه پیژندل شوی ده – او د زیربنا زیانمننې اومقاومت د محدود ظرفیت له امله په نړیواله کچه څلورمه هیواد دی -.

د پېښو په اړه د وار دمخه خبرتیاو دسیستم د پیاوړتیا د هڅو د یوې برخې په توګه، د احتمالي پلان جوړونې وده او د غیر فعاله کړنلارې پر ځای فعال عمل ته وده ورکړي او ډلییز غبرګون لپاره د فعال غبرګون په پرتله فعاله وده ورکول، افغانستان د ۲۰۱۶ کال راهیسې په کال کې دوه ځله د بیړني غبرګون د چمتوالی ظرفیت بین لااداري بیاکتنې ترسره کړي دي. دا پروسه، چې په هر شپږو میاشتو کې د ادارو تر منځ د ملي خطر راجستر کول شامل دي ، او په ګډه سره د په نظر کې نیولې دورې لپاره د بشري خطرونو پیژندنه کوي ددې لامل شو ې چې د لومړیتوب خطرونه او د اټکل شوېو خطرنوته دغبرګو ن د لوړ کچې ظرفیت په ښه توګه وارزوي . په سیمه کې د چمتووالي اقداماتو ته لومړیتوب ورکړل شوی او د تشو د ارزونې او د تیار ي پر مختللي پلان په موخه په پملي کچه مهم موضوعات ارزول شوي

د ERP پر لپسې کتنو اوس مهال و ښودله چې په داسې حال چې بشري زیرمې په ټول هیواد کې په کافي اندازه وړاندیز شوي، دوی ډیری وختونه مرکزي او له هغو خلکو څخه ډیر ي لرې دي چې د کړکیچونو په وخت کې ورته اړتیا لري. په مهمو ولایتي مرکزو کې لاسته راغلو تجربو ته په کتو سره ، لکه د کندز ښار، چې په ۲۰۱۵ او بیا ۲۰۱۶کال کې په موقتي ډول کلا بند شو ، هلته د ۲۰۱۷ د CHF له بودیچې څخه د تخمونو مرسته دلاس رسي وړ وګرځیده، تر څو د موجوده ذخیرو غیر مرکزي کولو او دشریکانولپاره د ترینکوټ، لښکرګاه، تخار او کندوز ښارونو په ګډون په ډیرو نا امنه سیمو کې د ګډ ګدام د جوړولو ملاتړ زیات کړي،. په راتلونکې کې به ، یشري ټولنه به د هغو سپارښتنو پلې کولو ته دوام ورکړي چې په ساحه کې د چمتوالې د ودې سبب ګرځي او بشر ي ټولنې وړتیا ته وده ورکري تر څو د ناببره اړتیاوو د رامنځته کیدو په صورت کې په غوره توګه غبرګون ښکاره کړي.

بشري

# لاسرسی

د لاسرسي خنډونه په ډېرو سیمو کې بشری عملیاتونو ته ننګوني رامنځته کوي، په ځانګړي توګه هغه سیمې چې جګړه پکې روانه ده.. سره له دې ،په افغانستان کې بشر ی لاسرسی داغیزمنتیا عوامل ډېر زیات خواره واره دي. د چاپیر یال اړوند څخه پیل، بیوکراتیک خنډونه، د شخړو اړوند نا امني،او د همکارانو اړوند خپل ځاني سانسور پورې تړاو لري. ددې لپاره چې مخ پروړاندې لاړشو باید د خلکو لاسرسي ته ډېر پاملرنه وکړو.

په ورته وخت کې شریکان په ساحه کې پاته کیدو ته هڅول پکار دي تر څو ډېر اړو خلکو ته مرستې ورسیږي بې له دې چې د دوی د اوسیدو ځای په نظر کې ونیسو که څه هم ناامنۍ او د سیمه ایز کنټرول بدلول په ۲۰۱۷ کې د لاسرسی وضعیت بدې کړې ولې بشري فعالانو ډېرو خلکو ته د رسیدلو لپاره پیاوړي او ښې هڅې کړي. په می ۲۰۱۷ کې، د لاسرسي نظارت او راپور ورکولو کاري چوکاټ پداسې حال کې پیل شو چې د بشری پرسونل، شتمنیو او تاسیساتو په وړاندې د تاوتریخوالي خنډونو پراته وو ، د ټولو پېښو ٤۰ سلنه ددې خنډونو له امله وه. اضافې خنډونه چې په مساوي پیمانه راپور شوي، هغه : بنسټیز وچوپړتیاوو او مرستو ته د وګړو محدود لاسرسی؛ د بشري مرستوفعالیتونو په پلې کولو کې لاس وهنه، نظامې عملیاتونه او روانې شخړې. د لاس رسی زیات محدودیتونه او د جبري بې ځایه کیدو لوړه کچه پنځو ولایتونو کې ورته والی لري چې دوی په ۲۰۱۷ کې د داخلي بی ځایه شویو کسانو د دریمې برخې کوربه توب کوي او بادغیس، هلمند، کابل، ننګرهار او اروزګان پدې کې شامل دي - دا روښانه کوي چې تر کومې کچې د اړتیاوو پوره کولو لپاره هڅې د تاوتریخوالي او خنډونو له امله ندي بشپړې شوی او د غبر ګون د ځنډیدو لامل شوې. د. - د کوښښونو کچه یا اندازه سره له دې هم د پیښو ریښتینې کچه چې په ټول افغانستان کې د بشر دوستانه عمل مخه نیسي، د شریکانو لخوا د کم او نیمګړی راپور ورکولو له امله نده معلومه .

په هرصورت، د بشر لاسرسی مسایل د بېښود څخه پس د سیمه ایزو خبرو اترو په ترخ کې په څو ورځو کې حل کیږي. په ۲۱۰۸ کالې کې به ډېرې هڅې وشي تر څو د هغې مودې څارنه وشي چې پکې د جګړې اړوند د لاسرسید خنډونو حل لارې لټول کیږی. ، او همدارنګه به هغه اغیزې چې د دولت د وسلوالو مخالیفیونو لخوا د روغتیا او ښوونې اسانتیاوو د تړلو له امله رامنځته کیږی . او وروسته په دې سیمو کې د فعالیتونو د دوام لپاره د اړونده همکارانو رضایت به هم وڅارل شي. د ۲۰۱۷ کال په اوږدو کې د روغتایی مرکزونو د قصدي تړلو له امله ، ۲ میلیونه خلکو بنسټیز روغتیایی خدماتو ته لاسرسی نه درلود،ځکه چې دولت وسلوالو مخالیفیونو د ناروغیو د ثبات او د ناروغانو د مدیریت د خدماتو د ښه کولو غوښتنه کوله. ، نو له دې امله د کره شمیرو ساتل او د هغه همکاران چې په شخړو کې د ښکیلو خواوو سره یه سیمه ایزه کچه خبرې کول غواړي ، د هغوی ملاتړ په لومړیتوبونو کې راځي.بشرې مرستو ته د لاسرسې ډله(HAG) په افغانستان کې تر ټولو لومړنی فورم دی چې د عملیاتي همغږۍ له لارې د بشر دوستانه لاسرسي مسلو شننه او بحث تر سره کیږي . په ۲۰۱۷ کال کې دHAG ډلې په سیمه ایزه کچه په سویل، شمال او لویدیځو سیمو کې تاسیس شوې تر څو د لاسرسي د ستونزو د حل لپاره، د لاس ته راغلو تجربو او غوره کړنو پر بنسټ یوې پراخې او ټولنیزې کړنلارې ته وده ورکړی او چیرته چې اړتیا وي د لاس رسۍ د خبرو اترو ملاتړ وکړي. ته وده ورکړي، د تر لاسه شوي تجربواو غوره ازموینې بدلول، او چیرته چې اړتیا وې د لاسرسې خبرو اترو ملاتړ. د سیمیې پر بنسټ د احتمالې پلان جوړنې تمرینونه هم تر سره شوي تر څو د مرستندویه ادار ې و هڅوي چې هغو سیمو ته چه لاسرسی ورته ګران دی لکه ( ولایتي پلازمینو د سقوط په وخت کې) د موادو د ځای بر ځای کولو، د مخامخ خبرو او دهمکارانو د وړیتا د لوړوالي لپاره د اضافي بشري سرچینو برابر ولو له لارې ، هلته پاته شوي او په بیړنیو حالاتو کې مرستې ورسوي.

د CHF د دویم تخصیص په توګه، HAG هغه هڅې هم پر مخ وړي چې په هغو سیمو کې بیړنی غبرګون بهتر کړي چې په عمومي توګه همکارانو لخوا ورتګ سپارښتنه نه کیږي ، او د کلسترونه د همغږۍ د ډلې سره په شریکه د هغو ولسوالیو لست جوړ کړي چې لاسرسی ورته ستونزمن ده، او هلته د نویو بیځایه شویو ارزوني او مرستي لپاره د بشري ټولنې وړتیا اندازه کړي .

لاس رسي اړوند پیښې (۲۰۱۷)



دا لیست - چې د څو فکتورونو لکه دجګړې کچه، امنیتي پیښې، سیمیز کنټرول، د روغتیایي چوپړ تیاوو بنسټیزو کڅوړو پوښښ(BPHS) او کیفیت/ د اړتیا سره سم روغتیایي چوپړ تیاوو کڅوړه(EPHS), ، د همکارانو د کمی کچې شتون او د تر سره شویوارزونې د شمیرو پر بنسټ جوړ شوي- په ځانګړې توګه داشمیره له دې سببه هم مهمه ده ځکه چې سږ کال د ترسره شویو ارزونو یوازې دریمه برخه په هغو سیمو کې ترسره شوې چې لاسرسی ورته ستونزمن ده. په. په ۲۰۱۷ کال کې، یوازې ۱۲ سلنه ارزونې د ولسوالیو اداري مرکزونه (DACs) څخه په لرې سیمو کې تر سره شوې، او په سیمو کې هیڅ ارزونه نده ترسره شوې چې د دولت په واک کې ندي. . په واقعیت کې، هغه وګړي چې د دولت له واک څخه په بهر سیمو کې اوسیږی د داخلي بې ځایه شویو د رسمي غوښتنلیک سیستم ته لږ یا په بشپړه توګه لاسرسی نه لري. ، چې دې کار د بشري همکارانو هغه وړتیا چې د ا شدیدو اړتیاوې معلومې کړي او ورته غبرګون وښيي ، ډیره کمه کړې ده. . د CHF لخوا هغو سیمو ته چې لاسرسی ورته ستونزمن ده ، ۲۰ میلیونه امریکایي ډالرو بیلوولو پریکړه همکاران دې ته هڅولې چې له خپلو پر امنه سیمو څخه را ووځې او ټول امکانات وکاره وي، ترڅو تر ټولو زیاتو زیانمنو ته لاسرسی پیداکړي ، نه چې هغو سیمو ته بیرته وروګرځي چیرته چې دوی د لاسرسی څخه خوند اخلی او هلته اړتیاو ې شتون لري ولي دیرې جدي نه وي لکه څنګه چې جګړه مخ پر زیاتیدو ده او د دولت شتون د هیواد په ډیری برخوکی مخ په کمیدو دی، نو دا به مهمه وې چې پر هغو پرمختګونو پانګونه وشي ، چې په سیمو کې د بشر دوستانه فعالیتونو لپاره دوامداره سرچینو تمویل له لارې لا له وراندې لاسته راغلي دي. . ، تر څو تر ټولو اغیزمن شویو وګړو د ژوند په کیفیت کې د پام وړ لاسته راوړنو درامنځته کیدو باعث شي.. دا به نه یوازې د بشري کړنو ساحه پراخه کړي بلکه ټولو اړو وګړو ته به د اصولو سره سم په برابره توګه بشري مرستې ورکړل شي ، بی له دې چې دې ته وګوري چې سیمه د چا په کنټرول کې ده.





**کاري**

# وړتیا

د نویو او را منځته شویو بحرانونو په وړاندې د غبرګون عملیاتي ظرفیت د ۲۰۱۷ کال په نږدې دریو ربعو کې د ۱۵۳ ملي او نړیوالو شریکانو پروژو اداره کولو یا پلي کولو له لارې لاهم پیاوړی ده. د نویو او رامنځته شویو کړکیچونو پر وړاندې د غبرګون عملیاتي وړتیا د ۲۰۱۷ کال په دریو ربعو کې د هیواد نږدې د ۱۵۳ ملي او نړیوالو همکارانو پروژو اداره کولو یا هم پلي کولو له لارې تر اوسه هم پیاوړې پاتې ده . د راتلونکو کلونو په ترڅ کې به د ملګرو ملتونو د همکارۍ د پوښښ د پراختیا لپاره هڅې وشي او په هغو سیمو کې چې پکې د کنټرول په سرسیالي روانه ده او یا د دولت تر کنټرول لاندې ندي. هلته به په خپل وخت باندې اړو خلکو ته د مرستو او مصؤنیت اسانتاوې برابرې کړي.

په ټولیزه توګه، په څلورو لایتونو کې ، چې بشري اړتیاو ې ډیرې جدي دی ، د بشري فعالانو شتون په ښه توګه رامنځته شوی چې په کابل او ننګرهار کې دا وضعیت بیا بیخې ښه ده ، چې په ننګرهار او کابل کې په ځانګړې توګه ښه پاملرنه شوې ، چیرته چې ۹۰ سلنه برخه کې پنځه پنځه شریکان کې په سلو کې ۹۰ فعالیت کویپه. په ۲۰۱۷ کال کې کومه بشري مرسته چې دغو څلورو ولایتونو ته رسیدلې وه د ټولو هغو مرستو چې افغانستان ته چمتو شوې وې دریمه برخه جوړوله. د عملیاتي غبرګون ظرفیت په هغو ولسوالیو کې چې د NSAGs له لورې کنټرول یا هم نفوذ لري ، د هلمند، پکتیکا، ارزګان او زابل په ګډون په څو ولایتونو کی د غبرګون کاري وړتیا ډیر محدوده دی،ځکه چې هلته نړیوالې موسسې د امنیتي خنډونوله کبله فعالیت نشي کولای . ټول هغه موسسات چې په ارزګان ولایت کې فعالیت لري د ولایت پلازمینې ترینکوټ کې ځای پر ځای شوي. همدا رنګه په هلمند ولایت کې ۱۹ بشري همکارانو لښکرګاه ته پام اړولی دی، پداسې حال کې چې په څلور ولسوالیو کې یوازې یو یا دوه همکاران موجود دي . که چیري په ۲۰۱۸ کال کې جګړه خپره شي او د دولت شتون نور هم کمزوری شي، اداري باید د وسله والو ډلو سره د مذاکراتو د لاسرسي په برخه کې د تجربه لرونکي او مهارت لرونکي وي او په لومړۍ لیکو کې فعالیت وکړي د دې هڅو د ملاتر لپاره ، د لاسرسی خبرو اترو په اړه د نادولتي مؤسسو لپاره د روزنې په شمول، لا دمخه پلان شوي دي.

د شخړو او طبیعی پیښو څخه اغیزمنو ټولنو ته د اسانتاوو په چمتو کولو کې د حکومت ظرفیت ډیر مهم دی، او په ۲۰۱۷ کې د افغانستان په ۳۴ ولایتونو کې د ۵ میلیونه افغانیو چمتو شوي بیړني بودیجې له لارې، په ډیرو لایتونو کې داخلي بی ځایه شویو او راستنیدونکو ته د وړو مرستې چمتو کړې چې د دوی وړتیا وده په ګوته کوي. تمه کیږي چې د پیښو د مدیریت ملِي سیستم (NDMIS)چې په ورستویو کې پیل شوی، دا به په افغانستانَ کې د پیښو پروړاندې د چمتوالي د ملي ادارې د بیړني غبرګون د مدیریت ظرفیت لوړ کړي .. دا سیستم به حکومت ته وړتیا ورکړي چې پیښې ثبت کړي، د ارزونې شمیرې سره یوځای کړي، خطرونه وپیژني، د ناورینونو امله اغیزمنې سیمې په نښه کړي او د پیښو د خطر د کمولو( DRR ) فعالیتونه تعقیب کړي، ، او داسې هیله کیږي چې د ۲۰۱۸ کال تر پایه به د هیواد په کچه د فعالیت وړ وې. د بشري فعالینو ډیره برخه د نا دولتي، ملګرو ملتونو دفترونه او اړوند موسسو له خوا همغږي او چمتو کیږي. د حکومت د غبرګون وړتیا یوازې په هغو سیمو پورې تړلې ده چې چیرته د دوی شتون وې. د سره میاشتی او سره صلیب ټولنې د بشري مرستو چمتو کولو یا رسولو په موخه د هیواد په هغو سترو برخو کې چیرته چې نور همکاران نه شي کولای لاس رسی پیدا کړي ځواکمن کیدونکې ګڼل کیږي.

د سره صلیب نړیوالې کمیټې (ICRC) ورستۍ پریکړه چې په شمالې سیمو کې د دې ادراې په کارکوونکو باندې د برید له امله خپل شتون راکم کړي نو دا به په ستونزمنو سیمو کې په ځانکړې توګه په میمنه او کندز کې ، له اړو وګړو سره ، د بشري ټولنې د مرستې په وړتیا اغیزه وکړي

د سره صلیب د جغرافیای پوښښ د کمښت د اثر د له منځه وړلو په موخه به داسې تګلارو ته اړتیاوې چې لاسرسې پیاوړی کړي او همدارنګه به د ښه والي موخه ا به لاره اچول کیږی ، او همدا رنګه د پسپنه ورکونکو سرچینو ته د لاسر سي لپاره باید ملې او سیمه ایزو فعالان د غبرګون وړتیا لوړه او مالي او اداري حساب ورکونې ظرفیت بډایا کړي. OCHA، له پخوا دغو هڅونو یا کوښښونو څخه له مختلفو لارو نه په کار اخیستنه ملاتړ کوي. درې کاله مخکې، یوازې دوه ملې موسسې وې چې د CHF بسپنه یې ترلاسه کولای شوهخو په

د کاري همکارانو شمیر د هري ولسوالي په سطح



۲۰۱۷ کال کې، دغه شمېره ۱۹ موسسو ته ورسیده. CHF  په اوسمهال کې له د سره صلیب له نړیوال فیډریشن سره سلا او مشوره کوي، چې د غړیتوب غوښتنلیک یې تسلیم کړی چې د محاسبې پروسه یې تر کار لاندې ده. .د بریتانیا د نړیوالې پرمختیا څانګه (DFID) د یوې مرستې په پروګرام کې د افغان سوکالۍ او پراختیا لپاره د همغږۍ د اداري دفتر (ACBAR) ته فنډ ورکوي ترڅو د بیا رغونې په یو پروګرام کې په ځانګړې توګه هغه ملي انجوګانې  په نښه کړي چې د CHF د وړتیا په پروسه کې ندي بریالی شوي ، او دوی له نړیوالو همکارانو سره  په یو ګروپ کې یوځای کړي،  تر څو نړیوال همکاران دوی ته مشورې ورکړي

دې کار په افغانستان کې د موسسو ملي ظرفیت په پیاوړي کولو کې مرسته کړې ده. نن د CHF له ۱۹ په شرایطو برابر همکارانو څخه، تقریبا نیمایي (۱۰) د ACBAR د غبرګون پروګرام پخوانې یا هم اوسنې همکاران دي.



غبرگون

# ځارنه

بشري ټولنه به اغیزمنو وګړو او بسپنه ورکونکو ته د بشري مرستو حساب ورکونه د دوامداره ځارنې اود ځواب وينې د اغیزمنتیا او تکافو د راپور ورکونې له لارې ځواکمنه کړي. د بشري فعالیت او د سرچینو اغیزمنه کارونې لپاره په مناسب وخت د پلان شویو پلانونو ځارنه اړينه ده.

د ۲۰۱٦ کال په بشري ناسته کی تر سره شوي ژمنو ته په کتو سره، او د بشري اجنډادځلورمی مادی د پرځای کولو په منظور او ملاتړ به- له مرستي رسوني پی ل او د اړتیا له منځه وړلو پوري به وی؛ کومې پایلې چې په دغه ځو کلنیز غبرگون پلان کې ځرگندي شوي، د کلسترنو د غوښتنې کچه را کمولو په موخه په افغانستان کې ترسره شوي، تر څو د بریالیتوب کچه د چوپړتیا یا خدمتونو برابرولو په حساب د کال په دوران کی اندازه او وټاکل شی، د دې پر ځای چې دکچی د اندازه کولو معیار د وخت په تیریدا سره وګړو د اغیزمنتیا او خطر راکمیدو پر بنیاد وټاکل شی . د ځارنې کار چوکاټ له ځانه سره وضعیت ،حالاتو ته رسیدنه، او د پایلو تحلیل په بر کی نیسی ترڅو د هغه فعالیتونو اغیزمنتوب په ګوته کړی چه په HRP کی شامل دی، او د خلکو په ژوند کې د پایلې په بنسټ بدلونیکی له ورایه ځرګند شی.مهمه ده چه وواېو چه هغه ټول معلومات چه د یادداشتونو د چوکاټ یا logframe لپاره اړین دی په لاس کی نلرو، له دې امله پدې هوکړه شوی چې دیادداشتونو چوکاټ او موخې به د پلې کیدو په اوږدو کې پیاوړې او اصلاح شي، د HCT پریکړو کولو کې به ښه والي راوستل شی او ستراتیژیک غبرگون کی به اسانتیاوی رامنځ ته شی. په داسې یو سیستم کې لاندې بخشونه شامل دي:

- هڅې جریان لری تر څو د 3Ws نقشې کولو له لارې عملیاتي شفافیت ته وده ورکړي ترڅو داړ ترلاسه شي چې موسسې د فزیکي شتون سره سره د بیرنې غبرگون ظرفیت هم لري . په دې کې د هغو ادارو تر منځ توپیر شامل دی چې دو لسوالیو په کچه فعالیتونه پلې کوي او هغه یوازې د ولایت په پلازمینه کې ځای پر ځای دي. او همدارنګه په نقشه کې د هغو ساحو راوستل چې د روغتیا خدماتو بنسټیزو اسانتاوو (BPHS) قراردادیان او نادولتي سازمانونه د بشردوستانه غبرگون پلې کوي ، تر څو دډیرو شریکانو د شتون تاثیر کم کړي چې چې به حقیقت کې هغه شان نه وي.
- دغبرگون د پلان د ستراتیژیکو ، کلسترد موخو ، شاخصونه او اهدافو د په ښه کولو لپاره به شریکان اړ وي چې دتر سره شویو کړنو او اغیزمنو وګړو ته د لاسرسي میاشتني تفصیل پورته کړي. تر څو د خپل منځي او پر خپل وخت کړونو نقشه جوړه شي د راپور د بهترۍ ، په ځانګړې توګه د ملګرو ملتونو او ملي نادولتي موسسو دشریکانو خپل منځینې راپور، او د وسایلو د زیاتوالي لپاره به د اضافي روزنیز پروګرامونو اسانتیاوې برابرې کړي.
- د نظریاتو رسمي او منظمه څرخیدنه، او د بشري ټولنې سره د بشري ټولنې د خپل منځې اړیکو د مرکز(ICAC) لخوا په منظمه توګه د معلوماتو ،نظریاتو او شکایتونو شریکول . دا به د پلان په بدلولو او د اغیزمنو ټولنو اصلي اړتیاوو او لومړیتوبونو ته غبرگون ښودلو کې مرسته وکړي او همدارنګه به حساب ورکونې ته وده ورکړي.
- د بشري ټولنې او پرمختیایي همکارانو تر منځ د د بشري غبرگون پلان او ون یو این وی پرګرامو موخو د پرمختګ په اړه معلوماتو منظمه تبادله. دا به داړ تر لاسه کړي چې اغیزمن خلک چې پخوا یې د بشري مرستو له لارې اړتیاوو ته ځواب ویل شوی،اوس به پرمختیایي پروګرامونو کې هم په واقعیت کې شامل شوي دي، د دې لپاره چې هیڅوک پاتې نشي ا

## راپور ورکونه

د بشر ي کړنوسخت محدیتونه چې د بشري حقونو ځانګې غبرگون په پلان کې تعریف شوی دی دا په ډاګه کويچې د اهدافو په لور پرمختګ ډیره کلکه او همغږې ځارنه اړینه ده او ځمکنې شرایطو ته په پام سره د اصلاحاتو اقدامات پلي شي. پدې کې د زیان منو داخلي بې ځایه شویو او راستنیدونکو ځواکمنولو لپاره په اړتیاوو کې ناځاپې زیاتوالی او د اوږدې مودې پراختیایي پروګرامونو وړتیاوی شاملی دي ترڅودوی خپل ځان دبسیاتې احساس وکړي.. د logframe په وړاندې ځارنه پلان شوي چې هر درې میاشتې د ژور معلوماتو سره او د کلستر د کچې شننې د نظارت راپور به په دوه دوره یې راپورونو کې چمتو کړي چې د کال په نیمایی او پای کې به خپور شي. د کال د نیمایی دوره یې راپور به داسې ترتیب شي چې د ۲۰۱۸ کال تر نیمایی پورې په ټول افغانستان کې د ارزونې پلان شوې موندنې شاملې کړي، کومې به چې بیا د ۲۰۱۹ کال د بشري اړتیاوو په ارزونه کې ځای پرځای شي او غبرګو ن په ورتیا کې نور ښه والي راولي. د تیر په څیر د غبرگون منظمه ځارنه به د عامه بشري بودیجې لپاره د معیاري تخصیص ستراتیژۍ د څرګندولو اساس جوړوي

**لندیز**

# اړ وګړي، هغه وګړي چې مرستي لپاره غوره شوي دي او مالي غوښتنې

| غوښتنې ( په ډالرو کې) | هغه وګړي چې مرستې به تر لاسه کړي | اړ وګړي |
|---|---|---|
| ٤۳۰ میلیون | ۲,۸ میلیون | ۳,۳ میلیون |



## اړ وګړي، هغه وګړي چې مرستي لپاره غوره شوي دي او مالي غوښتنې

| ۱.په بیړني حالت کې زدکړه(پوهه)<br>۲.بیړني سرپناه او غیر خوراکي توکي<br>۳.اوبه، روغتیا او حفظ الصحه<br>٤.څوسکتوریزي نغدي پیسې | ټول ټال: وړاندیز شوي اړیني مرستي | مرستو ته غوره کړل شوي وګړي | د موقف له مخې: په جګړه کې بې ځایه شوي وګړي | د موقف له مخې: جګړې له کبله اغیزمن شوي وګړي | مرستو ته غوره کړل شوي وګړو تفصیل: په طبیعي پیښو کې اغیرمن شوي وګړي | بې اسناده راستنیدونکي | کډوال راستنیدونکي | کوربه ټولنې | پاکستاني کډوال | د جنسیت او عمر له مخې: نارینه سلنه ښځینه سلنه ماشومان سلنه* | غوښتنې: کډوالو ته ځواب ورکول | غوښتنې: ټول ټال (ډالر) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بیړني حالاتو کې زده کړه۳ | ۰,٤ میلیونه | ۰,٤ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | - | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | - | - | ۰۲زره | ۰ \| ۰ \| ٪۱۰۰ | ۰,۳میلیونه | ۲۹,۷میلیونه |
| بیړنی سرپناه او غیر خوراکي توکي۱ | ۰,۹ میلیونه | ۰,۷ میلیونه | ۰,۳ میلیونه | - | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۵۰زره | - | ۳۵زره | ۲۰ \| ۲۱ \| ٪۵۹ | ٦,۵میلیونه | ۵۳میلیونه |
| خواړو خوندیتوب۲ | ۱,۹ میلیونه | ۱,۷ میلیونه | ۰,۳ میلیونه | ۰,۸ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | - | ۳۷زره | ۲۲ \| ۲۲ \| ٪۵٦ | ۵,٤میلیونه | ۹۰,٦میلیونه |
| روغتیا | ۱,٦ میلیونه | ۱,٦ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۱,۲ میلیونه | ۰۲زره | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | - | ٤٦زره | ۲۲ \| ۲۲ \| ٪۵٦ | ۰۱میلیونه | ٤۱,٦میلیونه |
| تغذیه | ۱,۱ میلیونه | ۰,۷ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۰,٦ میلیونه | ۲٤زره | ۲۰زره | ۲۳زره | - | ۲۳زره | ۰ \| ۲۹ \| ٪۷۱ | ۰,٦میلیونه | ۵۵,۷میلیونه |
| خوندیتوب | ۱,۵ میلیونه | ۱,۱ میلیونه | ۰,۳ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۲٤زره | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۱۹ \| ۲۰ \| ٪٦۱ | ۷,۱میلیونه | ٦٦,۵میلیونه |
| اوبو او حفظ الصحه | ۱,۱ میلیونه | ۰,۸ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | - | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | - | ۰,۱ میلیونه | ۲۱ \| ۲۱ \| ٪۵۸ | ۲,۳میلیونه | ۲۳,۵میلیونه |
| ګڼ سکتوري نغدي پیسې٤ | ۰,٦ میلیونه | ۰,٤ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | - | ۱۷زره | ۰,۲ میلیونه | - | - | - | ۲۱ \| ۲۲ \| ٪۵۷ | - | ۳۷,۱میلیونه |
| ټول ټال | ۳,۳میلیونه** | ۲,۸میلیونه** | ۰,٤ میلیونه | ۱,۵ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۲۱ \| ۲۲ \| ٪۵۷ | ۲۳,۱میلیونه | ٤۳۰میلیونه *** |

*ماشومان (له اتلسو کلونو کم)، لویان (۱۸-۵۹ کلونو)، مشران (له ۵۹ کلونو لوړ) ** ټول ټال ارقام د کالم د ټول ټال په معنا نه دي، ځکه چې کیدای شی یو ډول وګړي څو څو ځله ښکاره شي. *** په ټول ټال کې (یو این ایچ اې ایس) او هغمرۍ هم برخه لري

# دويمه برخه:

# کاري/فعاليتي غبرګون پلان

- په بيړني حالت کې زدکړه
- بيړني سرپناه او نا خوړکي توکي
- خواړه خونديتوب او کرهنه
- روغتيا
- تغذيه
- خونديتوب
- اوبه، اوبه او حفظ الصحه

- ګڼو موخو لپاره نغدي مرستي
- د کډوالو څېرکې

د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته

۰,٤ میلیونه

هدف شوي وګړي

۰,٤ میلیونه

غوښتنې (امریکايي ډالر)

۳۰ میلیونه

ګټه اخیستونکي وګړي (امریکايي ډالر)

۲۰۱۷: ۵۰-۵٦

۲۰۱۸: ۸۵-۱۰۰

# په بیړنۍ حالت کې زدکړه

په افغانستان کې د بیړنیو حالتو کې د زده کړې کاري ګروپ EiEWGموخه دا ده چې د ناوړین څخه اغیزمنو افغان نجونو او هلکانو لپاره اړونده ښوونې او روزنې ته خوندي او مساوي لاسرسی چمتو کړي.

د بنسټیزو زدکړو حق د ۱۹۸۹ کال د ملګرو ملتونو د ماشومانو د حقونو کنوانسیون کې شامل دی او همداررنګه د ۱۳۸۲ کال په اساسي قانون کې ځای پر ځای او تصدیق شوی دی. په هر صورت، په بیړنی حالت کې د زدکړې لاسرسی د ژوند ژغورنې مداخله هم ده . په بیړنیو حالاتو کې د زدکړېEiE په فزیکې او رواني توګه د موجودیت په معنی دهږ ؛ دا ماشومان د واټونو څخه لرې کوی چیرته چې دوی د ناوړې ګټې اخیستنې او استثمار له ګواښو سره مخ دي. او یو داسې چاپیریال ته یې بیایي چیرته چې د دوی د پراختیایي او سنجوي اړتیاوو ته ځواب ویل کیږي. دEiE فعالیتونه نه یوازې د دودیزو موضوعاتو محتوا، ریاضي، ساینس او ژبو باندې تمرکز کوي بلکه د ژوند مهارتونو او د ژوند ژغورلو پیغامونه هم پکې شامل دي.

EIEWG ۳۵۱۰۰۰افغان ماشومان چې د کړکیچونو له کبله له ښونځیو څخه بهر دي؛ چه دا د طبیعي پښو یا شخړو له کبله بې ځای کیدنی نتیجه ده،یا هیواد ته د بیرته ستنیدلو له امله دی، دوی او د دوی کورنیو مخکې نه وو لیدلی ځکه چې ډیر وخت د بېځایه کیدو په حالت کې ژوند کړی . د بیړنیو پیښو له امله د دغو اغیزمنو ماشومانو زیاته برخه د بیځایه کیدو څخه وړاندی مکتبونو ته تلل، او ډیری بیرته راستانه شوي ماشومان د راستنیدو څخه وړاندی په ښوونځو کی شامل وو. دا یو بدمرغه حقیقت دی،چې د څومره هم ماشوم له ښونځې څخه بهر پاتې وې د بیرته راستنیدو امکان یې ډیر لږ وي. ښوونه او روزنه د ماشومانو په ژوند کې د عادي ژوند په بیرته را ګرځولو کې مرسته کوي او راتلونکي ته هیله مند کیږي، د تاوتریخوالې او بې ځایه کیدو رواني ټولنیز اغیز کموي.

د کړکیچونو له امله اغیزمن شوی ماشومانو ته به دلنډ مهالی زدکړې۶۰۰۰ مرکزونه یاTLSاویا هم د ټولنې په کچه زدکړېCBE تاسیسات جوړ او پلی شی، (د لمړنیو زدکړو د مختلفو صنفونولرل به ماشومانو ته چانس ورکړی تر څو د لویدو تر وخته همدلته پاتی شی او د لری سیمو ښونځیو ته د تللو جوګه شي) دEiEWGs له خوا ددغو موډلونوملاتړ کیږی او د زدکړی د لږ تر لږه معیاري روزنې او زدکړې موادو لکه ټولګې خونې، د ښونکې ځانګې او د انفرادي زدکونکو ګټګورۍ پکی شاملی دی. موخه دا ده چې دEiEs کیفیت فعالیتونو لپاره ۶۰۰۰ نوې ښوونکو ګمارل او روزل په ځانګړې ډول د ښځینه ښونکو په روزنه کې- او په غوره توګه هدف شوي ټولنې څخه ډاډ تر لاسه کولو لپاره د کلتوري ا و ژبنې وړتیا د ظرفیت په ګډون د مورنۍ ژبې کارول.

د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې به دEiEWGs لاندې کاري ځواک د د ښوونکي د روزنې ریاست روزنیز بور د پوهنې وزارت په موافقه او په بیړنویو حالاتو کې د زدکړو د بین الاداراتي شبکي د اصولو سره سم ، د ښوونکو د روزنې (په پیړنویو حالاتو کې د زدکړې) کڅوړه نوره هم بډایا کړی. د ۱۵۰۰۰ مسلکي ښونکې (نوي او موجوده) به په ماشومانو متمرکز، دجنسیت حساسیتونه، خوندیتوب او د ښونې دلچسپه میتودولوژي، او همدا راز د ټولنی په ملاتړ تمرکز

## په پلان کې د اړو وګړو د حالت، عمر او جنس په اړه جزئیات

| | د حالت له مخې | | | | | | | د جنسیت او عمر له مخې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | جګړه کې ځپل شوي | د طبیعي پیښو اغیزمن | د پیښو څخه اغیزمن | بې اسناده راستنیدونکي | راستنیدونکي کډوال | د کوربه ټولنو غړي | پاکستاني کډوال | نارینه سلنه / ښځینه سلنه / ماشومان سلنه* |
| د ۲۰۱۸ کال لپاره اړینه مرسته | ۰,۲ میلیونه | - | ۹۰ زره | ٦۰ زره | ۸۰ زره | - | ۲ زره | ۰ \| ۰ \| ٪۱۰۰ |
| په نښه شوي خلک | ۰,۲ میلیونه | - | ۹۰ زره | ٦۰ زره | - | - | ۲ زره | ۰ \| ۰ \| ٪۱۰۰ |
| مالي غوښتنې | ۲۹,٤ میلیونه | | | | | | ۰,۳ میلیونه | |

*ماشومان ( له اتلسو کلونو کم)، لویان ( ۱۸-۵۹ کلونو)، مشران ( له ۵۹ کلونو لوړ)

## اړیکې

منان کوټک
همغږی کوونکی
mkotak@unicef.org

کترینا کلیوان
همغږي کوونکې (co-chair)
karina.kleivan@reddbarna.no

وکړي. سربېره پردې، ښوونکي به د ژوند ژغورلو پیغامونو لکه د ځمکنین ماین پاکۍ او د استحصال په وړاندې ځان ساتنه، د ژوند مهارتونو لکه د حفظ الصحې وده، روغتیا او د تغذیې پوهاوی په برخو کې روزل کیږي.

سر بیره پردې، ښوونکي به د ژوند ژغورلو پیغامونو لکه د ماین پاکۍ پوهاوي او د استحصال په وړاندې ځان ساتنه،د ژوند مهارتونه لکه د حفظ الصحې وده،د روغتیا او تغذیې پوهاوي په برخو کې هم روزل کیږي. دا یو نړیوال درس دی چې دEiE د ژوند ژغورلو پیغامونو او د ژوند د مهارتونو درسونو سره نه یوازې زدکونکو ته رسیږي بلکه د دوی کوچنې او مشران ورونه او خویندی، همدا رنګه والدین او نیکونه، او نور د ټولنې غړی هم په بر کی نیسی . په پای کې دEiEs په ژوند کې د ژوند ژغورلو پیغامونو او د ژوند مهارتونو کې د حقیقي ګټه اخیستونکو شمیره به د نښه شوي ۳۵۱۰۰۰ څخه ډیره لوړه وی.

EIEWGبه په بیړنیزو حالاتو کې د ماشوم ساتني(CPiE) سره نژدې کار وکړي، تر څو فرعي کلستر، یونیسف او د یوناما د څارنې دغبرګون میکانیزم (MRM)ټیم چې د شخړو له امله ترل شوي ښونځې نقشه کړي، ارزونه وکړي چې جګړه ځنکه پر پوهنیز سیستم اغیز کوي، او خوندیتوب ته رسیدنه وکړي.

EiE دا هم په نظر کې لري چې د چمتوالي او غبرګون د پلان په ګډون همغږې پیاوړې کړي، ، چې ا له بیړنیزو حالاتو سره د تړي خطر او زیان په کمولو کې مرسته کوي، او د ښونځې عمر لرونکو ماشومان ته رسیدنه نوره هم پیاوړې کوی په ستونزمنو سیمو کې اوسیږي. په EiE کې د روزنو لړۍ، همغږۍ، او د معلومات اداره په ملې او سیمیزه کچه د ۲۰۱۷ کال په اوږدو کې پلی شوي دي. او په ۲۰۱۸ کال کې به هم دوام ومومي تر څو د ښه پوهاوي او تخنیکي ظرفیت لرونکې همغږۍ رامنځته کړي، چې دموخې سره په تناسب کې ده. د WASH له کلسټر سره همکاري په ۲۰۱۸ کال کې نوره هم پیاوړې شي تر څو د WASH د تاسیساتو لپاره جنډر ځواب ورکونکي سایټ لړ معیارونه پلي کړي. په ۲۰۱۸ کې به نږدې ۱۵۰۰دښونځیو پر بنسټ شوراګانې ( دښونځې مدیریت کمیټه/ د والیدنو و ښونکې ټولنه) د EIEWGشریکانو لخوا ورزول شي. شوراګانې د ټولنو د استازو د ګډون یو متفاوت ګروپ دی چې د نوم لیکنې په جریان کې د جنډر توپیر ته د رسیدلو لپاره او د منفې اغیز میکانیزمونو سره مبارزه لپاره وسیله ده، لکه د وخت د مخه واده او د ماشوم کار کول. برسیره پر دې دا شوراګانې دEIEWGs د شریکانو په توګه خورا اړوند ونډه لري به هغو سیمو کې چې لاسرسی ورته ستویزمن ده او همدارنګه او د کړکیچ اغیزمنو ولسوالیو کې د پوهنې چمتو کولو یا ساتلو په اړه به خبرې اتري کوي شوي. دا شوراګانې دEiEs اغیزمن نفوس یا وګړو ته د حساب ورکونې د مرکزي مخامخ رول لري .

په نظر کې ۳۵۱۰۰۰ ماشومان دهغه ۳،۵ میلیونه ماشومانو ۱۰ سلنه جوړه وی چې له ښونځې څخه بهر دي. د افغانستان دHRPs ۲۰۱۸-۲۰۲۱ اصولو سره سم، د EIEWGټول له ښونځې څخه بهر ماشومان د اړینو وګړو په ډله کې نه حسابوي ، ځکه چې د بشري او اږدمهاله اړتیاوو تر منځ توپیر کوي. د پوهې کموالی یا نشتوالی د غربت او نه پرمختګ له کبله نه شي کیدای چې د بشردوستانه کړنو له لارې و پوښول شي. سره له دې مونږ د ۳،۵ میلیونه له ښونځې څخه بهر ماشومانو پوهنې ته اړتیا تصدیقوو. په هر صورت، دا مهمه خبره ده چې په تیرو ۱۵ کلونو کې لاسته راوړنې د اوسنیو بې حده ګڼه ګوڼې له کبله له لاسه نه ورکول کیږي، چې مونږ یې په ډیرو لمړنیو ښونځیو کې شاهدان یو، بې ځایه شویو او راستنیدونکو د ډیر شمولیت له امله چې د رسمې تعلیمي سیستم مخکینی نازک حالت له خطرسره مخ کوي . د پراختیایي تمویل کونکو لکه نړیوال بانک سره به EIEWG خبرې په راتلونکو کلونو کې پیاوړې شي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې EiE او پراختیایي زدکړو فعالیتونه له حد څخه زیات نه شي، مګر په ستراتیژیک او معلوماتي ډول سره انتقال ومومی.

اکثرا ویل کیږي چې بشري مرستې په اوږدمهال او اوږدې مودې ثبات او پراختیا کې د وګړو په ژوند محدودې اغیزې لري. په هر صورت، په EiE کې هر ډول پانګونه د افغانستان په سوله ایز او سوکاله راتلونکې کې پانګه ګڼل کیږي. افغان ماشومان هم بیړنیو حالاتو کې زده کړې ته اړتیا نه لري، دوی په ځانګړې ډول به بیړنیو حالاتو کې زده کړې ته اړتیا لري.

## د لګښت پرتله کول

په ۲۰۱۸ کال کې، د زده کړې لپاره د هر ماشوم منځنی لګښت نږدې ۸۵-۱۰۰ امریکایي ډالره دی. په ۲۰۱۷ کال کې،EiEWGد پوهنې وزارت د لارښونو او معیارونو پر بنسټ دغه لګښت ۵۰-٦۵ امریکایي ډالر ښودلی وه- ولې د موسساتو عملیاتي ل او لوژستیکي او ستونزمنو سیمو ته درسیدو لګښتونه پکی شامل نه و.

زده کړې او سِن بکیچ موخه د لنډمهاله زده کړې ځایونه، د ټولنې پر بنسټ زده کړه، د ښوونکو هڅونه او روزنې او د زده کړې موادو چمتو کول دي. د ۷۰۰۰۰۰ اړ ماشومانو له ډلې څخه، کاري ډلې د UNICEF, (Education Cannot Wait( ECW او نورو بسپنه ورکونکو په مالي ملاتړ د ۲۰۱۷ کال تر نومبر پورې ۱۱۰۰۰ ته لاسرسی پیدا کړه . د عملیاتي ستونزو سربیره، د ښوونې او روزنې کاري ګروپ ټیټ لاسرسی ،د کم راپور ورکولو او ځینې بسپنو چې یوازې په دې وروستیو کې ترلاسه شوي، له کبله هم ده . تمه کیږي چې دواړه ستونزې به په خپل وخت حل شي.

| د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته | |
|---|---|
| | ۰,۹ میلیونه |
| هدف شوي وګړي | |
| | ۰,۷ میلیونه |
| غوښتنې (امريکايي ډالر) | |
| | ۵۳ میلیونه |
| ګټه اخيستونکي وګړي (امريکايي ډالر) | |
| | ۲۰۱۷: ۱۰۰<br>۲۰۱۸: ۱۷۹ |

# بيړني سر پناه ا او غير خوراکي توکي

## د غبرګون لومړيتوبونه

په افغانستان کې د بې ځايه شويو او بيرته راستنيدونکو وګړو د سرپناه اړتياوې بيا هم لوړ لومړيتوب پاتې دی. بيځايه کيدنې اوس هم دوام لري او وسره د ځمکو د قرارداد ستونزې او د اوږد مهال حل نشتون دا په ګوته کوي چې په ۲۰۱۸ کال کې به وضعيت ښه والی ونه مومي. . تر ټولو زيان منونکې کورنۍ به د کم لګښت او له معيار څخه په ټيټو سرپناوو کې ژوند وکړي چې د نور بستيزو چوپړتياوو څخه ډيرلرې دي،د کراپې دلورو لګښتونو له امله،له دوو څخه زياتې کورنۍ به مجبورې وي چې د ګټې ګوښې استوګنې شريکې کړي چې د ښځو او انجونو لپاره به شخصي محرميت محدود کړي. د سرپنا ورته حالتونه هغو کورنيو کې ليدل کيږي چې طبيعي پيښو له کبله اغيزمنې شوي. ځينې کورنې چې په ۲۰۱۶ کال کې د طبيعي پيښو اغيزمنې کړې دي تر اوسه پورې د سرچينو د نشتوالي له امله يې خپل کورونه بيا ندي رغولې. ډيرې کورنۍ پخپلو خرابو او زيانمنو شويو کورونو کې اوسيږي. په داسې حال کې چې نورو د مقاومت د ميکانيزم په توګه، د کوربه کورنيو سره پداسې حال کې پناه موندلې، چې د هغوی له ګنجايش څخه بهر ده.. هغه وګړي چې د تاوتريخوالي او طبعي پيښو له امله اغيز وګړي د سر پناه بيړنې ملاتړ ته اړتيالري. همدارنګه ځينې اغيزمنې را ستندونکې کورنۍ هم تر هغه وخته د سرپناه ملاتړ ته اړتيالري تر څو چې دوی بيرته له خپلو ټولنو سره يوځای کيدو ورتيا پيداکوي. ،.د. ژوندانه د لوړو لګښتونو له امله ډيرې زيانمنوکې کورنۍ شايد په نا رسمې استوګنځايونو کې اوسيدو ته اړې شي. چيرې چې د سرپناه لپاره کافي امکانات شتون نلري. په داسې کال کې چې د سرپناه اړتياوې به تر ټولو لومړيتوب وي، په ۲۰۱۸ کال کې به د ژمني توکو د ملاتړ په ګډون ب د کورنې د لومړنيو اړتياوو د توکو دچمتو کولو تمه کيږي. په ځګړو کې ګيرشوې کورنې ډيرې وختونه د تيښتې د لږ وخت د درلودلو له کبله د کور ټول توکي له ځان سره نشې ورای له بله پلوه هغه کورنې چې د طبيعي پيښو له کبله اغيزمنې شوي د خپلو شتمنيو او ملکيت به بشپړه د لاسه ورکولو تجربه له ځان سره لري.

په هغو سيمو کې چې لاسرسی ورته نه کيږي او يا ورته لاسر سی ستونزمن ده، هلته به د هغو کورنيو په ګډون چې ښځينه مشرانې لري ، د تازه ناورينونو له امله اغيز منې کورنۍ او همدارنګه را ستنې شوي کورنۍ به د بيړنی سرپناه او غير خوراکي تو کو د مرستو لپاره په نظر کې ونيول شي تر څو د عناصرو شخصي مصؤنيت ،محرميت، وقار ډاډمن شي او دساتنې او روغتيا خطر راکم کړي.

کلستر به د زيان منونکو کورنيو لپاره چې په موقتي او خرابو سرپناوو کې ژوند کوي د سر پناه موجوده شرايطو ته وده ورکړي. د سرپناه ورته مرستې به له هغو ډيرو زيانمنو کوربه ټولنو سره وشي چې په لوړه شميره بيځايه شوي او راستنيدونکې لري. . د اوږدې مودې داخلي بې ځايه شوي او راستنيدونکي چې د کرايې خونديې ترونونه لري، له دوی سره به د انتقالي کورونو د جوړولو لپاره وشي چې د دوی محرميت، رواني ښيرازي، خونديتوب او مصؤنيت ته وده ورکړي، او همدارنګه د دوی منځ مهاله اړتياوې بوري شي تر څو ورته د اوږد مهال حل لارې پيدا کيږي. هغه کورنۍ به د ژمني مرستو لپاره په لومړيتوب کې وي چې سختې اړتياوې لري او سختې

## په پلان کې د اړو وګړو د حالت، عمر او جنس په اړه جزئيات

| | د حالت له مخې | | | | | | | د جنسيت او عمر له مخې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | جګړه کې ځپل شوي | د طبيعي پيښو اغيزمن | د پيښو څخه اغيزمن | بې اسناده راستنيدونکي | راستنيدونکي کډوال | د کوربه ټولنو غړي | پاکستاني کډوال | نارينه سلنه<br>ښځينه سلنه<br>ماشومان سلنه* |
| د ۲۰۱۸ کال لپاره اړينه مرسته | ۰,۴ میلیونه | - | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | - | ۴۰ زره | ۲۱ \| ۲۲ \| ۵۷٪ |
| په نښه شوي خلک | ۰,۳ میلیونه | - | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۵۰ زره | - | ۴۰ زره | ۲۰ \| ۲۱ \| ۵۹٪ |
| مالي غوښتنې | ۴۶,۵ میلیونه | | | | | | ۶,۵ میلیونه | |

*ماشومان ( له اتلسو کلونو کم)، لويان ( ۱۸-۵۹ کلونو)، مشران ( له ۵۹ کلونو لوړ)


### اړيکې

مارتا کاوډانکور
همغږې کونکې
بيړني سرپناه او نا خوراکي توکي
kowdonko@unhcr.org

باقر حيدري
د کلسترونو همغږې کونکې
haidari@unhcr.org

ژمي سره د مقاومت وړتیا نه لري.

### د پلې کولو ډولونه

د سرپناه د بشپړ پایلو تر لاسه کولو په موخه، کلسټر به څو سکټوریز مدغم شوي پروګرامونو ته وده ورکړي، تر څو له خوندی فزیکي ځایونو ، د خوندیتوب د خطر کموالی او نورو بنسټیزو چوپړتیاوو ته د لاسرسي څخه ځان مطمئن کړی.

دغه کړنلاره په ځانګړي ډول په ستونزمنو سیمو کی اغیزمن شویو کورنیو ته د مرستي چمتو کولو په برخه کې خورا مناسبه ده. همدارنګه ګډه پلان جوړونه او هم د ES-NFI ځانګړي سکټور اړوندو اړتیاوو ارزوني په برخه کې هیله کیږي چې د غوښتني اړوند پایلي تر لاسه شي. او دا به د کم تر کمه معیارونو او د تولني د شاملیدا پر بنسټ پلې، او د خوندي فزیکي ځایونو ډاډ ترلاسه شي .

په چمتوالي کې د کافي اندازی ذخیره کول ، او د ګډون ګودامونو کاروني ته به لومړیتوب ورکول کیږی. کلسټر به د ویش په محال څارنه او له ویش څخه وروسته څارني ته نوره هم وده ورکړي تر څو ټولنو ته د حساب ورکوني په برخه کې ، او د ښې پروګرام جوړوني او کورنیو د ښه تعقیب په برخه کې پیاوړتیا رامنځته کړي ، او همدا رنګه په ټولو فعالیتونو کې، لکه ځمکې او ملکیتونه، خوندیتوب او د جندر اړوند مسایل په ټولو پروګرامو کې ځای پر ځای کړي.

د سرپناه جوړولو او پرمختګ لپاره نغدي پیسي به د بازار تحلیل او اصلي اړتیاوو پر بنسټ وي، او کلسټر به د خوندي کورنو د جوړولو لپاره د ټولنو ظرفیت لوړولو په موخه مناسبه تخنیکي مسوده چمتو کړي. د کرایې پیسی به یوازې هلته کارول کیږي چیرته چې نور دبېړني پناهځایونو کارونه امکان نه لري.

کلسټر د ځانګړو اړتیاوو ارزوني وسیله جوړه کړي چې زیان من شویو وګړو ته د ښې لاسرسی په موخه پکی د زیانمن شوی وګړی د نمبرو په اساس په کټګوریو ویشل کیږی. کلسټر به د دواړو، نغدو پیسو او یا کالیو(جنس) ویش ته دوام ورکړی تر څو اړتیاوو ته په وخت سره ځواب وویل شی. د ولایتونو په کچه همغږي به دکلسترونو د استازو په حضور کی کیږی تر څو د پروسی اغیزمنتوب ډاډمن کړی. کلسټر به ځایونه د سخت لاسرسی او اړتیاوو په بنسټ درجه بندی کړی، او د حکومت او پراختیایي فعالینو تر منځ همغږی به د دایمي اړتیاوو په راکمولو کی مرسته وکړی.

### په نښه شوي وګړي

د نږدې ۸۶۸۰۰۰ خلکو څخه چې بیړني پناه غوښتني NFIs ته اړتیا لري، کلسټر به ۶۳۴۴۵۹ کسان په نښه کړي؛ ۴۰۷۷۵ وګړي به د اوږدمهاله اړتیاوو سره د دولتي پروګرامونو له لوري مرسته وشي چې DIREC سره په تړاو لرلو او د ملګرو ملتونو- هبیټاټ له لوري د HRP څخه بهر ملاتړ کیږي. زیانمن شوی کورنی چې د بیړنیزو حالاتو له کبله اغیزمنې کیږی او دجبري بې ځایه کیدنی له خطره سره مخ وی، او هغه کسان چې په

ازادو او بی سرپناه ځایونو کې ژوند کوي، به په لمړي قدم کی د کلستر موخه وي. هغه زیانمنونکي کورنې چې په موقتي ډول یا د ژوند په بیوزلو شرایطو کې ژوند کوي، د اوسنیو پناهځایونو ته د ودې ورکولو په موخه ، او هغه کورنې چې په خوندي شرایطو کې ژوند کوي د انتقالي کورنو جوړولو لپاره مرسته تر لاسه کړي.

کلستر به ۴۶ میلیونه امریکایي ډالر ته اړتیا ولري چه دغه رقم ۳۰ سلنه عملیاتي لګښتونه هم په بر کی نیسی تر څو په مناسبه توګه د NFI چمتو کولو پوري تړلي مرستی لکه په ژمي کې د سون توکي، بیړنۍ سرپناوې (کیږدۍ/خیمه او له پلاستیکی فرشونه) د غوره ځواب ویلو یا غبرګون په موخه، او همدا رنګه د شته اغیزمن شویو پناهځایونو چه په ډیرو خرابو شرایطو کې قرار لری مرسته وشی، او د هغو خوندي کورنیو لپاره ملاتړ چې انتقالي پناهځایونو کې اوسیږي. د ۲۰۱۷ کال په پرتله د ټول ټال بودیجې زیاتوالی د هغه عواملو له کبله را منځته شو چې د ۲۰۱۷ کال بودیجې پلان جوړوني کې ورته پام نه وه شوی په شمول د سر پناه ځایونو د لوړو مصارفو. په دې کې ۳۰ سلنه د عملیاتي لګښت (۱۰،۷ میلیونه امریکایي ډالر)، د ژمي لګښت، (۸،۲ میلیونه امریکایي ډالر)، او د بې اسناده بیرته راستنیدونکود مرستو د بیړني ویش لګښت چې پولې ته د رسیدو ورسته چمتو کیږي (۵ میلیونه امریکایي ډالر). د ټول ټال بودیجې بر سیره، UNHCR پلان لري چې د کلسترر همغږی لپاره د دوه اړخیزو مرستو له لارې ۱،۷ ملیون امریکایي ډالر چمتو کړي.

### د لګښت پرتله

په ۲۰۱۷ کال کې د یو انتقالي سرپناه لګښت ۷۰۰ امریکایي ډالرو ته د هر کور په سر رسیده، ولی د ۲۰۱۸ کال لپاره، لګښت ۱۲۵۰ امریکایي ډالرو ته د هر کور په سر لوړ شو. د NFIs لپاره لګښت د پخوا په څیر پاتې دی، ۸۵ امریکایي ډالر لکه څرنګه چې په ۲۰۱۷ کال کې وه. په ۲۰۱۷ کې د اوسني کور یا پناهځای په پراختیا کې د کورنۍ سره د مرستي لپاره د اصلي وسیلو لګښت ۱۵۰ امریکایي ډالر دی. مګر، داړتیاوو ارزوني او PDMs ادا ښکاره کوي چې یوازې د بنسټیزو وسایلو چمتو کولو په ترڅ کې او تر څو چې مادي مرستې د بیارغوني څخه پاتې کورنیو لپاره چمتو نه شي، و به نه توانیږی چې خپل پناهځایونه و رغوي. له دی امله، ۱۵۰ امریکایي ډالر نور هم په کې علاوه شو چې ټول ټال ۳۰۰ امرکایي ډالرو ته د هر کور په سر په ۲۰۱۸ کال لپاره لوړ شو. په ۲۰۱۷ کال کې، د هر کور لپاره د بیړني پناهځای چمتو کولو لپاره د خیمې او د دوه پلاستیکي فرشونو لګښت ۲۱۲ امرکایي ډالر پر بودیجه کې شامل شو. دغه د لګښت د ځایي او نړیوال تدارکاتو پر بنسټ ۳۵۰ امریکایي ډالرو د هر کور په سر زیاتوالی وموند.

د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته

۱,۹ میلیونه

هدف شوي وګړي

۱,٦ میلیونه

غوښتنې (امریکایي ډالر)

۹۱ میلیونه

ګټه اخیستونکي وګړي (امریکایي ډالر)

۲۰۱۷: ۲۰

۲۰۱۸: ۲۰

# د خوړو خوندیتوب او کرهنه

FSAC د ټول ټال ۱،۹ ملیونه د خوړو د خوندیتوب له اوږدمهاله نشتون سره مخ وګړي چې د دریو بشري عواملو له اړخه اغیزمن شوي (جګړه، طبیعي پیښې او د پولې تیریدنې په کچه کډوالې) له ډلې څخه به ۱،٦٥ ملیونه وګړي (۸۳۹۵٦۹ نارینه او ۸۰٦٦۴٥ ښځینه ګټه پورته کونکي) خپله موخه وګرځوی. د خواړو خوندیتوب اړتیاوې د هیواد په کچه پراخې دي د FSAC همکاران به ژوند ژغورونکې مرستي د ټولو ۳۴ ولایتونو د اړتیاوو پر بنسټ چمتو کړي. هغه کورنۍ چه ښځینه مشرانی لری د نارینه مشرانو لرونکو کورنیو په پرتله ٦۷ سلنه ډیر د خوړو د خوندیتوب له نشتون سره مخ دي ، چې ددی په پام کی نیولو سره میرمنو او نجونو ته د غبرګون په پلان کې لومړیتوب ورکړل شوی دی. د خواړو خوندیتوب ډیر غبرګون به په مشرقي، شمالی او سویلي سیمو تمرکز وکړي. هغه ولایتونو ته چې د بی ځایه شویو او بیرته ستنیدونکو شمیر پکی زیات دی او هغه لایتونه چې د طبیعي پیښنو پیښیدنه په کې لوړه ده لکه سیلابونه او وبا ناروغۍ ته لمړیتوب ورکړل شی، لکه چې په SFSA کی بادغیس او غور ولایتونه د لوړی کچی د خوړو نا خوندی ولایتونه په ګوته شویدي. نوری اغیز منی شوی ډلې چې موخه ګرځول شوي دي (چې د کلستر په موخو کې به بیا ښکاره شي کوم چې د FSAC په ویب پاڼه کې وړاندې شوي) په لاندې ډول دي: FSAC لومړې موخه: ۱،٦۴٦،۲۱۴ نارینه، ښځینه او ماشومان به خوړو ژوند ژغورونکې مرستې ته لاسرسی ولری. دغه شمیر کې ۱۲۹،٦۰۰ بې اسناده او ۱۴۴،۰۰۰ اسناد لرونکې بیرته راستنیدونکې له پاکستان او ایران څخه برخه لری؛ ۳۰۹،۸۲٥ په جګړه کې ځپل شوي IDPs؛۸۰۱،۹۹۱ جګړه کې ځپل شوي وګړې کوم چې په خپل اصلي ټاټوبې کې ژوند کوي؛ ۱۳۱،٥٦٥ په طبیعي پیښو کې اغیزمن شوي وګړي؛ ۹۲،۲۳۲ د حاصلاتو آفتونو په ترس کې اغیزمن شوي کروندګر؛ او ۱۴۰۰۰ پاکستانې کډوال شامل دي. FSAC دویمه موخه: ۷۲٥،۰۰۰ وګړې به د معیشت اړوند خوندیتوب تر لاسه کړي. په دغه شمیره کې، ۴۱۰،۰۰۰ جګړه ځپلې نا بې ځایه شوي کروندګر؛ ۱۰٥،۰۰۰ په طبیعي پیښو کې اغیزمن شوي وګړي؛ ۱۰۰،۰۰۰ د حاصلاتو په ترڅ کې اغیزمن شوي کروندګر؛ او ۱۸،٥۰۰ پاکستانې کډوال شامل دي. UNHCR او د هغه ملګري به ۷۰،۰۰۰ بې اسناده او اسناد لرونکو بیرته ستنیدونکو ته مرستې چمتو کړي.

FSAC دریمه موخه: FSAC به له OCHA، ICCT،او اړوند وزارتونو او سیمیزو ریاستونو سره د بیړنیز چموتوالی او FSAC د همکارانو د غبرګون ظرفیتونو پیاوړي کولو په موخه ښکیل شي، تر څو نا ځاپې او بیړنیزو پلانونه ته وده او پرمختګ ورکړی، او همدا رنګه د غوره او پروخت همغږي شوي خوړو دخوندیتوب ارزونې او د غبرګون د ظرفیت ته وده ورکړی.

FSAC د اټکل پر بنسټ ۹۰،٥ ملیونه امریکایي ډالرو ته د ژوند ژغورنی دمرستې دغبرګون په موخه په ۲۰۱۸ کال کې اړتیا ده. FSAC د خوست او پکتیکا د کډوالې دغبرګون سر بیره، بادغیس، بغلان، فاریاب، غور، کابل، کندهار، کندز، ننګرهار او ارزګان ولایتونو ته د ډیرو اړتیاوو او د خطرونو په وړاندې اغیز منینې پر بنسټ لومړیتوب ورکړی.

FSAC به په ټول افغنستان کې د خوړو خوندیتوب حالت وڅاري، د په لاس کې لرلو وسایلو په کار ولو سره د په وخت سره اخطار ورکونې ډلې دمعلوماتو له لارې، تر څو ستونزمنو ته د رسیدنې او سیمو اړتیاوې و پیژني، دا هغه سیمې دې چې بشري همکاران له پخوا نه دغو سیمو ته لاس رسي په برخه کې ستونزې لري. سر بیره پر دې چې

## په پلان کې د اړو وګړو د حالت، عمر او جنس په اړه جزئیات

| | د حالت له مخې | | | | | | | د جنسیت او عمر له مخې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | جګړه کې ځپل شوي | د طبیعي پیښو اغیزمن | د پیښو څخه اغیزمن | بې اسناده راستنیدونکي | راستنیدونکي کډوال | د کوربه ټولنو غړي | پاکستاني کډوال | نارینه سلنه / ښځینه سلنه / ماشومان سلنه* |
| د ۲۰۱۸ کال لپاره اړینه مرسته | ۰,٤ میلیونه | ۰,۹ میلیونه | ۰,۳ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | - | ۷۰ زره | ۲۲ \| ۲۲ \| ٥٦٪ |
| په نښه شوي خلک | ۰,۳ میلیونه | ۰,۸ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | - | ۳۷ زره | ۲۲ \| ۲۲ \| ٥٦٪ |
| مالي غوښتنې | ۸٥,۲ میلیونه | | | | | | ٥,٤ میلیونه | |

*ماشومان ( له اتلسو کلونو کم)، لویان ( ۱۸-٥۹ کلونو)، مشران ( له ٥۹ کلونو لوړ)


## اړیکې

عبدالمجید

د کلسترونو همغږي کونکی

abdul.majid@fao.org

هیریک کینیفیک

د کلسترونو همغږي کونکی (co-lead)

eric.kenefick@wfp.org

د FSAC همکاران د ژوند ژغورنې او معیشت خوندیتوب اړوند مرستو په ویش کې اړین دي، FSAC به د اړتیاوو رهبري کولو او دغبرګون لومړیتوب جوړونې په برخه کې د یو منظم پلان چې د اړتیاو د تحلیل او ارزونې پر بنسټ وي نور هم دوام ورکړي.

FSAC غبرګون به په دوو ډېرو اړینو ژوند ژغورونکو لومړیتوبونو باندې توجه وکړي- دخوړو، او معیشت خوندیتوب اړوند مرستې او ملاتړ. د خوارو اړوند مرستې به د مناسبو موډلونو له لارې چمتو شي (د نغدو پیسو واوچر، او یا هم په د توکیو او خوړو ویش) بازار او حالاتو ته په کتو سره . کلستر به د خپلو همکارانو په مرسته بازار ارزونې ته نور هم دوام ورکړي، په ځانګړې ډول د بیوو او خوړو لاسرسي اړوند. د کلستر د کړنلارې همغږې کول د خوړو دمرستې اړوند، د خوړو د یوی بستې لګښت د یوې ۷ کسیزې کورنې لپاره ۹۰ امریکایي ډالره یا هم ۶۰۰۰ افغانۍ د یوی میاشتې په موده کې ټاکل شوی د تر څو ۲۱۰۰ کیلو کالوري/ یوکس/ یوې ورځ لپاره تر پوښښ لاندې راولي.

د خوړو دبستې دمواد او اندازه د لویو او وړو تغذیې غوښتنې پر بنسټ ټاکل شوي دي، که څه هم داوسنې بازار بیه په بازار کې د هیواد په مختلفو ځایونو کې مختلفه ده. له دوو څخه تر دریو میاشتو خواړو مرسته به ټولو اغیزمن شویو ډلو ته د اړتیاوو پر بنسټ چمتو شي.

د کلستر همکاران به د معیشت خوندیتوب ته دوام ورکړي، البته د ډېر اغیز من شویو وګړو په ځانګړې ډول ښځینه مشري لرونکي کورنیو سره په هغو سیمو کې چې هلته مونږ د غبرګون ښکاره تشې/خلاوې لرو، او هغه ټولنې چې نه شي کولی چې له طبیعي پیښو سره مخ شي او د ولړې پر وړاندې جګړه وکړي، هغه سیمې چیرته چې ناوړه تغذیه او د وګړو معیشت سیستم ته ګونښونه شتون لري مرستو ته دوام ورکړي.

ددغه موضوعاتو په برخو کې د وړو پیښو له کبله اغیزمن شوي کروندګرو ته ملاتړ، د حاصلاتو لپاره پر وخت د تخمونو ویش (لکه؛ غنم،جوار، حبوبات او سبزي) هم شامل دی. د مالدارۍ ملاتړ به پوازې د مالدارۍ د خوندیتوب په برخه توجه کوي، چې دا هر څه به د څارویو واکسین او درملنه د ناروغیو د رامنځته کیدو له امله اړ او همدا رنګه د تغذیې ملاتړ شامل وی.

د ښځو د برخې اخیستنې په تایید سره د چرګانو ساتنې او مالدارۍ په برخه کې، د غبرګون غټه برخه به د ښځو ګټه اخیستونکو پر خوا سوق شي. د FSAC همکاران هم په ټیټه کچه د مرغانو ساتنې فعالتیونو پلان جوړونه کوي تر څو لاسرسی ته وده او د ناوړه تغذیې مخه ونیسي. UNHCR، WFP او د دوی همکاران به د مهارتونو لوړولو پروګرمونه او د مرستو ویش چمتو کړي، تر څو دعاید رامنځته کولو فعالیتونو ته لاره برابره کړي، په ځانګړې ډول افغان راستنیدونکي او پاکستانې کډوال. د FSAC لومړیتوب دا دی چې ټولو اغیزمن شویو ډلو ته پر وخت خوړو اړوند مرستې چمتو کړي، په ځانګړې ډول په ژمي او د ولړې لوړې کچې په موسم کې، د جګړه کې اغیزمنو او بې اسناده راستنیدونکو ته به لومړیتوب ورکړل شي. FSAC به د اغیزمنیدو شرایط چې د کلستر او ICCT د کچې د ترون پر بنسټ مرستو چمتو کولو ته دوام ورکړي،نو ځکه ښځې او معلولیت مشري لرونکي کورنې او هغه کورنې چې تر لاس لاندې والي تناسب په کې لوړ وي لومړیتوب به ترلاسه کړي. په جګړه او طبیعي پیښو کې اغیزمن شوي سیمې او ځایي وګړي به په نښه شي ترڅو د خوړو او معیشت

سیستم باندې فشار کم کړي او د شتمنیو د کمښت او کډوالې مخه ونیسې کوم چې د دایمي خوړو نا خوندیتوب او ښاري فقر سره منځته راځي. پاکستانې کډوال به د ژوند ژغورونکو مرستو تر لاسه کولو ته دوام ورکړي. WFP او UNHCR په دغو ورستیو کې دتفصیلي اړتیاوو ارزونه تر سره کړي ده، تر څو مناسب او د منلو وړ معیشتي پروګرامونه پر لاره واچوي او د اوږدمهاله ګران/ قیمته خوارو د ویش فشار لږ کړي. د وچې هوا موسم څخه ژر وروسته چې له اپریل څخه پیلیږي، پوازې په بې ځاری توګه اغیزمنې شوی کورنې به خواړه تر لاسه کړي هغه کورنې چې لا پاتې دي، هغه چې څواکمن ځان لري، د خواړو د خوندیتوب پایښت لپاره د معیشت فعالیتونو کې به ښکیل وي.

FSAC به د تشو یا خلاوو پیژندلو ته د ربع پر بنسټ دوام ورکړي، غبرګون څارنې او سر له وخته تاسیس شوې سیستم (د مخه خبرداری ورکونکی سیېتم) په مرسته. FSAC به له همکارانو سره، بسپنه ورکونکو او ICCT سره ډېر نژدې کار وکړي تر څو په غبرګون کې تشې یا خلاوې را کمې کړي. ګډه ارزونه د HEAT له لارې او د ګډ غبرګون لیږد پیسې به ستونزمنو سیمو ته چمتو شي تر څو له ورته والي څخه مخه ونیسې او د غبرګون اغیز لوړې کچې ته ورسوي. FSAC ، تغذیه او WASH کلسترونه به هم ډېر نژدې سره پر IPC ارزونې کار وکړي، تر څو د ګډ غبرګون لپاره لومړیتوب لرونکې برخې وپیژني. پر وخت اړتیاوو ارزونه، دسهامې راپور او محاوره یې د مخه خبرداری سیستم به په اغیزلرونکي ګډ بشري غبرګون په برخه کې مرسته وکړي. FSAC کولی شي چې د ظرفیت جوړونې اړتیا معلومه کړي به ځانګړې ډول د ارزونې، څارنې او د خواړو خوندیتوب او معیشت غبرګون په برخو کې، او خپل ظرفیت جوړونې نوښتونو ته به دوام ورکړي له دولتي او ځایي همکارانو سره یو ځای، تر څو د یو با کیفته غبرګون څخه چې د لړ تر لړه نړیوالو معیارونو سره سمون ولري. کلستر به د ګډو مسلو لکه عمر، جنډر، چاپیریال، معلولیت اړوند ځانګړي کړي، اغیزمنو وګړو ته د حساب ورکونې رسول. ۵،۶ ملیونه وګړي د هیواد په کچه په ځانګړې توګه د جګړو او طبیعي پیښو اغیزمنو سیمو کې د خوراکي توکو نا خوندیتوب سره مخ دي. د بشري کار تر منځ ښکاره اړیکې جوړونه، وخت رغیدنه او پراختیا پیدا کول د دوامداره حل لارو په برخه کې هم اړینه ده. FSAC به د خپلو کاري اړیکو پیاوړې کولو ته نور هم له ګټو پراختیایی برخوالو سره دوام ورکړي، لکه MAIL، MRRD، ANDMA، نړیوال بانک او موسسې تر څو دخوړو او معیشت اړوند تشې یا خلاوې ډکې کړي، په ځانګړې ډول په هغو سیمو کې چیرې چې دوامداره دخوړو نا خوندیتوب روان دی یایی هم بیړنیزې پولې شاته پریښې دي.

**د لګښت پر تله**

د ګټه اخیستونکي لګښت همغه شان دی کوم چې په ۲۰۱۷ کال وه- ۲۰ امریکایي ډالر د خوړو مرستې په موخه هر ګټه اخیستونکې لپاره او ۲۱ امریکایي ډالر د معیشت مرستې په موخه هر ګټه اخیستونکي لپاره. د تیر کال په پرتله، پوازې توپیر د وګړو په شمیر کې دی کوم چې کلستر یې د مرستې چمتو کولو په موخه پلان جوړونه کوي

# روغتیا

### د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته

**۱,٦** میلیونه

### هدف شوي وګړي

**۱,٦** میلیونه

### غوښتنې (امریکایي ډالر)

**٤۲** میلیونه

### ګټه اخیستونکي وګړي (امریکایي ډالر)

۲۰۱۷: ٨,٤
۲۰۱۸: ۲٦,۳

د روغتیا کلستر موخه داده چې د په نښه شویو وګړو روغتیایي بیړنۍ اړتیاوې له منځه یوسي: ۱) د تروما یا ترضیضاتو د روحي ضربې مرکزونو ته لاس رسي ، د شوک په ترس کې د اغیزمن شویو وګړو سره رواني او ټولنیزې مرستې او بیا روغونه یې؛ ۲) د زیږون د روغتیا په ګډون ژوند ژغورونکو او بیړنیو رغتیایی اسانتیاوو ته لاسرسی ۳) ناورینونو او آفتونو له امله اغیزمنو وګړو د ژوند ژغورنې بیړنۍ مرستې برابرول ؛ او۴) د ادارو او افرادو په سطح ظرفیت جوړول، تر څو د جګړې له کبله اغیزمن شوي سیمو کې دروغتیا اړوند تاوتریخوالی له منځه یوسي.

د کلستر لومړیتوب به هغو وګړو ته د تروما یا ترضیضاتو مرکزونو چمتو کول وي چې په جګړه ځپلو سیمو کې ژوند کوي چیرته چې روغتیایي چوپړتیاوو ته محدود یا هم هیڅ لاسرسی نه وي . په جګړه ځپلو سیمو کې په ۸۰ داسې ولسوالیو کې د تروما یا ترضیضاتومرکزونه شتون نه لري ، ، د روغتیایی کلستر همکاران به دغو لمړنیو روغتیایي اړتیاوو ته د تروما سنترونو د ایجادولو له لارې غبرګون وښیې ، لکه جراحي، بیا رغونه او فزیوتراپي، هډوکو او مصنوعي غړو د خدمتونو او رواني مرستو لومړنۍ چوپړتیاوې. دغه فعالیتونه به د اوسنیو روغتیایي ادارو د ملاتړ،د نویو تاسیساتو جوړولو، د ټولنې نوښتونو یا د اړتیا په وخت کې د ګرځنده روغتیایي ټیمونو ګمارنې له لارې پلي کیږی . توله پاملرنه به د ترضیضاتو د مراقبت د ټولو کچوپه پیاوړتیا متمرکزه وي چې په هغه کې به ساحوي تریاژ، لومړنۍ روغتیایي مرستې، د ټولنې د رضاکارانو د رجعت ورکونې اود ترضیضاتو د لومړنۍ مرستې مرکزونه شامل وي ترڅو ولایتي/ سیمئیز روغتونونه ځواکمن شي. ، چې او د تخصصي او ترضیضونو د مراقبت خدمتونو د فزیوتراپي، هډوکو او مصنوعي غړو د خدمتونو او رواني ملاتړ اسانتیاوې وړاندې کړای شي.. د روغتیا کلستر همکاران کوښښ کوی چې هغه تشې/خلاوې چې د نورو بشري همکارانو څخه پاتې شوې وی، په د ځانګړې ډول د بیا رغونې، فزیوتراپۍ او هډوکو او مصنوعي غړو پاملرنې په برخه کې ، له منځه یوسی.

دویم لومړیتوب به د جګړې ، طبعي پېښو او په ستونزمنو ولسوالیو کې د وګړو د خوځښت له امله ، د اغیزمنو لپاره د ژوند ژغورلو لومړنیو روغتیایي پاملرنې خدماتو چمتو کول وي، چې د میندو او نوی زیږیدلو روغتیا به پاملرنه وکړي.

کلسترهغه وروسته پاته سیمې نقشه کړې چې د شخړو او د داخلي بېځایه شویو، راستنیدونکو، کډوالو په ګډون د وګړو خوځښت له امله اغیزمنې شوي دي، ، دغه ولسوالۍ په لوړه کچه د میندو او د ۵ کلونو څخه د کم عمر ماشومانو د مړینې شاهدې دي . کلسترژمن ده چې هغو سیمو ته چې وګړي یې روغتیایي چوپړتیاوو ته محدود یا هم هیڅ لاس رسی نه لري، رسیدنه وکړي. دغه کار به د موجوده روغتیایي جوړښتونو، د اړتیا په صورت کې د ګرځنده روغتیایي ډلو په ملاتړ کولو او په نورو بنوسره سرته ورسیږي، ځانګړې پاملرنه به د ښځینه روغتیایي کارکونکو په روزنه او ښکیلتیا باندې وي ترڅو ، د زیږون ، میندو، نوي پیدا شوی ماشومانواو کړاڅو ( ماشومانو)

## په پلان کې د اړو وګړو د حالت، عمر او جنس په اړه جزئیات

| | د حالت له مخې: جګړه کې ځپل شوي | د طبیعي پیښو اغیزمن | د پیښو څخه اغیزمن | بې اسناده راستنیدونکي | راستنیدونکي کډوال | د کوربه ټولنو غړي | پاکستاني کډوال | د جنسیت او عمر له مخې: نارینه سلنه / ښځینه سلنه / ماشومان سلنه* |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۸ کال لپاره اړینه مرسته | ۰,۳ میلیونه | ۱,۳ میلیونه | - | ۷۰ زره | ۸۰ زره | - | ۵۰ زره | ۲۳ \| ۲۳ \| ٪۵٤ |
| په نښه شوي خلک | ۰,۳ میلیونه | ۱,۳ میلیونه | - | ۷۰ زره | ۸۰ زره | - | ۵۰ زره | ۲۲ \| ۲۲ \| ٪۵٦ |
| مالي غوښتنې | ٤۰,٦ میلیونه | | | | | | ۱,۰ میلیونه | |

*ماشومان ( له اتلسو کلونو کم)، لویان ( ۱۸-۵۹ کلونو)، مشران ( له ۵۹ کلونو لوړ)

## اړیکې

دیوید لای
د کلسترونو همغږي کونکی
altafm@who.int

(RMNCAH) ته اړین روغتیایي اسانتاوې برابرې کړي او همدا رنګه د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالی د پېښو مدیریت( درملنې) لپاره د ښځینه کار کونکو ګمارل شامل دي. . د کلستر خپل منځي کوښښونه به هم په لاره واچول شي، لکه د ټولنې خبرتیا او له اوبه او روغتیا پالنه WASH او دتغذیې کلسترونو سره د ناروغیو د خپریدو د مخنیوي او د تر ټولو سخت اغیزمن شویو ټولنو په منځ کې د ناروغتیا او مړینې د راکمولو په برخه کې همغږي رامنځته شي.

د روغتیا کلستر به په وروسته پاته ، د طبعي پیښو له خطر سره مخ او جنګ ځپلې سیمو کې ، د طبې درملتون د کڅوړو او کافي درملو د ځای پرځای کولو سره د بیړنۍ چمتوالی، غبرګون او همغږۍ له لارې بیړنیو حالاتو اود ناروغیوخپریدو ته غبرګون وښیي. او پدې توګه به د روغتیا عامه پیښو ته چې په سیمئیزه کچه د بیړني غبرګون د وړتیا څخه لوړ وي، لاس رسی شونی کړي. . په جنګ ځپلې سیمو کې د هغو لنډه مهاله او اوږد مهاله بندو او ویجاړ شوی رغتیایی اسانتاوو موضوع هم د روغتیایي پاملرنې په غبرګون کې شامله ده. د روغتیا کلستر به له اړوند همکارانو سره روغتیا ته د لاس رسۍ اړوند تاوتریخوالي په له منځه وړلو کې په هره کچه له حکومتي او نورو موسسو سره په شریکه کاروونه تر سره کړي.

روغتیایي همکاران به د جګړو ، طبیعي پیښو او بې ځایه کیدنې له امله ډیر اغیزمن وګړي په نښه کړي. خلکو په غوراوی به د روغتیا اړتیاوو د شدت د تحلیل له لارې ټاکل کیږي د هغو وګړو ټول ټال شمیره ۱.۵ میلیونه ده چې روغتیایي اسانتیاووچوپړتیاوو ته محدوده یا هم هیڅ لاسرسی نه لري. په جغرافیوي موقعیتونو کې د خدماتو رسولو اړتیا لوړ اوډیره لوړه پیژندل شوې ده. . د هیواد په سویل، سویل ختیځ او شمال ختیځ سیمې د لمړیتوب لرونکو په توګه پیژندل شوي دی. هغه ولایتونه چې د اړتیاوو کچه په کې لوړه ده: لکه بادغیس، هرات، کندهار، کندز، ننګرهار، ارزګان او زابل ولایتونه دي. د ۱.۵ میلیونه اړو خلکو له ډلې څخه، ۱۵۰،۰۰۰ وګړي به ژوند ژغورونکي د ټروما (روحي ضربه) روغتیایي چوپړتیاوو ته اړتیا ولري. ۳۰ سلنه میرمنې او ۱۵ سلنه ماشومان به د ترضیضاتو درملنې چوپړتیا ته اړتیا لري به میرمنې وي او ۱۵ سلنه به ماشومان او کوچنیان وي . د دغو وګړو ډیری به په پای کې معلولیت لرنې اړوند پام ساتنې ته اړتیا پیدا کړي کوم چې په ډیرې جګړه ځپلو سیمو کې شتون نه لري او یا هم لاس رسی ور ته نه شي کیدای. د اسې اټکل شوی دی چې ددې کچه به ۴۵ سلنه لوړه وي.

۱۵۰،۰۰۰ له پاکستان او ایران څخه بیرته ستنیدونکي به روغتیایي چوپړتیا ته بیړنۍ اړتیا ولري. په دی کی به ۸۰۰۰ هغه میرمنې چې له زوکړې مخکې، دزوکړې په موده او له زوکړې وروسته چوپړتیا ته اړتیا لري ګډون والې وي. د نا تشخص شویو خپریدنونکو د ناروغیو کتنه او درملنه به د بیرته ستنیدونکو لپاره د لومړیتوب پر بنسټ چمتو شي. د خوست او پکتیکا کډوال (۵۵،۰۰۰ وګړي) به د اړینو روغتیایي چوپړتیاوو چمتو کولو په موخه په نښه کړل شي. د ټاکل شوې پلان موخه داده چې موجوده روغتیایي خدمتونه پیاوړي کړي څکه چې هغو سیمو د داخلي بې ځایه شوې او راستنیدونکي ژوند کوي هلته روغتیایي سیستم نشي کولی د دوی اضافي بار ته ځواب ویلو وړتیا نه لري .. د روغتیا کلستر به د عامي روغتیا وزرات او ولایتي روغتیا ریاستونو د شته ملي اداراتو د ظرفیت جوړونې له لارې ملاتړ کولو او بشپړولو ته لا دوام ورکړي تر څو. دوی دا وړتیا پیدا کړي چې د روغتیا بیړني حالات کابو او له وخته خطرونه په اړه خبراوی ، کشف او د متمایلو ساري ناروغې غبرګون سیستم پیاوړي کړی شي.

د روغتیا کلستر به په ټولو حالاتو کې بین السکتوري کړنلارې څخه ملاتړ وکړي او له نورو سکتورونو سره همغږي کول به خپله موخه وګرځوي. د بیړنیز حالت نازک طبیعت په پیژندلو سره، د روغتیا کلستر به روغتیایي بیړنیز حالاتو ته غبرګون ښکاره کړي او پیژندل شوي تشې/خلاوې به د دوریزې څارنې له لارې، او همدا رنګه د ناځاپي غبرګون اړوند میکانیزمونو له لارې د یو پر وخت او حساب ورکونکي کړنلارې په کارولو سره ډکې کړي.



### د لګښت پرتله

په ۲۰۱۷ کال کې، کله چې ICRC ځیلی خدمات راکم کړل، نو د روغتیا کلستر دا پلان لري چې د بیارغونې له لارې تشې/خلاوې ډکې یا هم له منځه یوسي. د کلستر همکاران به هم ګرځنده روغتیایي چوپړتیاوې هغو وګړو ته چې د روغتیایي امکاناتو جبري پریښودلو په ترڅ کې اغیزمن شوي چمتو کړي. په ۲۰۱۸ کال کې، د هر ګټه اخیستونکي په سر لګښت ۲۶،۲۵ امریکایي ډالر اټکل شوی دی، چه په ۲۰۱۷ کال ۸،۴۱ امریکایي ډالر څخه پورته تللی دی. د لګښت زیاتوالی په بنسټیزه توګه د ګټه اخیستونکو ټول ټال شمیر په مختلفو لارو محاسبه کول/شمیرلو له لارې منځته راځي. په ۲۰۱۷ کال کې په نښه شوي وګړي د اغیز له اړخه پوښول شویو سیمو کې یې ژوند کاوه سربیره په دې چې په ۲۰۱۸ کال کې په نښه شوی شمیره روغتیایي چوپړتیاوو ته اړینو وګړو شمیر دی.

د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته

**۱,۱** میلیونه

هدف شوي وګړي

**۰,۷** میلیونه

غوښتني (امریکایي ډالر)

**۵٦** میلیونه

ګټه اخیستونکي وګړي (امریکایي ډالر)

۲۰۱۷: ۱۰۱
۲۰۱۸: ۸۲

# تغذیه

د تغذیې کلستر دا موخه لري چې د مړینې او ناروغتیا/رنځ زیاتوالي خطر کمولو په برخه کې مرسته وکړي تر ھغو د اغیزمن شویو ډلو تغذیه یې موقف ته وده ورکړي. له پنځو څخه کم عمره ماشومان او امیدوارې او شیدې ورکونکې ښځې

چې جدي خوارځواکۍ څخه سرټکوی د غبرګون د پلان لومړني موخې دي. سر بیره پر دې، د راستنیدونکو ، بېځایه شویو او کوربه ټولنو ھغه اغیزمن ماشومان او PLW چې د خوارځواکۍ د مړینې له لوړ خطر سره مخ دي ، ھغوی د تغذی د غبرګون په لومړیتوب کې وي. . د تغذیې کلستر موخې ۵۰ سلنه د بیړنۍ تغذیې مرکزونوپوښښ لاسته راوړل دي. دغه د سیمیز سټنډرډ لړ پوښښ د (اِن اېچ ایه) چوپړتیاوو لپاره په ډیری کلیوالي نفوسو کې سره همغږې دي.

د ماشومانو پنځوس سلنه چې جدی حاده خوارځواکۍ (SAM) او منځنی حاده خوارځوکۍ سره مخ دي، له پنځو څخه کم عمر لرونکي ماشومان به په ۲۰۱۸ کال کې موخه و ګرځول شي. د (SAM) ۱۵ سلنه ماشومان به بستري درملنې په موخه په نښه کړی شي. سربیره په دی، ۵۰ سلنه ماشومان او PLW چې د ناخاپې کړکیچونو په ترځ کې اغیزمن شوي د بیړنۍ تغذیې غبرګون لپاره به موخه وګرځول شي. د حادې خوارځواکۍ د درملنې چوپړتیا، ۳۴ ولایتونه ( بدخشان، بادغیس، دایکندی، غزني، غور، هلمند، جوزجان، کندهار، کاپیسا، خوست، کنړ، لغمان، ننګرهار، نیمروز، نورستان، پکتیکا، پکتیا، پنجشیر، سمنګان، تخار، ارزګان، وردګ او زابل) چې د سختو ناوړه تغذیې کچې سره مخ دي او دزیانمنیدو عوامل یې لکه تازه بې ځای کیدنه د جګړې د زیاتو شویو پیښو له امله، موخه ګرځول کیږي. پاتې ۱۰ ولایتونه، سربیره په دې چې د HRP برخه نه ده، بیا هم د تغذیې اړوند فعالیتونو سره چې د پراختیایي همکارانو له خوا ترسره کیږي وپوښول شي.

د تغذیې کلستر به ٦۷۴،۷۵۵ تر ټولو ډیر اغیزمن شوی له پنځو کلونو کم عمر لرونکي ماشومان، امیدوارې ښځې او همدارنګه د راستنیدونکو په منځ کې شیدې ورکونکې ښځې هم خپله موخه وګرځوي، او همدارنګه IDPs او کوربه خلک. په دغه کې ۲۰۹۰۰ ماشومان چې د SAM کټګورۍ کې راځي، ۲۳۹،٦۷۵ چې د MAM کټګورۍ کې راځي او ۱۳۷،۰۴۰ ھغه میرمنې چې جدي حادی خوارځواکي تغذیې لري ګډون وال دي. سربیره پر دي، ۴۳،۱۵۱ ماشومان چې ٦-۵۹ میاشتو عمر لري د ھغو خلکو له ډلې چې له نویو کړکیچونو له کبله اغیزمن شوي د ویټامین A متمم تر لاسه کړي او جدي حادي خوارځواکيې لپاره به و کتل شي. د بشپړ متمم خوارړو پروګرام(BSFP) له مخې، تغذیې متمم به ۵۳،۳۵۹ ماشومان چې ٦-٦۹ میاشتو عمر لرونکي او امیدوارې او شیدې ورکونکې میرمنې PLW . ټول ټال د ۰-۲۳ میاشتو عمر لرونکو ماشومانو ۴۹،۲۴۸ میندې چې د کړکیچونو ناخاپي یرغل لاندی راغلي د نوي پیدا او لوی ماشومانو تغذیه، د مشوره ورکولو چوپړتیا لپاره موخه وګرځول شي.

د تغذیې کلستربه د روغتیایي چوپړتیاوو دبنسټیزی کټګورۍ BPHS پلي کونکو سره به نژدې کار وکړي څومره چې د امکان وړ وي، ټول فعالیتونه به د شته جوړښتونه له لارې ورسول شي. NiE غبرګون به د شته روغتیایي امکاناتو له لارې چمتو شي او د ګرځنده روغتیایي ډلې او تغذیې ډلې چیرته چې

## په پلان کې د اړو وګړو د حالت، عمر او جنس په اړه جزئیات

| | د حالت له مخې | | | | | | | د جنسیت او عمر له مخې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | جګړې کې ځپل شوي | د طبیعي پیښو اغیزمن | د پېښو څخه اغیزمن | بې اسناده راستنیدونکي | راستنیدونکي کډوال | د کوربه ټولنو غړي | پاکستاني کډوال | نارینه سلنه<br>ښځینه سلنه<br>ماشومان سلنه* |
| د ۲۰۱۸ کال لپاره اړینه مرسته | ۰,۱ میلیونه | ۱,۰ میلیونه | ۳۰ زره | ۳۰ زره | ۳۰ زره | - | ۲۰ زره | ۰ \| ۲۷ \| ٪۷۳ |
| په نښه شوي خلک | ۵۰ زره | ۰,۷ میلیونه | ۲۰ زره | ۲۰ زره | ۲۰ زره | - | ۲۰ زره | ۰ \| ۲۹ \| ٪۷۱ |
| مالي غوښتنې | ۵۵,۱ میلیونه | | | | | | ۰,٦ میلیونه | |

*ماشومان ( له اتلسو کلونو کم)، لویان ( ۱۸-۵۹ کلونو)، مشران ( له ۵۹ کلونو لوړ)

اړیکې

انتینې دوبامو
د کلسترونو همغږي کونکی
adobamo@unicef.org

پیالي مستفی
د ملګرو ملتونو د ماشومان صندوق
pmustaphi@unicef.org

روغتیايي امکانات د لاس رسي وړ نه وي د اغیزمن شویو خلکو لپاره چمتو شي. کلیدي تغذیي فعالیتونو کې د سختو خوارځواکۍ لپار کتنه، مراجعه کونکي او تعقیب، د خوارځواکۍ درملنه، BSFP، د ویټامین- A متمم، نوي زیږیدلی او لوی ماشوم ته دخوړو ورکونې مشوره، د تغذیي ارزونه او څارنه تر څو په خپل وخت د کیفیت له امکان څخه ډاډ تر لاسه شي، او د ټولنې په کچه د تغذیي معلومات د پروګرام څارنې او پریکړه کولو په موخه معلومات ګډون شامل دی. د ناڅاپه کړکیچونو پرغل لکه بې ځای کیدنه او ناڅاپي نفوسونو خوځښت، د پام کې نیول شویو چوپړتیاوو مخنیوی کوم چې د لویو تغذیو متمم لپاره بنسټ ګڼل کیږي، په بیړنیز حالت کې د نوي زیږیدلی او لوی ماشوم خواړه ورکونه(IYCF-E) او BSFP چمتو کیږي. هغه ماشومان او PLW چې له سختې خوار ځواکۍ سره مخ دي تر ټولو نژدې د (IMAM) امکانوتو ته راجع کیږي چې د BPHS همکارانو لخوا پر مخ بوتلل کیږي. تر کومه ځایه چې د ظرفیت او سرچینو شتون اجازه ورکوي، دګرځنده تغذیي ټیمونه کوم چې له روغتیا سره مدغم شوي د مخنیوي او درملنې چوپړتیاوې کځوړې به سختو رسیدنې سیمو ته چمتو کړي.

د تغذیي کلستر همکاران به د حکومت او همکارانو د ظرفیت لوړولو په برخه کې کار ترسره کړي، تر څو غبرګون ښکاره کړي او د لارښونو معیاري کولو کچه، په بیړنیز حالت کې تغذیي چوپړتیاوو اړوند با کیفیته پروګرام چمتو کړي، چې د ګډ پلې کولو موډولنو د ظرفیت جوړونې په برخه کې سره سمون ولري. د تغذیي حالت په ټول افغانستان کې به د تغذیي څارنې میکانیزم له لارې و څارل شي. روانه څارنه او د نظارت/ څارنې د معلوماتو ارزونه به د تغذیي وختنې خرابیدونکي حالات وپیژني. چیرته چې ژوري ارزونې ته اړتیا وي، د SMART تغذیې سروې ګانې به په لارا واچول شي. د تغذیي کلستر د ملي او ۵ ځایي همږي شبکو له لارې، او MoPH په مرستې سره، د تغذیي ملي اداره PND به د تغذیي غبرګون همغږي کړي. دوریزه څارنه او ارزونه د غبرګون د پرمختګ په موخه د پروګرام د پلي کولو راپور له لورې چې د MoPH او د PND له لارې لاسته راغلی وي تر سره شي.

په افغانستان کې، دایمي خوار ځواکۍ او مایکرو نیوټرینټ کمښت د ۵ کلو کم عمر ماشومانو په منځ کې خطرناک دی. د ۴۱ سلنې شاوخوا کې د ۵ کلونو کم عمر ماشومان له ودې څخه پاتې دي، او ۱۵ سلنه داوسپنې کموالي څخه رنځ وړي یا هم د وینې کموالي سره مخ دي. یوازې ۴۳ سلنه ماشومانو ته په ځانګړې ډول د مور شیدې ورکول شوې. د نوي پیدا او لوی ماشوم په نامناسبه لاره خواړه ورکولو رسم د ۰-۲۳ میاشتو عمر لرونکو ماشومانو په اړوند د خوارځواکۍ او مړینې اصلي عامل دی. مایکرو نویټرینټ کموالی په لوړه کچه شتون لري (۴۰،۴ سلنه اوسپنې کموالی انیمیا- دوینې کموالی) د بیا راوړنې عمر لرونکو میرمنو ډله کې. مورنۍ خوار خواکي په ځانګړې ډول له دوه نسلي دوره د خوارځواکۍ دنویو پیدا شوي ماشومانو لږ وزن درلودلو سبب ګرځي چې په پایله کې یې دغه ماشوم په دوامداره توګه د رشد مخه نیولو او د نوموړې د پوهې ځواک پرمختګ خواریدو سره مرسته کوي. اوږد مهاله ګڼ برخې لرونکي مخنیوي پروګرامونه د هر ډول خوار ځواکۍ مخه نیولو لپاره اړین دي د اغیزمنو شویو ډلو تر منځ. د افغانستان حکومت، د خوارځواکۍ ستونزې په جدیت پیژندلو سره، په دې ورستیو کې د(SUN) له نړیوال خوځښت نوښت سره یو ځای شوی دی. د SUN خوځښت په یو ځای کیدا سره دا تاییدوي چې حکومت په خپله ژمنه چه د خوارځواکۍ د SDG ۲ له منځه وړلو له لارې دریدلی دی.

د NiE غبرګون د تغذیي کلستر له لارې همغږی کیږي او دحکومت او پراختیایي همکارانو داوږدمهاله مخنیوي پر بنسټ کوښښونه بشپړ کړي. روان د مخنیوي پرګرامونو ته په کتو سره لکه د حفظ الصحې روغتیا ساتنې او تغذیي لپاره نوښت(IHSAN)، پرګرام، د ټولنې پر بنسټ تغذیي پروګرام هم او همدارنګه د مایکرونیوټرینټ متمم او اوبدنې پروګرام د دوه کلن ملي واکسین ورځې (NID) د سختې خوارځواکۍ د خطر مخه نیولو کې د اغیزمنوکو میرمنو او له پنځو څخه ټیټ عمر لرونکې ماشومانو په منځ کې مرسته کولی شي. د تغذیي کلستر همکاران به د راجع اړیکې د مخنیوي کونکي او ژوند ژغورنکو چوپړتیاوو تر منځ. د هغو ماشومانو میندې چې د سختې خوار ځواکۍ خطر سره مخ کیدو په اړوند پیژندل شوي، د (MUAC) کتنې په اوږدو کې او هغه ماشومان چې سخت خوارځواکۍ پروګرام له درملنې راوځي ، هغوی به هم د ټولنې پر بنسټ تغذیي مشوره ورکونې خدمات یا چوپړتیاوو ته راجع کیږي. سربیره پر دې، د تغذیي کلستر په خپله ژمنه ولاړ دی چې له نورو تغذیي حساس کلسترونو سره کار وکړي لکه (روغتیا، اوبه او روغتیا پالنه WASH)، خواړه خوندیتوب او داسې نور) تر څو ګډو برخه لرونکو ازموینو څخه او مدغم شوي پروګرامونه څخه ملاتړ وکړي.

### د لګښت پرتله

په ۲۰۱۷ کال کې، د تغذیي کلستر ۶۸ ملیونه امریکایي ډالرو غوښتنه وکړه د بیړنیزی تغذیي غبرګون لپاره چې د ۶۶۲،۰۰۰ وګړو لپاره وه. د هر ګټه اخیستونکي د بیړنیز تغذیي چوپړتیا لپاره ۱۰۱،۲ امریکایي ډالره وه د هر یو کس په سر. په ۲۰۱۸ کال کې د HRP سټراټیژۍ په برابر، ۶۷۴،۷۵۵ وګړي په نښه شوي دي چې مالي غوښتنه یې ۵۵،۷ ملیونه امریکایي ډالرو ته راښکته شویده چه د هر ګټه اخیستونکي په سر لګښت ۸۲،۴ امریکایي ډالرو ته را کم شوی دی. دغه ۱۸،۲ سلنه کموالی د دووعمده عواملو له اړخه رامنځته شوی: د منځنۍ حادی خوار ځواکۍ (MAM ) د توکو لګښت راکم شوی، دا هر څه د دې په ترڅ کې دي چې د کلستر همکاران له نوي لږ لوړه بیه لرونکي ضمیمه خواړو توکو څخه کار اخلي، او د جدي حادي خوار ځواکۍ (SAM) هم د یوې پریکړې په ترڅ کې کموالی موندلی چې په هغې کې په لږ شمیر لرونکو ولسوالیو پام وي (لوړ لومړیتوب) ولې لوړه سلنه شمیر وګړو ته رسیدنه وشي له (SAM) سره په هغو ولایتونو کې چیرته چې د جګړې شدت ډیر وي.

# خوندیتوب

د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته

۱,۵ میلیونه

هدف شوې وګړي

۱,۱ میلیونه

غوښتنې (امریکایي ډالر)

٦٧ میلیونه

ګټه اخیستونکي وګړي (امریکایي ډالر)

۲۰۱۷: ۳۸
۲۰۱۸: ۵۲

داسې وړاندوینه شوې ده چې د هغه په ترڅ کې د خوندیتوب چاپیر یال به په افغانستان کې د ۲۰۱۸ کال په اوږدو کې نازک پاتې شي. د افغانستان او نادولتي وسلوالو ډلو تر منځ دوامدا ره جګړه په ټول افغانستان کې په لوړه کچه د کورني بې ځای کیدنې او چاودیدونکو توکو په ترڅ کې رامنځته شوي ککړتیا سبب شی، چې د نفوسو دکنټرول میکانیزم د ژوندي پاتي کیدلو په موخه محدود کړی. ملکې وګړي ډیری وخت په نښه شوي/ بې توپیره بریدونو په ترڅ کې چې د مسلح ځواکونو له خوا ترسره شوي موخه ګر ځول شوي.

په ورستیو کې بې ځایه شوي افغانان، د افغانستان خوندیتوب کلسټر (APC) د خوندیتوب اندیښنو ته به ځواب ووایي چې لاملونه یې: د ماینونو شتون، PPIEDs او جګړې څخه چاودیدنکي پاتي شوي توکي (ERWs) چې بې ځایه شوی وګړي د اغیز لاندې راولي (د ماین پاکۍ له لارې)؛ GBV (سره له هغه پیښو چې زیاته کچه یې راپور نه ده ورکړل شوی، ولې شتون لري)؛ کورنۍ جلا کیدنه، جبري ګمارنه، مزدور ماشومان او وخته ودونه (د CPiE له لارې)؛ او د ملکې اسنادو د کموالې له اړخه (د تذکرې په ګډون)، د شتمنیو له لاسه ورکول د جګړې په ترڅ کې، نا خوندی کاروبار او ټولنیزې شخړې د ځمکې او جایدادونو په سر (سر بیره د کور ځمکه او د ملکیت کاري ځواک [ HLP-TF] ).

همدا رنګه کورنۍ بې ځایه کیدنه په برابر ډول افغانستان ته له پاکستان او ایران څخه بیرته ستنیدونکي سره رامنځته کیږي، APC دا موخه لري چې د کډوالو غبر ګون پلان له همکارانو سره اړیکي ټینګي کړي. دا کار به ډاډ ورکړي چې غبر ګون په افغانستان کې په یوه ټولیز ډول پلان شوی دی، تر څو ډاډ ترلاسه شي چې مساویانه ملاتړ د اغیزمنې پر بنسټ چمتو شي، البته د کوربه ټولنو اړتیاوې په نظر کې نیولو سره.

د خوندیتوب نیغ په نیغه کار، د خوندیتوب څارنې، ارزونې، د سند پر بنسټ موکالت او د ټولنې پر بنسټ خوندیتوب میکانیزمونوپه ګډون د خوندیتوب د فعالیتونو پام وګر ځول شي. APC به له نورو کلسټرونو/ فعالیونو سره د غبر ګون په برخه کې مرسته اوکړي، په ګډو برخو ارزونې، غبر ګونونو کې د برخه اخیستنې له لارې، او د مدغم شوي خوندیتوب له لارې (د خوندیتوب پایلو تر لاسه کول د نا خوندیتوب فعالیتونو له لارې)، په ځانګړې ډول په سخت رسیدنې سیمو کې. له ځایي موسسو سره همغږي بې ځایه شوي وګړو ته د رسیدو په موخه کیلی ګڼل کیږي، چیري چې بشري مرسته تړل شوي ده. د ټولنې پر بنسټ کړنلاره د وګړو د اړتیاوو له منځه وړلو په برخه کې او د ټولنیزو اړیکو پیاوړي کولو په برخه کې او همدارنګه سولیز ګډ شتون په برخه کې مر کزي ټکی ګڼل کیږي.

APC له یوناما سره او نورو فعالینو سره کلکې اړیکي لري، د ملکیانو د خوندیتوب اړوند موضوعاتو(PoC) په برخه کې؛ دا نه یوازې چې PoC اړوند ګډې موکالت پوري تړل کیدی شي، بلکې همدارنګه د نوې خوندیتوب پیښې څارنې سیستم بشپړونې په شته سیستمونو (لکه د یوناما PoC څارنه، د ماین پاکۍ لپاره معلوماتي اداري سیستم [IMSMA]، څارنې او د راپور ورکونې میکانیزم [MRM ] او د جنډر پر بنسټ د تاوتریخوالې معلوماتي اداري سیستم [GBV IMS ]، اړوند هم نښلولی شي، چې موخه یې د بشپړ لید چمتو کول د افغانستان پر خوندی چاپیر یال ده، په تاییدولو دې هغه سیستمونو چې له پخوا نه شتون لري. د خوندیتوب د پیښو د څارنې سیستم(PIMS), په جوړولو سره، چې د خوندیتوب د ټولو فعالینو له لورې سند ته د ځواب په موخه کارول کیږي، او راپورته ځانګړي شوي پیښې د APC لپار لومړیتوب دی، لکه څنګه چې کلسټر د افغانستان لپاره د خوندیتوب ارزونې په ترسره کولو پروسه کې د PIMS پر بنسټ هم بوخت دی، او همدارنګه د کلسټر توکي په منظم ډول د موکالت او معلوماتو لپاره خپروي. بله را ولاړیدونکي د خوندیتوب اندیښنه د پولې اړوند سیمو کې د ملکي تلفاتو راپور ورکونه او خوندیتوب پیاړي کول دي. په ۲۰۱۷ کال کې، مړه شوي کډوال چې له ایران څخه بیرته ولیږدول شول له هغې ډلې څخه ۲۳ واړه او ۳۲٦

## په پلان کې د اړو وګړو د حالت، عمر او جنس په اړه جزئیات

| | د حالت له مخې | | | | | | | د جنسیت او عمر له مخې |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | جګړه کې ځپل شوي | د طبیعي پیښو اغیزمن | د پیښو څخه اغیزمن | بې اسناده راستنیدونکي | راستنیدونکي کډوال | د کوربه ټولنو غړي | پاکستاني کډوال | نارینه سلنه<br>ښځینه سلنه<br>ماشومان سلنه* |
| د ۲۰۱۸ کال لپاره اړینه مرسته | ۰,٤ میلیونه | ۰,٦ میلیونه | ۳۰ زره | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | - | ۰,۱ میلیونه | ۱۹ \| ۲۰ \| ٦۱٪ |
| په نښه شوي خلک | ۰,۳ میلیونه | ۰,۳ میلیونه | ۲۰ زره | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | - | ۰,۱ میلیونه | ۱۹ \| ۲۰ \| ٦۱٪ |
| مالي غوښتنې | ۵۹,٤ میلیونه | | | | | | ۷,۱ میلیونه | |

*ماشومان ( له اتلسو کلونو کم)، لویان ( ۱۸-۵۹ کلونو)، مشران ( له ۵۹ کلونو لوړ)

## اړیکې

استیفان ګرمن
د کلسترونو همغږي کونکی
ghermans@unhcr.org

کیدیر شیمسو
د معلوماتو د تنظیمولو افسر
mohameke@unhcr.org

ځوانان ول، لکه څنګه د APC موسسو غړو لخوا څارل شوي و. د ۵۰۰۰ نا بدرګه شوي کډوالو ماشومانو ډېری برخه په ۲۰۱۷ کال کې تېپي شوي دي. د PIMS په جوړلو سره، یو بل کلستر اړوند لومړیتوب د PoC په برخه کې د خوندیتوب پېښو تعقیبول دي او په ګډه موکالت کې د معلوماتو مدغم کول دي. APC دا اراده لري چې د نور خوندیتوب موضوعاتو باندې د کار کولو په موخه فوکس/تمرکز وکړي، د خوندیتوب مناسب چاپیریال رامنځته کولو په موخه په افغانستان کې د پام وړ وګړو ته ملاتړ وکړي. په دې کې، دوامداره حل لاره د پام وړ وګړو ته د بې ځای کېدنې اوږدمهاله دوره کې ( له چارواکو سره په مرسته د HLP-TF، DiREC، د دوامدره حل لارې کارې ډله او د لومړنۍ روغتیا موندنې فعالینو له لارې) او د کسانو قاچاق (په کړکیچ کې د قاچاق کارې ډله، چې د کډوالو نړیواله ادارې له لورې په مخ بیول کیږي، د افغانستان حکومت د لوړپوړې TiP کمیټې سره په مرسته).

APC به د خوندیتوب د پېښو څارنې او خطر څارنې ته کوم چې د پام وړ وګړي اغیزمن کوي نور هم دوام ورکړي، او همدا رنګه د مرستې فعالیتونو ته به دوام ورکړي. ځانګړې څارنه، چې د یوناما UNAMA او MRM همکارانو لخوا د ملکې وګړو اړوند تلفاتو په موخه په لاره اچول شوې وه، ملکې جوړښتونو ویجاړتوب او داسې نور PoC اړوند موضوعات به دوام پیدا کړي، او همدارنګه د جګړې له کبله بې ځایه کېدنې څارنه او د پولې په کچه دوګړو تیریدنې خوځښتونه هم دوام پیدا کړي. د ښکیلتیا د پام وړ برخه هغه مرسته ده چې له پاکستان او ایران څخه بیرته ستنیدونکو ته چمتو شوی ده. د دغه کټګورۍ د پام وړ وګړي به کوربه هیوادونو کې د لسیزو په موده اوسیدلې دي، او بشري مرستې ته راتګ پر مهال اړتیا لري، لکه هغه یو شمیر وګړی له ټولنو سره اړیکې په خپل اصلي ټاټوبې کې او په نورو حالاتو کې له لاسه ورکړي دي، هغوی د جګړې له کبله بې ځایه شوي. کومه بشري مرسته چې تر لاسه شوي ده، د خوندیتوب پایلو په برخه کې، د بیرته ستنیدونکو په اړه د منفي معرفي کولو میکانیزمونو د بیا یوځای کیدو او کمولو ملاتړ کولو به موخه جوړه شوې ده.

ماشومانو خوندیتوب اړوند فعالیتونه هم د APC لپاره د لومړیتوب برخه ده، چې د CPiE فرعي کلستر لخوا پر مخ بول کیږي. ښکیلتیا به د پیژندنې او کورنۍ موندنې او د نا بدرګه وړو او جلا شوې ماشومانو یو ځای کولو برخو په ګډون جوړه شی، د قضیو اداره او مراجع کونکي، ماشومانو ګمارنې پر وړاندې وکالت او غبرګون، ټپې شویو ماشومانو لپاره ملاتړ، د ټولنیز رواني ملاتړ ویش د اغیزمن شویو ماشومانو لپاره او پوهاوی رامنځته کول او د ماشومانو خوندیتوب خطر باندې بریالي کیدل- د ۱۰۵،۷۰۹ اړ ماشومان او د پام وړ نور کسان په ۲۰۱۸ کال کې په نښه کول. پیاوړی قضیی اداری سیسټم، دمراجعی له لارې او معیاري عملیاتي کړنلارې (SOPs) د نا بدرګه او جلا شویو ماشومانو لپاره هم لومړیتوبونه ګڼل کیږي. سر بیره پر دې، ماشومان د ملکې وګړو تلفاتو حیرانونکۍ ۸۰ سلنه جوړوې چې د ERW له کبله رامنځته شوي دي- چې دغه و روسته د ډګر په کچه ښکلیتیا څخه د ماشومانو د تلفاتو اصلي علت ګڼل کیږي.

د GBV د ښکیلتیا د نظر لاندې، چې د GBV فرعي کلستر له لورې پر مخ بول کیږي، د فعالیتونو لومړیتوب جوړونه کې له ټولنو سره ژورو اړیکو باندې فوکس کول په نظر کې نیول کیږی، د GBV غبرګون چوپړتیاوو په سر کې. د اوسنې غبرګون پلان د پلې کیدو په موده کې، د GBV فعالین به ټولنیزی حساسیت جوړونې ته د GBV موضوعاتو اړوند هم لومړیتوب ورکړي د ټولنیزو خبرو اترو له لارې GBV د خوندیتوب لپاره ، د ژوندې پاتې شوې کس ګڼو برخو ملاتړ په ویش سره د جنسیت پر بنسټ تاوتریخوالې GBV ژوندې پاتي شویو وګړو لپاره ( له نورو کلسټرونو په مرسته)، د هیواد په کچه د GBV ارزونې ترسره کولو سره او د روغتیایي کارکونکو ظرفیت جوړونه د GBV پیښو پر وړاندې د غبرګون په موخه هم لومړیتوب ورکړي. د پولې تیریدنې په کچه پیاوړی غبرګون به د GBV هغه مخ په زیاتیدو پیښو شمیر چې د مجردو میرمنو اړوند راپور ورکوي د منځه وړلو حل لارې وسنجوي، هغه هلکان او نجونې چې بندیانې او له ګاونډیو

هیوادونو څخه ډیپورټ یاهم ګرځول شوې دي. د ۹۰،۹۱۳ د پام وړ وګړي به د ۲۰۱۸ GBV غبرګون په موده کې په نښه کړل شي.

HLP-TF به حقوقي مرستې ته او د HLP لپاره مشوره ورکونې او حقوقي او ملکې اسنادو اړوند لومړیتوب ورکونې ته دوام ورکړي، دوامداره حل لارې موندنې د پیژندل شوې استوګنځایونو، معلومات او HLP حقونو پوهاوي پروګرامونه، د HLP حقونو روزنه د بې ځایه شوې وګړو لپاره او د HLP او LCD ظرفیت جوړونې مسئولینو ته هم حقوقی مرستې په موخه لومړیتوبونه ورکړي. د پام وړ وګړو ټول ټال شمیره چې د HLP لاس وهنو لپاره په د ۲۰۱۸ کال لپاره په نښه شوي دي ۸۰،۴۰۰ وګړو ته رسیږي.

ماین پاکي به د ثبت لوړو تلفاتو کچه چې له ماینونو، ERW او PPIEDs سره تړاو لري په راکمولو ته پام واړوی. د ۲۰۱۷ کال له جنورۍ څخه تر سپټمبر پورې، یوناما UNMAS دغه شمیره د اوسط په ډول ۱۸۱ قربانیان هره میاشت ثبت کړي دي چې ددغو آلاتو په ترڅ کې رامنځته شوې، چې دغه شمیره د ۲۰۱۲ کال څخه چې ۳۶ تلفات هره میاشت وه لوړه شوې ده، په لوړه کچه دا هر څه د بدلون او د اوسنې جګړې شدت له کبله رامنځته شوې دي. له دغو شمیرو سره د مخامخ کیدلو په موخه، ماین پاکۍ اداره به د ماین/ERW خطر پوهنې په برخه کې ښکیله شي، پاکول او له سیمې ERW لرې کولو، سربیره به لومړیتوب ورکړل شوې د ؛ د ماین/ERW اغیز؛ ځمکې پاکول، د ماین پاکۍ دهمغږۍ ریاست سره د پیاوړې همغږۍ په ترڅ کې. دا ځکه چې لومړیتوبونو ته ، منځنی بل نوم، پیښه، بې ځایه کیدنه او بیرته مدغم کیدنې معلوماتو ته د پاملرنې کولو په موخه ډاډ ترلاسه شي. سربیره پر دې، د خوندیتوب له اصولو سره سم، د ماین پاکۍ فعالیتونو کې د حقونو خبرتیا د معلولیت لرونکو وګړو لپاره شامل دي، په ګډون د هغو وګړو چې د ماین او ERW په چاودنه کې ټپې شوې دي، تر هغو ځانګړنو ته د ټولنې پر بنسټ او اقتصادي کچو پر بنسټ وده ورکړي. د پام وړ وګړو ټول ټال شمیره چې د ماین پاکۍ فعالینو لخوا په د ۲۰۱۸ کال لپاره په نښه شوې، شمیر یې ۱،۱ ملیون ګړو ته رسیږي.

د APC غبرګون اړوند فعالیتونه چې د لومړیتوب ورکړول شوو ۱،۱ ملیون کورنې بې ځایه شوي IDPs، په جګړه ځپل شوې نابې ځایه شوې وګړي، کوربه ټولنې او نور د پام وړ وګړي چې خوندیتوب ته اړتیا لري او د خوندیتوب خطرونو سره مخ دي په حل لاره کې مرسته وکړي.

## د لګښت پر تله

په ۲۰۱۷ کال HRP کې د پام وړ هر وګړې لګښت ۳۸،۰۷ امریکایي ډالر وه. په دغه کې نغدې مرسته د بیر ته ستنیدونکو هغه چې د MPC په څپر کې کې وویل شول وګړی شامل نه و، چه د کډوالو او غبرګون څپر کې کې به جلا توګه سره وړاندې شوې دي. په ۲۰۱۸ کال کې، APC دا غوښتنه وکړه چې هغه نغدي مرسته چه د ثبت شویو کډوال بیرته ستنیدونکو لپاره د MPC له څپر کې څخه دې د خوندیتوب کلسټر ته ولیږدول شي. سربیره په دې، ۱۰ ملیونه امریکایي ډالرو د راتګ څخه وروسته مرستې په بڼه د بې اسناده بیرته ستنیدونکو لپاره هم د APC په بودیجه کې وه. چې دا د نفر په سره لګښت د ۲۰۱۸ کال لپاره ۵۲،۳۲ امریکایي ډالر ته لوړوې؛ د نغدې مرستې پرته، د پام وړ کس په سر لګښت د خوندیتوب فعالیتونو لپاره په ۲۰۱۸ کال کې به۲۳،۲۳ امریکایي ډالر وی، کوم چې د ۲۰۱۷ کال بشري غبرګون پلان په پرتله ۱۴،۸۴ امریکایي ډالر لږ دی.

د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته

۱,۱ میلیونه

هدف شوي وګړي

۰,۸ میلیونه

غوښتني (امریکایي ډالر)

۲٤ میلیونه

ګټه اخیستونکي وګړي (امریکایي ډالر)

۲۰۱۷: ۳۱

۲۰۱۸: ۳٤

# اوبه پاکوالي او روغتیا پالنه

د WASH ژوند ژغورونکي فعالیتونه لکه د حفظ الصحي ویش او د اوبو کڅوړه او حفظ الصحي وده؛ د خوندي څښاک اوبو ته لاسرسی او د بیرنیز حالت تشنابونو ویش تر څو دآزادی تخلیې کچه کم ترکم حد ته ورسوو، لومړنی لومړیتوب ګڼل کیږي. د اوبو پر وخت چمتو کول به د شته اوبو مرکزونو د بیا رغوني او د عفوني ضد کولو، د اوبو نږدې سیسټم غځونه، د ځاه ګانو کښلو د اړتیا په وخت کې، او د اوبو ویش د ټانکرونو له لارې لاسته راوړل شي. د جنسیت پر بنسټ جلا شوي تشنابونه او حمامونه به دله ۷ څخه زیات غړي لرونکي کورنیو ولو ته چې په یو کور کې اوسیږي پر بنسټ لومړیتوب ورکړل شي. دوامداره حل لارې لکه د کوچنیو کچو جدي تغذیې حلونه او یا هم سولر پمپونو شبکې ته به د IDPs او بیرته ستنیدونکو د بشري پراختیایي اړیکو پیاوړي کولو سر بیره داوږد مهالو اړتیاوو چمتو کولو لپاره وده ورکړل شي.

د اغیزمن شویو وګړو لویه شکیلتیا به پلان جوړونه او پلي کولو کې د کارونکو کمیټو او ځایي اوبو پام نیونکو تاسیس یا جوړلو له لارې لاسته راشي. د WASH چوپړتیاوي د روغتیا او پوهني مرکزونو لپاره کوم چې بیړنیزو حالاتو کې اغیزمن شوي وګړو ته مرسته چمتو کوي وده ورکړل شي (کوم چې غځول شوي یا هم نوي جوړ شوي) تر څو له ډیر شوي فشار سره سمون پیدا کړي. د WASH چوپړتیاوو په برخو ویشل د چوپړتیاوو اغیز څخه ډاډ تر لاسه کولو برخه کې کوم چې د دغو مرکزونو له لارې وړاندې کیږي خورا مهم دي، او دا د پرمختللي کلسټر پر بنسټ همغږۍ له لارې تر سره کیدای شي. د ماشومانو او میرمنو دوستانه WASH چوپړتیاوې به د صفر ټکي کې وساتل شي او همدا رنګه د تورخم، سپن بولدک او نیمروز پولو ټرانزیټ مرکزونو کې. اغیزمن شوی بیرته ستنیدونکي د کورنۍ حفظ الصحي کڅوړو او حفظ الصحي چلند اړوند معلوماتو ورکولو سره ملاتړ شي.

خوندیتوب به د WASH بیړنیو لاس وهنو کې منځته راشي تر څو ډاډ تر لاسه شي چې نجوني، هلکان، میرمني، نارینه او معلولیت لرونکي وګړي چوپړتیاوو ته برابر لاس رسی لري. ځانګړي پاملرنه به ښځینه مشري لرونکي کورنه او هغه امیدواري میرمني لرونکي کورونو د روغتیا اړوند/بهداشتي او حفظ الصحي وسیلو ته لاس رسی پیدا کولو په موخه ورکړل شي. میرمنو او نجونو سره به د اوبو مرکزونو، تشنابونو او بیړنیو حمامونو د پیژندلوپه برخه کې مشوره وشي، تر څو د دوی خلوت، عزت او خوندیتوب اندیښنې به پام کې ونیول شي. د کلسټر همکاران به و هڅول شي چې لوړو اړتیا لرونکو سیمو ته ځان ورسوي د ستونزمني رسیدنې سیمو ته. دا کار به د ځایي همکارانو د ظرفیت لوړوني له لارې بیړني چمتوالي او غبرګون اړوند تر لاسه شي، د توکو چمتوالي همغږي په تولو لوړ خطر سره مخ ولایتونو کې، د WASH کلسټرسمبال شوی توکو ذخیرې به په دوامداره توګه وساتل شی همکاران به پرشا یا اوږو بار برخه کې له یو بل مرسته وکړي (بلیکې په توګه، نریوالي او ځایي موسسې). په شرایطو چمتو ملي کلسټر ګډه مشري به د کلي بیا

## په پلان کې د اړو وګړو د حالت، عمر او جنس په اړه جزئیات

| | د حالت له مخې: جګړه کې ځپل شوي | د طبیعي پیښو اغیزمن | د پیښو څخه اغیزمن | بي اسناده راستنیدونکي | راستنیدونکي کډوال | د کوربه ټولنو غړي | پاکستاني کډوال | د جنسیت او عمر له مخې: نارینه سلنه \| ښځینه سلنه \| ماشومان سلنه* |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| د ۲۰۱۸ کال لپاره اړینه مرسته | ۰,۳ میلیونه | - | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۲ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۲۱ \| ۲۱ \| ٪۵۸ |
| په نښه شوي خلک | ۰,۲ میلیونه | - | ۰,۱ میلیونه | ۰,۱ میلیونه | ۹۰ زره | ۰,۱ میلیونه | ۸۷ زره | ۲۱ \| ۲۱ \| ٪۵۸ |
| مالي غوښتني | ۲۱,۲ میلیونه | | | | | | ۲,۳ میلیونه | |

*ماشومان ( له اتلسو کلونو کم)، لویان ( ۱۸-۵۹ کلونو)، مشران ( له ۵۹ کلونو لوړ)

## اړیکې


راماش باسال

د کلسټرونو همغږي کونکی

rbhusal@unicef.org

داشد یحیی

د کلسټرونو همغږي کونکی

rashid.yahya@dacaar.org

رغونې پراختیا وزارت کې ځای پر ځای شي، چې په ترڅ کې په ګډون د فعاله ونډې اخیستنې د کلستر کاري پلان پلې کولو برخه کې به یې د کلستر فعالیتونه د وخت تیریدو سره پر مخ بوځي، او ولایتي ظرفیت لووړنه د دوریز بیړني پلان نوې کولو له لارې او ولایتي بیړنۍ همغږۍ میکانیزمونو کتنه هم شامله ده.

ملي ګډه مشري به د ICCT بشپړ غړي وي.

ټول ټال ۷۵۰،۰۰۰ اغیزمن شوي وګړي به په نښه یا موخه و ګرځول شي. په د غه شمیره کې ۵۳۵،۵۰۰ هغه وګړي برخه لري چې نیغ په نیغه بیړني حالاتو (د جګړې کورني بې ځایه شوې، بیرته ستنیدونکو او طبیعي پیښو کې اغیزمن شوي وګړي) په ترڅ کې د اغیز لاندې راغلي وي. د اټکل په توګه، ۱۲۷،۰۰۰کوربه ټولنې چې د کورنې بې ځایه شوي وګړو او بیرته ستنیدونکو لخوا اغیز لاندې راغلي سربیره د ۸۷،۵۰۰ پاکستاني کډوالو چې په خوست او پکتیکا ولایتونو کې ژوند کوي په ګډه مرستې تر لاسه کړي. کله چې کلستر له ستونزمنو اړتیاو سره مخ شي، په پایله کې به غبرګون په لوړه کچه هغه بې ځایه شویو وګړو پر لور سوق شي چې کمپونو په څیر جوړښتونو کې ژوند کوي تر څو د اوبو په ترڅ کې رامنځته کیدونکي ناروغیو څخه مخنیوی وشي.

**د لګښت پرتله**

د WASH یا اوبو او روغتیا پالنې کلستر ۲۳،۵ ملیونه امریکایي ډالر ته اړتیا لري، چې ۳۱،۳۵ امریکایي ډالر د هر ګټه اخیستونکې په سر سنجول شوي دي. د ۲۰۱۸ کال لپاره د پانګې لګښت (۳۱،۳۰ امریکایي ډالر) په لړه اندازه په پرتله د ۲۰۱۷ کال (۳۴،۱۰ امریکایي ډالر ) ټیټ دی، چې ټول ټال ۱،۰۷ ملیونه وګړي په نښه شوی و اټکل شوي د ۳٦،۵ ملیونه امریکایي ډالرو بودیجې اړوند. د پانګې پر بنسټ د ۲۰۱۷ کال لپاره د بودیجې لوړ لګښت علت د UNHCR لخوا د کډوالو او بیرته ستنیدونکو لپاره سولې رامنځته کولو په موخه د ٦۵۰،۰۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت د پروژو شاملیدل و. دغه رقم په بیړنۍ توګه د بیړنیزو اړتیاوو په پرتله لوړ وه. که چیرې موږ دغه مبلغ را کم کړو، نو د پانګې پر بنسټ لګښت د اوسني کال HRP لپاره د WASH د مرستې په موخه ۲۸،۰۵ امریکایي ډالرو ته ښکته شي. دا په دې معنا چې د WASH مرستې چمتو کولو لګښت به ۳،۳۰ امریکایي ډالر د هر ګټه اخیستونکې په سر د ۲۰۱۸ کال لپاره زیاتوالی موندلی وې. د دغه زیاتوالې اصلې علت د مرکزونو د لوړ شمیر چې په ۲۰۱۸ کل کې په نښه شول (۲٦۵ په پرتله دې ۱۰۵ په ۲۰۱۷ کال کې) او د بازار په بیوو کې د WASH اړوند توکو او چوپړتیا کې انفلیشن (په بازار کې د پیسو زیاتوالی رامنځته کیدل) له کبله دي.

د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته

۰,٦ میلیونه

هدف شوي وګړي

۰,٤ میلیونه

غوښتنې (امریکایي ډالر)

۳۷ میلیونه

ګټه اخیستونکي وګړي (امریکایي ډالر)

۲۰۱۷: ۳۸
۲۰۱۸: ۴۰

# د ګڼو موخو نغدي مرسته

په ۲۰۱۸ کال کې،همکاران به د MPC کارونې ته دوام ورکړي تر څو شوک لیدونکي وګړو سره د هغوی د بنسټیزو اړتیاوو پوره کولو په برخه کې د یوې داسې کړنلارې په کارولو سره چې د هغوی وقار او حیثیت نور هم لوړ کړي مرسته وکړي. همدا رنګه د MPC دچمتو شوي مرستې دقیق ارزښت دهمکارانو تر منځ او ګټه اخیستونکو به کټګورۍ کې نه دی ویل شوی، د همکارانو ډیرې برخه به SMEB له کړنلارې څخه کار اخلي تر څو د هغوئ پروګرام ته لارښونه وکړي، د نغدو پیسو او اسناوو کاري ډلو (CVWG) سره په همغږۍ سره او د کلستر معیارونو اړوند کار وکړي.

له پاکستان او ایران څخه بې اسناده راستنیدونکې به له راتګ څخه وروسته مرستو لخوا په پوله کې ملاتړ شي، چې په دغه ملاتړ کې به د هر کور په سر ۱۰۰ امریکایي ډالر د NFIs لپاره او ۱۷۵-۳۵۰ امریکایي ډالر لیږد/ ترانسپورټ لپاره چې د لیږد ځای څخه د دوی تر موخې ځای پورې شامل دي. په ځانګړې ډول اغیزمنونکې وګړې له ځانګړی خوندیتوب له اندیښنو سره مخ دي، لکه نا بدرګه کډوال ماشومان، مجرده ښځینه او هغه چې له بیړنې روغتیایي حالت سره مخ دي، دوی به هم اضافي نغده مرستې چې ۴۰۵ امریکایي ډالره ده تر لاسه کړي، تر څو بیړنې پناهځای، روغتیا اړوند مرسته او تولنیزه رواني مرسته ځانته چمتو کړي، د نورو اړتیاوو تر څنګ. د ۲۰۱۷ کال په خلاف، که څه هم، د UNHCR بیرته ستنیدو مرسته د ثبت شویو کډوالو لپاره د MPC څېرکی تول تال ارزښت ۵۹ سلنه جوړوله، ددغه ډلې لپاره غوښتنې اوس د خوندیتوب په کلستر کې ځای پر ځای کیږي. نو څکه د MPC غوښتنې په ۲۰۱۸ کال کې د ۲۰۱۷ کال په پرتله ۶۰ سلنه کمې دي. نغدو پیسو لیږد- ددواړه سکتورو اړوند او ګڼو موخو- په افغانستان کې د بیړنیز غبرګون لپاره مرکزیت پاتې دی، او دغه ډول د اوسنې HRP لومړنې برخې جوړوي. لکه څنګه چې جګړه مخ په زیاتیدو ده، د MPC ډیر شوې کارونه د مناسب او راښکونکې انډول یې د اړوندې مرستې په لیږد او ذخیره کولو برخو کې راوستی، همکارانو ته به دا اجازه ورکړي چې لوجستیکي خنډونو څخه چې له دوی سره تړلې دي مخه ونیسي، او همدا رنګه د وګړو څخه د شوک لیدنې څخه ورسته بیړنی ملاتړ به په اغیزناکه توګه ترسره کړي. له پخوا په ۲۰۱۷ کال کې، پنځه جلا پیښې ثبت شوي دي، چې د هغو په ترڅ کې خواړو رسونې مرسته په ټولو څلور ولایتونو کې د نا امنۍ له پلوه چې په زرګونو وګړې یې تر اغیز لاندې راوستي یاهم ړنګ کیچنه او یا هم ځنډول شوي ده. د لاس رسی خنډونو په اړوند هم لړه راپور ورکونه، هغو خلکو چې یا مرستې نه دي ورکړل شوي یا یې هم پر خپل وخت نه دي تر لاسه کړي ریښتینې شمیر به یې ډیر لوړ وي.

## همغږی

د ۲۰۱۷ کال په څیر، همکاران به د CVWG له لارې همغږۍ ته دوام ورکړي، چې فوکس به یې په عملیاتي همغږۍ، تخنیکي ستونزو حل لاره او ښو کړنلارو شریکولو باندې وي. CVWG به دهغو را ټول شویو معلوماتو ارزونه وکړي کوم چې د ګډ راپور ورکونې او PDM توکو په اوږدو کې چې په ۲۰۱۷ کال کې پلې شوي، تر څو د همغږۍ او پروګرام کیفیت ته وده ورکړي. دغه ډله به په تخنیکي لارښونو د نغدو پیسو کارونه د نویو فعالیتو لپاره، باندې توجه وکړي، لکه د کرایې لپاره نغدې پیسې (د ES-NFI کلستر سره په همغږۍ) او نغدې پیسې د معیشت پروګرامونو لپاره.

## د لګښت پرتله

د ترانسپورت منځنی لګښت/مبلغ د هر ګټه اخیستونکې لپاره په ټولو MPC پروګرامونو کې په ۲۰۱۷ کال کې ۳۸ امریکایي ډالر وه، او په ۲۰۱۸ کال کې به ۴۰ امریکایي ډالر وي. په دغه کې یوازې هغه ریښتینې نغدې پیسې چې ګټه اخیستونکو ته لیږد ول شوي په اړه ویل شوي دي، د موسسو د پلي کولو او ملاتړ لګښتونه په کې ګډونوال/شامل نه دي. دغه شمیرې یوازې د MPC پروګرامونه شکاره کوي، نه د سکتور اړوند پروګرامونه (د بیلګې په توګه، د خواړو نغدې پیسې یا هم د ژمي پروګرامونو نغدې پیسې)، یا هم د UNHCR بیرته ستنیدنې او ترانسپورټ مرستې شکاره کوي. که څه هم، په ټول ټال ۱،۹۵ میلیونه امریکایي ډالر د IOM یا د ګډوالې نړیوالې موسسې لخوا چمتو کیږي تر څو ۱۸۰،۰۰۰ بې اسناده راستنیدونکو د NFI اړتیاوې پوره کړي، د MPC د مرستو برخې په توګه.

## اړیکې

انا لا
د CVWG همکار
د کډوالو لپاره د ناروې د پلاوې کمیټه
anna.law@nrc.no

توما دورسینا
د بشري چارو مسول
د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د چارو د همغږۍ اداره (OCHA)
dursina@un.org

د ۲۰۱۸ کال لپاره غوښتل شوي مرسته

۰,۱ میلیونه

هدف شوي وګړي

۰,۱ میلیونه

غوښتنې (امریکایي ډالر)

۲۳ میلیونه

# د کډوالو څپرکی

د اټکل له مخې د پکتیکا او خوست ولایتونو په لسو ولسوالیو کې د UNHCR اوبشري مرستندویانو لخوا د د شمالي وزیرستان د ۱۰۰۰۰۰ کډوالو ملاتړ جریان لري. د UNHCR لخوا تر اوسه پورې له ۸۷۰۰۰ څخه ډیر ثبت شوي دي. د ۱٦۰۴۴ تنو په شاوخوا کې د خوست ولایت د ګلان په کمپ کې اوسیږي، چې په افغانستان کې د کډوالویوازینی کمپ دی.

د پکتیکا په ولایت کې، لاسرسی بیا هم د نا امنې له پلوه مهم خنډ ګڼل کیږي ، لکه څنګه چې په دغه ولایت کې قلمرو یوه لویه برخه د نا دولتې وسلوالو ډلو لخوا کنټرول او یا هم پکی جګړه کیږي، د برمل او ارګون ولسوالیو په ګډون کوم چې ۳٦،۰۰۰ ثبت شوې کډوالو کوربه توب کوي. په خوست او پکتیکا کې د نا دولتي وسلوالو ډلو او دولت پلوه ځواکونو تر منځ جګړه ، په شمالي وزیرستان کې روان پوځې عملیاتونه، او د پولې له بلي غاړي د توغندیو بریدونه ، د نویو او بیا ځلې بې ځای کیدنې په رامنځته کیدو کې مرسته کړي. د شمالي وزیرستان ډیری کډوال یا هم له افغان خپلوانو سره ، یا په خیمو کې چې د UNHCR لخوا ورکړل شوې دي، او یا هم په خپله جوړ کړي پناه ځای کې د ځمکو مالکینو او د ولایتي چارواکو په رضایت سره اوسیږي. د شمالي وزیرستان او کوربه ټولنو کډوال زیاتره قبیله وې یووالی یا اړیکې لري، او دوی د جبرې بې ځای کیدنې ګډې تجربې لري، او د میلمه پالنې فرهنګي کلتور رسم او رواج د پښتنو قبیلو تر منځ، په عمومي توګه یوه ټولنیزه پیاوړې اړیکه او یووالی شتون لري.

په ۲۰۱۸ کال کې، په خپله خوښه پاکستان ته بیرته ستنیدونکی کډوال د هغه څه په پرتله چه ګمان کیږی، کم وی، سربیره د ۲۰۱۷ کال په خپله خوښه لږه شمیره بیرته ستانه شوي . په شمالي وزیرستان کې د کډوالوخپلو اصلي ټاټوبو ته لارسری ، د وطن کارت تر لاسه کولو پورې چې د پاکستاني چارواکو لخوا ویشل کیږي تړلی ده ، چې له ټولو بیرته ستنیدونکو غوښتل کیږي چې لومړی باید راجستر شي او د بنو ولسوالې چې د خیبر پښتونخوا پورې تړلې ده ، د کورنې بې ځایه شویو( IDP ) کمپ کې د کتنې (سکرینینګ)څخه تیر شي.

د کډوالو ډیری برخه، د مناسب اقدام په ترڅ کې نه غواړې چې بیرته د IDP حالت ته ستانه شي، په شمالي وزیرستان کې د روان عملیات ، د بنسټیزو چوپړ تیاوو کموالی، اوپه میرانشاه او شاوخوا کلیو کې د کورونو او ټولنیزو جوړښتونود ویجاړیدلو له امله حالات داسې نه دي چې د یو خوندي او معتبره بیرته ستنیدنې لپاره مناسب وې. سر بیره پر دې شمال وزیرستان ته بیرته ستنیدل د اوسنیو ننګونو او د بشر فعالانو لخوا د عملیاتي شتون د نشتوالي په رڼا کې ممکنه ندي.

د شمالي وزیرستاو کډوالو په کوم دریمګړې هیواد کې استوګنې وړاندیز نده شوی UNHCR د افغانستان له حکومت څخه د ټولنې د خوندیتوب د غبر ګون پر بنسټ د

## په پلان کې د اړو وګړو د حالت، عمر او جنس په اړه جزئیات

| *ماشومان ( له اتلسوکلونو کم)، لویان ( ۱۸-۵۹ کلونو)، مشران ( له ۵۹ کلونولوړ)<br>**ټولټال ارقام د کالم د ټولټالپه معنا نه ده، ځکهچېکیدای شی یو ډول وګړي څوځله شکاره شي. | کډوال<br>ټول ټال | د نارینوو سلنه<br>دښځوو سلنه<br>د ماشومانو سلنه | ډالر<br>مالي‌غوښتنې |
|---|---|---|---|
| پهبیړنې حالت کېزدکړه | ۲زره | ٪۱۰۰ \| ۰ \| ۰ | ۰,۳میلیونه |
| بیړنیسرپناه او نا خوراکیتوکي | ۳۵زره | ٪۷۱ \| ۱۱ \| ۱۸ | ٦,۵میلیونه |
| د خواړه او کرهنېخوندیتوب | ۳۷زره | ٪۷۱ \| ۱۱ \| ۱۸ | ۵,٤میلیونه |
| روغتیا | ٤٦زره | ٪۷۱ \| ۱۱ \| ۱۸ | ۱میلیونه |
| تغذیه | ۲۳زره | ٪٦۹ \| ۳۱ \| ۰ | ۰,٦میلیونه |
| ملاتړ | ۰,۱میلیونه | ٪۷۱ \| ۱۱ \| ۱۸ | ۷,۱میلیونه |
| اوبه او حفظ الصحه | ۸۸زره | ٪۷۱ \| ۱۱ \| ۱۸ | ۲,۳میلیونه |
| ټولټال | ۰,۱میلیونه** | ٪۷۱ \| ۱۱ \| ۱۸ | ۲۳,۱میلیونه |

## تماس

فاتحه عبدالله
کمشنری عالی سازمان ملل برای پناهنده گان
abdallaf@unhcr.org

کډوالو او همدارنګه د هغو افغانانو چې د جګړې، فقر او بې ځای کیدنې له اله اغیزمن شوي، د بشري اړتیاوو په موخه دیوې برخې په توګه ملاتړ کوي،.
UNHCR د افغانستان حکومت د ټولنې پر بنسټ د پناه غوښتونکو بشري اړتیاوو ته ځواب وواي او همداراز د جګړې، غربت او بې ځایه کیدو له امله اغیزمن افغان وګړي.

د افغانستان حکومت د ۱۹۵۱ کنوانسیون او د ۱۹٦۷ پرتوکول ومانه چې ۲۰۰۵ کال چې د کډوالو په وضعیت پورې اړه لري. ، مګر تر اوسه پورې يې د نړيوالو ژمنې پلي کولو لپاره د ملي پناه غوښتنې کاري چوکاټ ندی نافذ کړی ولې تر اوسه يې دملي پناه غوښتنې کاری چوکاټ نه دی نافذ کړی کړی چې تر څو خپلې نړیوالې ژمنې عملي کړي. د همدې لپاره، کډوال حقوقي خوندیتوب نه لري او ډیری برخه، په ځانګړې ډول میرمنې او ځوانان، انفرادي اسناد نه لري.

UNHCR به د ۲۰۱۸ کال لپاره د یو ملي کډوالی قانون رامنځته کولو اړوند وکالت ته دوام ورکړي، د کاري ځواک د غړي په توګه چې د کډوالو او بیرته ستنیدونکو وزارت MoRR لخوا په مخ بوتلل کیږي، او همدارنګه له نورو دولتي اړوند وزارتونو او ملي امنیتي اداراتو څخه جوړ دی. UNHCR او MoRR به د تخنیکي ورکشاپونو رامنځته کولو ته دوام ورکړي چې د کډوالی قانون او د نړیوال خوندیتوب اصول له دولتي چارواکو سره او مدني ټولنې سره شریک کړی تر څو د کډوالو د حقونو په اړه عام پوهاوی رامنځته کړي او ملي ظرفیت ته وده ورکړي. که د کډوالی قانون تصویب نشي نو UNHCR به په ۲۰۱۸ کال کې د نوم لیکنې او تایید په یو بل تمرین فکر وکړي. ، پداسې حال کې چې د حکومت تر مشرۍ لاندې د نوم لیکنې پروګرام او د کډوالی د حالت د پرېکړې پروسیجر پلي کولو ملا تړ به کوي او تخنیکي مرسته به ورسره کوي.

د کډوالو ماشومانو لپاره د زېږېدنې ثبت کولو نشتوالی په افغانستان کې د پام وړ محافظتي اندیښنه ده چه له امله يې، بې اسناده ماشومان د بې ثباتۍ د لوړې کچې اوږد مهاله زیانونو سره مخ کیږي . په ۲۰۱۸ کې به روغتیایي فعالان کډوالو میندو ته د زیږېدنې د عامه پوهاوي له لارې د خطر کمولو لپاره کار ورکړي . په دې توګه به د نویو زیږدلې ماشومانو UNHCR سره ، په راتلونکې کې په افغانستان کې له دولتي چارواکو سره، او په مهمه توګه د دوی په اصلي ټاټوبي کې د ثبت اسانتیا برابره کړي .

پداسې حال کې چې د بې ځایه کیدو بیرنۍ مرحله په اغیزمن ډول پای ته رسیدلې، ولې بیا هم کډوال د زدکړې، WASH، واکسینونو، روغتیایي خدمتونو، د خوړو مصئونیت او سرپناه په ګډون، اساسي خدماتو ته د لاسرسي لپاره په بشري مرستو تکیه کوي..

په ځینو سیمو کې د لاسرسي د نشتوالی، د ټولګیو محدوده ظرفیت، د کافي ښوونکو نشتوالی، او همداراز ټولنیزو او کلتوري لاملونو له امله د راجستر شویو ۴۵۰۰۰ کډوالو ماشوما نو، چې ښونځي ته د تلو عمر لری، یوازې ۱۲ سلنه يې ښوونځي ته ځي . نجونې په ځانګړې ډول د هلکانو په پرتله زدکړې ته لږ لاس رسی لري، په ځانګړې ډول منځنی ښونځي ته . د کډوالو ماشومانو یو نسل د زدکړې د تل پاتې خنډ سره مخ دی، کوم چې د دوی ښه والی ګواښوي، شخصي پر مختګ او د راتلونکي امکانات يې هم له خطر سره مخ کوي.

د حکومت محدوده ظرفیت ته په کتو سره، تر څو کډوال ماشومان په عامه پوهنیز سیستم کې مدغم کړي، بشري ټولنه به په خوست او پکتیکا کې د پوهنې وزرات او ریاستونو سره په مشوره، لومړني او منځنی ښونځي ته د کډوالو نجونو او هلکانو د لاسرسي ملاتړ وکړي. په پکتیکا ولایت کې ۳۳۹ شاوخوا کې دولتي ښونځي شتون لري، خو د برمل په ولسوالی کې، چې ډیر ثبت شوي کډوال پکې میشت دي ، ډیری ښوونځي د ناامنی له کبله تړلي دي.

کلتوري خنډونه د جندر پر بنسټ د مصؤنیت د خطرونود پیژندنې مخه نیسي او اغیزناک لاسرسی، تر څو د GBV مخه ونیسي اویا هم ورته غبرګون ښکاره کړي، اغیزمنه وي. فرهنګي خنډونه د جنډراړوند خوندیتوب د خطرونود پیژندنې مخنیوی کوي . په کډوالو ټولنو کې له وخت نه مخکې او جبري ودونه او همدا رنګه نور زیامن دودونه عام دي . د میرمنو او نجونو پر وړاندې د تش په نوم «ناموسي وژنو» ، راپور ورکړل شوی دی، چې د هغو په اړه داسې تصور کیږي چې د نارینه ټولنیزو ارزښتونه څخه يې سرغړونه کړې ده. بشري روغتیایي موسسې به تر ټولو مناسبو فعالانو په توګه پاتې شي تر څو GBV و پیژني او غبرګون ورته ښکار کړي، او د ښځو چارو وزارت او ولایتی ریاستونو سره په همغږۍ کې د کډوالو په ټولنه کې پوهاوی ډیر کړي.

ډیری کورنۍ په خیمو کې ژوند کوي کومې چې باید بدلې شي، یا هم په خپله جوړی کړل شوې ناکافي سرپناوې ، کومې به چې په ۲۰۱۸ کال کې بیا رغونې ته اړتیا ولري. د ژمې میاشتې د کوچنیانو اوزړو وګړو په منځ کې د مخنوی وړ مړینې لوی خطر رامنځته کوي، او د معیشت فرصتونه کمه کوي، کوم چې بشري مرستو (نغدو پیسواوجنس) ته اړتیا لري. UNHCR او همکاران به مشخصو اړتیا لرونکو PSN وګړو سره له پیژندو وروسته مرسته وکړي، هغه وګړي چې سخت ملاتړ او ژوند ژغورنکي خوندیتوب ته اړتیا لري.

د UNHCR او د عامې روغتیا وزارت ترمنځ د تفاهم لیک سره سره ، چې اصولا کډوالوته لاسرسی چمتو کوي تر څو په دولتي روغتونوکې درملنه تر لاسه کړي، په خوست او پکتیکا کې د عامې روغتیا ظرفیت کم او اسانتیاوې محدودې دي ، نو له همدې کبله به بشري فعالین د کډوالو او کوربه ټولنو د د زیږون د اسانتاوو په ګډون، روغتیایي اړتیاوو، ته د ګرځنده او جامد کلینیکونو له لارې ادامه ورکړي.

نړیوال خوراکي پروګرام به، د UNHCR او نورو شریکانو سره په همغږۍ ، د خوراکي توکو د خوندیتوب او معیشت نوښتونو ته هم اړتیا ولري، چې د یوې ارزونې په ترڅ کې د نارینه او ښځینه ګډونکوکډوالو لخوا د دوی د لومړنیواړتیاوو په توګه په ګوته کړې دي. کډوالو کې د عاید اصلي سرچینه ناکرهنیزه د ورځې پر بنسټ د مز دوري اجوره ده. محدود عاید راوړونکي فعالیتونه د ځان بسیا کولو لپاره د کډوالو ظرفیت کمزوری کوي، او د ماشوم کار او په کم عمر کې / جبري ودونو په شمول په منفي اغیزو میکانیزم باندې د هغوی تکیه ډیروي.

اړینو خدماتو او په ځانګړې توګه روغتیایي او ښوونې او روزنې ته د لاس رسي بډایا کولو سره سره د ټولنې په کچه ګامونه اخیستل، لکه د معیشت نوښتونه او د حکومت ظرفیت لوړول، تر څو د کډوالی د مصؤنیت د مسؤلیتونو تدریجي انتقال وړتیا پیدا کړي کوم ته به چې د ۲۰۱۸ د بشري غبرګون په پلان کې لومړیتوب ورکړل شي

د پاکستاني کډوالو غبرګون همغږۍ کولو سربیره به ، UNHCR د ملګرو ملتونو، د افغانستان حکومت او د پناه غوښتونکواړوند هیوادونو سره په نږدې همکارې، له ګاونډې هیوادو څخه په خپله خوښه افغان کډوالود رضاکارانه ستنیدو آسانیتاوې رامنځته او همغږي کړي. د بیرته ستنیدنې او بې ځایه کیدنې په سیمو، د بیرته ستنیدو مرسته او د ټولنې پر بنسټ د خوندیتوب پروژې کې پلي کول به ، د دغو اغیزمنو بیرته ستنیدونکو اړتیاووته د غبرګون مرکزیت ګڼل کیږي.

# دریمه برخه: ضمیمې

د بشري غبرگون پلان بشپړ منطقي چوکاټ یا د معلوماتو لنډیز

د سکتور پر بنسټ گډون والې موسسې

د پلان جوړنې ارقام

لنډیزونه

حوالې

که چیرې..... په سکتور کې ځواب وینه ونشو کړلې، نو؟

د مرستو د ورکړې لارښود

# یادښت

## ستراتیژیک موخه-۱: د ډېرى اړتیاوو په سیمو کې د ژوند ژغورل

| ۱,۱ | روغتیا | شاخصونه | اوسنی حالت | موخه | د تاییدولو وسیلې |
|---|---|---|---|---|---|
| پایلې | • هغه خلک چې د جګړې له امله د ټپونو له کبله ژوبل شوي دي په خپل ولایت کې چیرې چې ټپي شوی د ژوند ژغورنې درملنه ترلاسه کوي یا په موجوده روغتیایي مرکزونو کې او یا په نوی د لومړنیو مرستو کلینکونو کې | • قربانیان د دې توان لري چې د ژوند ژغورنې ملاتړ ترلاسه کړي<br>• د هغه قربانیانو تناسب چې د هغه ولایت څخه بهر سفر کوي کم شوی دی | • .<br>• . | • ۴۵ سلنه زیاتوالی په ټپي پېښوکې چې په ولایتونو کې ورسره مرسته شوی دی راغلی چیرته چې دوی ټپي شوي دي<br>• ۲۰ سلنه د هغه قربانیانو په شمیر کې کموالی راغلی کوم چې سفر کوي | • د FATP عاجل ثبت شوي<br>• د روغتیا کلستر راپور ورکول |
| لاسته راوړنې output | • په ۲۴ ساعتو کې ژوبل شوي درملنه تر لاسه کړي | • په هغو ولایتونو کې د ټپیانو شمیره چیرته چې ټپي شوي دي.<br>• د ټپیانو شمیره کوم چې په لومړنیو مرستو کلینکونو کې درملنه یې شوې<br>• د جراحي نرسانو شمیر چې د ټپي شوي پیښې درملنې لپاره موجود دي<br>• د نویو لومړنیو مرستو کلینیکونه شمیر چې په لوړه کچه خطر والیتونو کې تاسیس شوي دي | • ۵۵,۰۰۰<br>• ٦۹,۰۰۰<br>• ۱۵۰<br>• ۲۰ | • ۸۰,۰۰۰<br>• ٦۹,۰۰۰<br>• ۳۰۰<br>• ٦۰ | • د روغتیا کلستر راپور ورکول |
| فعالیتونه | ۱. په متضرر شویو سیمو کې د FATPs او TCU تاسیس کول.<br>۲. د ماینونو د قربانیانو په شمول د ټپي شوي ناروغانو ته د بیا رغونې پاملرنې چمتو کول.<br>۳. د شخړو له امله د اغیزمنو خلکو لپاره رواني ټولنیز ملاتړ چمتو کول. | | | | |

| ۱,۲ | تغذیه | شاخصونه | اوسنی حالت | موخه | د تاییدولو وسیلې |
|---|---|---|---|---|---|
| پایلې | • د داخلي بې ځایه شویو کسانو، بیرته راستانه شویو، کډوالې اوداخلي بې ځایه شوي او د شخړو اغیزمن ماشومان چې عمر یې د ۵ کالو لاندې وی په GAM کې کمښت راغلی او هغه امیدواری او شیدې ورکوونکو میرمنې چې د حاد خوارځواکۍ څخه رنځیږی | • د داخلي بېځایه شوي ، بیرته راستانه شوي، کډوال ماشومان شمیره چې د پنځه کالو څخه کم عمر لري او په SAM اخته وی درمل شوي وي<br>• د داخلي بېځایه شوي ، بیرته راستانه شوي، کډوال ماشومان شمیره چې د پنځه کالو څخه کم عمر لري او په MAM اخته وی درمل شوي وي | • ۸۵ سلنه شدید حاد خوارځواکې ۱۹۹۰۱۸ منځنی حاد خوارځواکي | • ۲۰۹۰۰۰ شدید حاد خوارځواکي<br>• ۱۳۷۰۴۰ امیندواری ښځې او شیدیورکونکي | • IMAM میاشتنی راپور<br>• د IMAM میاشتنی راپورونه |
| لاسته راوړنې output | • د ٦ تر ۵۹ میاشتو پورې هلکانو او انجونو چې SAM او MAM نه رنځیږي زیاتوالي راغلی چې په معالجوي تغذیه پروګرامونو کې شامل شوي | • د هغه هلکانو او نجونو شمیره چې عمر یې د ٦ تر ۵۹ میاشتو پورې عمر ولري او جدي او متوسط خوارځواکي باندی اخته وي په معالجوي تغذیه پروګرامونو کې شامل شوي<br>• د PLW شمیره چې جدي خوارځواکي باندی اخته وی او په هدف شوي تغذیه پروګرام کې شامل وي<br>• د BPHS کلینیکونو شمیره چې د RUTF په واسطه په ورستو ۱۲ میاشتو کې اکمال شوي | • ۲۰۱۴۷۰ شدید حاد خوارځواکي<br>• ۲۱٦۲ امیندواری ښځې<br>• ۹۷۲ کلینیکونه د معالجوی خوراکاکي توکو په واسطه اکمال شوي<br>• ۹۵ سلنه ۱۸۸۱۰۰ شدید حاد خوارځواکي<br>• ۷۵ سلنه ۱۷۹۷۵٦ منځنی حاد خوارځواکي<br>• ۲۳۹٦۷۵منځنی حاد خوارځواکي | • ۲۰۹۰۰۰ شدید حاد خوارځواکي<br>• ۱۳۷۰۴۰ امیندواری ښځې او شیدیورکونکي<br>• ۹۷۲ کلینیکونه د معالجوی خوراکي توکو په واسطه اکمال شوي | • د IMAM میاشتنی راپورونه<br>• ګزارش نقاط سرخ عاجل<br>• د یونیسیف د اکمالاتي چینل مدیریت راپور |
